# پوهنه

د ننګرهار پوهنتون علمي، څېړنیزه درې میاشتنۍ خپرونه
۱۳۹۹ ل کال لومړۍ ګڼه، وری ـ غبرګولی، پرله‌پسې۷۲مه ګڼه

## په دې ګڼه کې لولئ:

- وبايي ناروغۍ د اسلامي شريعت له نظره
- له کورونا سره تړلو ګنو روغتيايي ستونزو مهار او مخنيوی
- کورونا ويروس (Covid-19 نوعه ) ناروغي د ...
- پر اقتصاد د کورونا ويروس د خپرېدو منفي اغېزې
- په افغانستان کې د کورونا ويروسونه او د ...
- په افغانستان کې د کويډ نولس (COVID-19) ناروغۍ بشري ...

او نور ...




۷۲

**بسم الله الرحمن الرحیم**

# پوهه

د ننگرهار پوهنتون علمي، څېړنیزه درې میاشتنۍ خپرونه
۱۳۹۹ ل کال لومړۍ ګڼه، وری - غبرګولی پرله‌پسې ۷۲ مه ګڼه

# د پوهې پیغام

## الهي لارښوونې

**يَرْفَعِ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنْكُمْ وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ** ( المجادله: ۱۱)

له تاسې نه چې کوم کسان ایمان لرونکي دي او کومو کسانو ته چې علم ور کړ شوی دی، الله جل‌جلاله به هغو ته لوړې درجې په برخه کړي. (تفهیم القران)

## نبوي ملغلرې

**عَنْ عُثْمَانَ رَضِي اللّهم عَنْهم عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّهم عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ خَيْرُكُمْ مَنْ تَعَلَّمَ الْقُرْآنَ وَعَلَّمَهُ** (بخاري و مسلم)

له عثمان رضي‌الله‌عنه څخه روایت دی، چې رسول الله صلی‌الله‌علیه‌وسلم فرمایي: په تاسو کې غوره هغه څوک، چې قرآن زده کړي او نورو ته يې وښيي.

# پوهه

د تاسیس کال: ۱۳٦٦ ل

د ننگرهار پوهنتون علمي، څېړنیزه درې میاشتنۍ خپرونه

۱۳۹۹ ل کال لومړۍ گڼه، ورى ـ غبرگولي پرله‌پسې ۷۲ مه گڼه



**د امتیاز خاوند**

**ننگرهار پوهنتون**

**مسؤل مدیر**

**پوهنیار شفیع الله حبیب**

**د تصحیح مدیر**

**محمد سلیم شینواری**

**د توزیع مدیر**

**عطا الله نوري**

## کتنپلاوی

- پوهاند انجنیر محمد عیسی تنها / انجنیري پوهنځی
- پوهاند محمد بشیر دودیال / اقتصاد پوهنځی
- پوهاند دکتور مصطفی نیازی/حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی
- پوهنوال نصیر احمد محب / شرعیاتو پوهنځی
- پوهنوال دکتور عبدالحی مقیم / ژبو او ادبیاتو پوهنځی
- پوهنوال محمد عمر عابد / ښوونې او روزنې پوهنځی
- پوهنوال دکتور غلام نبي بلوچ/ کرنې پوهنځی
- پوهنوال حمید الله یار/ ساینس پوهنځی
- پوهندوی دکتور فاروق جهان/ عامه اداره او پالیسۍ پوهنځی
- پوهنمل احمد فرید روان/ وترنرۍ علومو پوهنځی
- پوهنمل سید سمیع الله سعیدي/ ژورنالیزم پوهنځی
- پوهنیار زړگی حبیبي / کمپیوټر ساینس پوهنځی



**پته:** د ننگرهار پوهنتون د اړیکو او عامه پوهاوي آمریت، د پوهې علمي مجلې دفتر، جلال آباد افغانستان.

www.nu.edu.af

shafiullah.habib@gmail.com

۰۷۷۹۳۱٦۵۳۵ - ۰۷۸۰۰۴۷۰۰۴


**کورونا ویروس ته ځانگړې گڼه**

پوهه
د تاسیس کال: ۱۳٦٦ ل
د ننګرهار پوهنتون علمي، څېړنیزه درې میاشتنۍ خپرونه
۱۳۹۹ ل کال لومړۍ ګڼه، ورۍ- غبرګولی پرله‌پسې ۷۲ مه ګڼه

# لیکلړ


۱. د ننګرهارپوهنتون د رئیس پیغام ۱ مخ

۲. وبايي ناروغۍ د اسلامي شريعت له نظره ۲ مخ
پوهاند دکتور اسرار الحی منیب

۳. پر اقتصاد د کورونا ویروس د خپرېدو منفي اغېزې ۱۹مخ
پوهاند محمد بشیر دودیال او پوهنوال محمد زبیر نورمل

۴. په افغانستان کې د کورونا ویروسونه او د کویډ ـ ۱۹ ناروغۍ خپرېدنه ۳۳ مخ
پوهنوال ډاکتر سید ضیاألحق بنوری

۵. له کورونا سره تړلو ګڼو روغتیایي ستونزو مهار او مخنیوی ۴۵ مخ
پوهندوی دکتور غلام رحیم اواب

٦. د کوویډ۱۹- ناروغۍ د خپرېدو د مخنیوي لپاره د دولت مکلفیتونو... ۵۳ مخ
پوهندوی سید اکرم هاشمي او پوهنیار هجرت الله صافی

۷. کورونا ویروس Covid-19 ( نوعه ) ناروغي د مایکروبیولوژۍ له نظره ۷۳ مخ
پوهنیار ډاکتر شاه اغا صالحي

۸. په افغانستان کې د کویډ نولس (COVID-19) ناروغۍ بشري ناورین او رسنیز... ۸۴ مخ
پوهنیار احمد سعید

۹. پر معلوماتي ټکنالوجۍ د کورونا (کوویډ۱۹-) اغېزې ۹۵ مخ
پوهنیار یوسف مومند

۱۰. د نړۍوالو حقوقو له نظره بیولوژیکي او کېمیاوي جګړې او د کورونا ویروس... ۱۰۱ مخ
پوهنیار هجرت الله اختیار

## د سرلیکنې پر ځای

# د ننګرهار پوهنتون د رئیس پیغام

ننګرهار پوهنتون، چې د هېواد په کچه دویم ستر علمي او اکاډمیک مرکز دی، د هېواد د ځوانانو او علمي کادرونو د سالمې روزنې سربېره په ملي مسایلو کې هم بې تفاوته پاتې شوی نه دی او د اړتیا پر مهال یې تل د خپل کړېدلي ولس خوا نیولې او خپل اکاډمیک رسالت یې په ښه توګه ادا کړی دی.

د کورونا وباء او ناورین، چې د نړۍ نږدې ټول هېوادونه یې اغېزمن او له بحران سره مخ کړي، میلیونونه خلک پرې اخته شوي او په لسګونه زره یې وژلي؛ هغه مهال چې په افغانستان کې یې لا کومه مثبته پېښه ثبت شوې نه وه او یوازې د راتګ وېره او اندېښنه یې موجوده وه، ننګرهار پوهنتون د ۱۳۹۸ کال د دلوې په ۱۷ مه نېټه یو علمي سیمینار دایر کړ، چې د یادې ساري او مرګوني ناروغۍ د پېژندنې، خطراتو او وقایې په لارو چارو په کې غور او بحث وشو او د سیمینار پایله د هېوادوالو د ژغورنې او عامه پوهاوي په خاطر د رسنیو له لارې خپره شوه.

د یاد سیمینار په تعقیب هغه مهال، چې کورونا ناروغۍ زموږ ګران هېواد ته هم سرایت وکړ او لومړنۍ پېښنه یې د هرات په ولایت کې ثبت شوه، د ننګرهار پوهنتون طب پوهنځي عاجله مشورتي غونډه راوبلله، چې د زیات غور او بحث وروسته یې د یادې مرګونې وباء د مخنیوي لپاره پر یوه جامع او هر اړخیزې طرحې کار وکړ او بیا یې له مسؤلو ارګانونو سره شریکه کړه.

د کورونا وباء سره د مبارزې په لړ کې د ننګرهار پوهنتون د طب پوهنځي استاد پوهندوی دوکتور غلام رحیم آواب د (د کورونا ناورین) تر سرلیک لاندې ارزښتمن برېښنایي اثر ولیکه، چې د پوهنتون د ویب سایټ او فیسبوک پاڼې سربېره د هېواد د بېلابېلو ویب‌پاڼو نه هم خپور شو.

د کورونا د مخنیوي په اړه د عامه پوهاوي او د اړینو توکیو د وېش کمپاین، د پوهنتون له استادانو د مرستې او اعانې راټولول، د هېواد د سپېڅلو ډاکټر صاحبانو او طبي پرسونل د تقدیر او ملاتړ په موخه رسنیز کمپاین، د کورونا پر ضد د مبارزې په ولایتي کمېټه کې فعال حضور او د اړینو مشورو ورکړه او د کورونا په اړه د پوهنتون د علمي مجلې (پوهې) د ځانګړې ګڼې چاپ هغه څه دي، چې ننګرهار پوهنتون د خپل علمي او اکاډمیک رسالت د ادا کولو په موخه تر دې دمه ترسره کړي دي.

د پوهنتون اداره، استادان او ټول منسوبین د کورونا وباء سره د مبارزې په برخه کې د خپل ولس او هېوادوالو تر څنګ دي او ژمنه کوي، چې په یاده برخه کې به تر وروستي بریده خپلو هلو ځلو ته دوام ورکړي.

د کورونا ناورین څخه د پاکې نړۍ په هیله

**پوهاند دوکتور خلیل احمد بهسودوال**

د ننګرهار پوهنتون رئیس

پوهاند دکتور اسرار الحی منیب
شرعیاتو پوهنځی

# وبايي ناروغۍ د اسلامي شريعت له نظره

## لنډيز

دا چې اوس‌مهال د کورونا ويروس (کوويډ ۱۹) ناروغۍ نړۍ تر روغتيايي او اقتصادي اغېز لاندې راوستې؛ نو لازمه مې وګڼله، چې په دې هکله (وبايي ناروغۍ د اسلامي شريعت په رڼا کې) تر سرليک لاندې کتابتوني څېړنه د هېوادوالو د پوهاوي او د خپل ديني رسالت د اداء کولو په موخه سرته ورسوم.

د يويشتمې پېړۍ د (۲۰۱۹- ۲۰۲۰) کال د کورونا ويروس (کوويډ۱۹) لېږدېدونکې ناروغي له هغه وبايي، طاعوني او ټولوژونکيو ناروغيو سره ورته والی لري، چې د اسلامي شريعت سترو سترو فقهاوو او مجتهدينو يې د شرعي قوانينو په نظر کې نيولو سره د حل لارې چارې لټولې دي.

د څېړنې بنسټيز سرټکي د وبايي ناروغيو پېژندنه، تاريخي شاليد، نورو ته د ساري ناروغيو د انتقالېدو په هکله د علماوو نظريات، له ساري ناروغيو څخه د مړو شويو د غسل او جنازې حکم، علاج او تدابيري- وقايوي موضوعاتو ته شامل دي.

د څېړنې په پای کې دې نتيجې ته رسېدلي يو، چې:

وبايي ناروغي يوه عامه او سرحد نه پېژندونکې ناروغي ده، چې د نبوي احاديثو او عصري ټکنالوژۍ د مشاهدې په اساس نورو ته انتقالېږي؛ خو مسلمان بايد تل د نفعې، ضرر، صحت او مرض مالک يوازې الله تعالی وګڼي او په دې اړه د اسلامي شريعت په رڼا کې د مسلمانو ډاکترانو نظرياتو ته پاملرنه وکړي.

هيله‌من يم، چې په دې څېړنې سره به د يادې ناروغۍ په هکله د اسلام دريځ روښانه او د لوستونکو علمي تنده خړوب شي.

## سريزه

الحمدُ لله النَّافع الضَّارّ، خَلَقَ الدَّاءَ وَالدَّوَاءَ وَالمَنَافعَ وَالمَضَارّ، بِيَدِهِ النَّفْعُ والضُرّ، والخير والشرّ، والنَّهي والأَمر، الحكيم القهَّار، والصلاة والسلام على أشرف المرسلين، وأفضل المتوكِّلين، المستسلم للقضاء والأَقدار، وعلى آله وأصحابه، اجمعين.

که د نړۍ تاريخ ته د عبرت په موخه ځغلنده نظر وکړو؛ نو وبه وينو، چې انسان د ناوړو کړنو او سرکشيو له بريده د الله تعالی له ذات څخه د انکار تر حده بغاوت کړی، په ځمکه کې يې فساد خپور کړی، د مظلومانو حقوق يې پايمال کړي، خپل رسالت او ماموريت يې په سمه توګه نه دی ترسره کړی، دا او داسې نورې کړنې يې ددې لامل شوي، چې الله تعالی يې د مخنيوي لپاره پېغمبران عليهم السلام رالېږلي، په ډول ډول وړو او لويو

عذابونو یې ازمایلي، خو د یادو ازمایښتونو او بربادیو وروسته یې یو ځل بیا د بغاوت په لور مخه کړې او د خپل حقیقي خالق په نافرمانۍ کې تر اخري سرحده رسېدلي، چې د متوجې کولو په هکله یې د الله تعالی له لوري په عامه وژنو، طاعون، وباء، کورونا (کوویډ١٩) ویروس او نورو ډول ډول عذابونو سره وخت پر وخت مخامخ شوي دي؛ تر څو باغي انسان له خپلو بدو کړنو لاس واخلي او د نېکانو لپاره د لوړ مقام تر لاسه کولو سبب وګرځي.

د یویشتمې پېړۍ انسانان هم ډېر مغرور او کبرجن شوي وو، هر څه یې په ماده او مادیاتو کې لیدل، د مخکېنیو امتونو له عذابونو او ازمایښتونو یې هېڅ پند وانخیست، تر دې، چې نړۍ وحشت، بربریت، فحشاء او منکراتو ونیوله. همدا وه، چې د الله تعالی غوسه او غضب په جوش راغی او د باغي انسان له کبله یې نړۍ په یو مخ د کورونا ویروس (کوویډ١٩) له ناروغۍ سره لاس او ګرېوان کړه او د پرمختللې نړۍ ټکنالوژي او طب یې تر دې مهاله په درملنه کې پاتې راغلي دي.

## موخې

د دې مقالې د لیکلو موخې په لاندې ټکیو کې څرګندېږي:

١ - طاعون او وبا پېژندل او په اړه یې تاریخي شالید ته لنډه کتنه.

٢ - د یادو ناروغیو په هکله وقایوي تدابیر او د اسلامي شریعت په رڼا کې یې د مخنیوي د لارو چارو واضح کول.

٣ - اوس مهال د کورونا ویروس (کوویډ١٩) وبایي مرض په هکله د خپل ولس په پوهاوي کې مرسته کول او له افراط او تفریط څخه یې ژغورل.

## پوښتنې او فرضیې

١ - آیا طاعون او وبایي ناروغۍ یوازې د کافرانو پورې ځانګړې دي او مسلمانان پرې نه اخته کېږي؟

٢ - د دې ناروغیو پر وړاندې مسلمان باید یوازې پر الله تعالی توکل وکړي او هېڅ ډول وسایل او تدابیر ونه کاروي؟

٣ - آیا مرض له ناروغ څخه روغ انسان ته انتقالېږي؟

## تېرو لیکنو ته کتنه

د طاعون او وبا په هکله د نبوي احادیثو په کتابونو کې ځینې موضوعاتو ته په لنډه توګه اشاره شوې ده؛ خو ددې تر څنګ په دې هکله ځینې ځانګړې لیکنې هم د یادولو وړ دي؛ د بېلګې په توګه:

کتاب الطواعین: د درېیمې هجري پېړۍ د ستر عالم حافظ ابوبکر عبدالله بن محمد بن عبیدالله بن أبي الدنیا لیکنه.

جزء في الطاعون: د اتمې هجري پېړۍ د نومیالي عالم تاج الدین عبدالوهاب السبکي لیکنه ده، چې په خپله هم

د طاعون مرض له کبله مړ شوی دی.

الإباء عن مواقع الوباء: دا یوه وړه رساله ده، چې په لسمې هجري پېړۍ کې ادریس بن حسام الدین علی البدلیسي لیکلې ده.

بذل الماعون فی فضل الطاعون: د نهمې هجري پېړۍ د مشهور محدث ابن حجر رحمه الله لیکنه او داسې نور.

ددې لیکنې ځانګړنې او له یادو لیکنو سره یې توپیر په لاندې ټکو کې رانغاړم:

یادې لیکنې په عربي ژبه شوي، چې زموږ ګران هېوادوال ترې په سمه توګه استفاده نه شي کولی.

د ذکر شوو او دې ته ورته نورو لیکنو اوږدوالی، لنډوالی او زموږ په هېواد کې یې نه شتون د ستونزې په توګه یادولی شو.

دا مهال په ټوله نړۍ او ګران هېواد افغانستان کې د کورونا (کووید ۱۹) ساري ناروغۍ عاموالی او په یادو لیکنو کې ورځخه د یادونې نشتوالی، د توپیري نقطو په توګه یادولی شو.

## طاعون پېژندنه

د طاعون او وباء کلمې په نبوي احادیثو کې استعمال شوي، ابن الاثیر ویلي: طاعون د وباء په څېر عام مرض دی، چې مړینه را منځته کوي. ([1])

خو علامه ابن حجر او عبد الحی لکهنوي رحمهما الله پر وباء د طاعون نومونه مجازي ګڼي او طاعون یې یو خاص ډول بولي، وباء هغه عام مرض دی، چې د هوا د ککړتیا له کبله را منځته کېږي او طاعون یو ډول دانې دي، چې د انسانانو پر بدن راخېژي. ([2])

په همدې ډول برطانوي دایرة المعارف یې داسې راپېژني: طاعون یوه اصطلاح ده، له پخوا راهیسې هر هغه مرض ته کارول کېږي، چې پراخه انتشار ولري او د ډله ییز مرګ لامل وګرځي.

مګر اوس مهال داسې یوې انتقالېدونکې تبې ته استعمالېږي، چې د تخریبوونکې بکتریا ( Pasteurella pestis) په سبب د موږکانو د وربږو په واسطه انتقالېږي.

خو وباء په انسان کې په مرض د اخته شویو حیواناتو له اتصال او پیوستون څخه رامنځته کېږي([3])

پورتنیو تعریفونو ته په کتنې سره ویلای شو، چې د نن ورځې ساري ناروغي (کورونا ویروس) له وبایي او طاعوني ناروغیو سره د ډله ییزي وژنې او عمومیت له کبله ورته والی لري، چې په دې هکله نور تفصیل د طب ډاکترانو او د ساینسي- عصري علومو پوهانو ته پرېږدم، خو د ارتباط له مخې په لنډه توګه باید ووایم، چې یاده ناروغي د روغتیا نړیوال سازمان د (N cov-۲۰۱۹-) په نوم یاده کړې ده، چې (N) د نوي او (cov) د ویروس په

1 - وګوره! مجد الدین أبو السعادات المبارك بن محمد بن محمد ابن عبد الکریم الشیباني الجزري ابن الأثیر (1399هـ - 1979م) النهایة في غریب الحدیث والأثر، تحقیق: طاهر أحمد الزاوی - محمود محمد الطناحي بېروت: المکتبة العلمیة، ج ۳ ص ۱۲۷.

2 - محمد عبد الحي بن محمد عبد الحلیم الأنصاري اللکنوي الهندي، أبو الحسنات (1426 هـ - 2005 م) التعلیق الممجد على موطأ محمد (شرح لموطأ مالك بروایة محمد بن الحسن) تعلیق وتحقیق: تقي الدین الندوي أستاذ الحدیث الشریف بجامعة الإمارات العربیة المتحدة دمشق: دار القلم، څلورم چاپ، ج ۳ ص ۴۸۹.

3 - Encyclopedia britannca.viii 20 - 21 plagene.

معنی دی. په عمومي ډول دا ویروس د خورا سختې تنفسي ناروغۍ د سندروم سارس(SARS) ویروس ته ورته دی، خو په یو ډول نه دی. ([4])

### د طاعون پیل او تاریخي شالید

له اسلام څخه دمخه ځینې قومونه د عذاب په توګه په وبا اخته شوي وو، چې امام مسلم رحمه الله په خپل صحیح کې د اسامه په روایت سره له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کړی، چې هغه صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «إِنَّ هَذَا الْوَجَعَ أَوِ السَّقَمَ رِجْزٌ عُذِّبَ بِهِ بَعْضُ الْأُمَمِ قَبْلَكُمْ، ثُمَّ بَقِيَ بَعْدُ بِالْأَرْضِ، فَيَذْهَبُ الْمَرَّةَ وَيَأْتِي الْأُخْرَى» ([5])

یعنې دا درد، مریضي (وباء) داسې یو عذاب دی، چې مخکېني امتونه پرې اخته شوي وو، خو یوه برخه یې په ځمکه کې پاتې ده، چې کله ځي او کله راځي.

د اسلام د ځلانده لمر له راختلو وروسته هم ډېرې داسې پېښې را منځته شوي، چې اسلامي مؤرخینو او حدیث پوهانو ورته په خپلو لیکنو کې ځای ورکړی دی.

د بېلګې په توګه: حافظ ابن حجر رحمه الله له ابو الحسن المدائني څخه نقل کړی: په اسلام کې د طاعون تر ټولو لویې پېښې پنځه دي:

1. د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کې د مداین په ښار کې د شیرویه په نوم طاعون.

2. د هجرت په (۱۲) کال د عمر رضي الله عنه په زمانه کې د شام د عمواس په نوم طاعون، چې نږدې پنځه ویشت زره (۲۵۰۰۰) خلک په کې مړه شول او په عمواس سره له دې کبله نومول شوی، چې عام و او یا د شام د کومې سیمې نوم دی.

3. په نهه شپېتم (۶۹) سپوږمیز کال کې د جارف په نوم طاعون، جارف کڅ یا د خوړ غاړې ځمکې ته ویل کېږي، چې سیلاب یې له منځه یوسي، چې په دې کې هم د ډېرې عامه وګړو او لویانو مړینې ته اشاره شوې ده.

4. په اووه اتیا (۸۷) هجري کال کې هغه طاعون، چې ډېرې مرګونې یې ځوانې ښځې وې او په طاعون( الفتیات) سره نومول کېده.

5. هغه طاعون، چې زیاد پکې ومړ.

ویل کېږي، چې د عباسیانو په نسبت په اموي خلافت کې طاعوني ناروغۍ په شام کې ډېرې وې، چې په راتلو سره به یې د بنو امیه خلیفه ګان دښتو او بیابانونو ته وتل، تر دې، چې هشام بن عبد الملک له دې کبله د

---

4 - جانګ ون هونک (۲۰۱۹م) پښتو ژباړن: محمد اصف شینواری، کرونا ویروس (کوید۱۹) ،ختیځ خپرندویه ټولنه، جلال کوټ، ص ۱ .

5 - مسلم بن الحجاج أبو الحسن القشيري النيسابوري (ـــــ) صحیح مسلم، محقق: محمد فؤاد عبد الباقي، بیروت: دار إحیاء التراث العربي، ج ۴ ص (1738

روم پخواني ښار (الرصافة) کې کور جوړ کړ. [6]

همدارنگه د عباسي خلافت پر مهال په(ري) کې په (۳۴) هجري، په بغداد کې پـه (۴۶)، پـه بصره کې پـه (۲۲۱)، په عراق کې په (۲۴۹) او(۳۰۱)، په اصفهان کې په (۳۲۴) ، د هند په ښارونو، غزني، خراسان، جرجان ... کې په (۴۲۳) سپوږميز کال کې داسې لوی طاعون او وباء راغله، چې له اصفهان څخه څلوېښت زره (۴۰۰۰۰) جنازې راووتلې؛ دې ته ورته پېښې تر دې مهاله ډېرې زياتې منځ ته راغلې، چې د ټولو يادونـه يـې پـه دې لنډه مقاله کې ناشوني ده.

## د يو مخيزه مړينې (طاعون او وباء) لاملونه

په نبوي احاديثو کې د يومخيزه مړينې (طاعون، وبا، کورونا ويروس) د پېښېدلو ستر لامـل د زنـا او فحشـاء عام کېدل او علني کېدل ښودل شوي، چې په اړه يې امام ابن ماجه رحمه الله په خپل( سـنن) کـې د عبـد الله بـن عمر رضي الله عنهما په روايت سره داسې ذکر کړي دي: يو ځل رسول الله صلی الله عليه وسلم مونږ ته را مخامخ شو او ويې ويل: ای د مهاجرينو ډلې! که په پنځو شيانو امتحان شوئ، نو عـذاب بـه دربانـدې راشي، چې هغـه پنځه شيان په لنډه توگه داسې بيان شوي دي:

۱ - په کوم قوم کې، چې زنا او فحشاء عامه شـوه، نـو طـاعون بـه پکـې خپـور شي او لـه داسـې دردونـو او مصيبتونو سره به مخ شي، چې په پخوانيو کې هم نه دي تېر شوي.

۲ - په پيمانه او وزن کې کموالی به يې له قحطۍ، فقر، تکليف او د پاچايانو له ظلم سره مخ کړي.

۳ - د زکات ورکولو څخه ډډه کول به يې د بارانونو د ودرېدلو سبب شي او که د څارويو خاطر نه وای، نـو هېڅکله به پرې باران نه وای شوی.

۴ - د الله تعالی او رسول وعده ماتول، هغه وعده، چې د دوی او د دوی د مخالف لوري او يـا حربيـانو سره شوي وي، نو الله تعالی به پرې دښمن مسلط کړي او هرڅه به ترې واخلي.

۵ - کله يې، چې پاچايان او مشران د الله تعالی په کتاب فيصلې نه کوي؛ نو الله تعالی به يې په خپل منځ کې په جنگ اخته کړي. [7]

## آيا وبا (طاعون) يوازې کافر ته رسېږي او مسلمان ترې خلاص دی؟

طاعون عام مرض دی، چې مسلمان او کافر دواړه پرې اخته کېدای شي، خو توپير يې په دې کې دی، چې د مسلمان لپاره رحمت او د کافر لپاره عذاب دی. په دې اړه امام بخاري رحمه الله پـه خپـل سـند سره لـه بي بي عائشې رضي الله عنها څخه روايت کړی، چې هغې له رسول الله صلی الله عليه وسـلم څخـه د طـاعون پـه هکلـه

6 - ابن حجر، بذل الماعون في فضل الطاعون، ص ۳۶۳.

7 - ابن ماجة أبو عبد الله محمد بن يزيد القزويني (ب ت) سنن ابن ماجه، تحقيق: محمد فـؤاد عبـد البـاقي: دار إحيـاء الكتـب العربيـة - فيصـل عيسى-البـابي الحلبي، باب العقوبات، ج ۸ ص ۱۳۳۲، (۴۰۱۹) گڼه حديث.

وپوښتل او په دې هکله یې ورته داسې وویل: «أَنَّهُ عَذَابٌ يَبْعَثُهُ اللَّهُ عَلَى مَنْ يَشَاءُ، وَأَنَّ اللَّهَ جَعَلَهُ رَحْمَةً لِلْمُؤْمِنِينَ، لَيْسَ مِنْ أَحَدٍ يَقَعُ الطَّاعُونُ، فَيَمْكُثُ فِي بَلَدِهِ صَابِرًا مُحْتَسِبًا، يَعْلَمُ أَنَّهُ لاَ يُصِيبُهُ إِلَّا مَا كَتَبَ اللَّهُ لَهُ، إِلَّا كَانَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِ شَهِيدٍ» ([8])

یعنې طاعون عذاب دی، الله تعالی، چې چاته وغواړي، هغوی پرې اخته کوي، خو د مؤمن لپاره یې رحمت ګرځولی، که څوک په طاعون اخته شو او په خپل ښار (یا کور) کې د صبر او ثواب په نیت تم شو او په دې هم پوهېده هغه څه به ور ورسېږي، چې الله تعالی ورته لیکلي، نو دې شخص ته د شهید په څېر اجر دی.

**لاسته راوړنې:**

۱ - طاعون مسلمان او کافر دواړو ته رسېږي؛ خو د مسلمان لپاره رحمت او د کافر لپاره عذاب دی.

۲ - په خپل کور او یا ښار کې تم کېدل او بل ځای ته نه تلل د طاعون له ادابو څخه ګڼل کېږي، چې اوس مهال ترې په قرنطین سره تعبیر کېږي.

۳ - مسلمان ته، چې هر څه ور رسېږي، هغه باید په تقدیر ایمان ولري او الله تعالی ته تسلیم شي، چې د مړینې په صورت کې ورته د شهید په څېر اجر دی.

**پوښتنه:** په مخکېنیو احادیثو کې له طاعون (وبا) څخه په عذاب سره تعبیر وشو، نو په دې حدیث کې ورته څرنګه رحمت ویل شوی؟

**ځواب:** د دواړو احادیثو تر منځ په ظاهر کې تعارض لیدل کېږي، خو په حقیقت کې تعارض نه شته او دا ځکه چې د سنن ابي داود په یو بل حدیث کې د یادو احادیثو تطبیقي اړخ ته داسې اشاره شوې ده:

له ابي موسی الاشعري رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «أُمَّتِي هَذِهِ أُمَّةٌ مَرْحُومَةٌ، لَيْسَ عَلَيْهَا عَذَابٌ فِي الْآخِرَةِ، عَذَابُهَا فِي الدُّنْيَا الْفِتَنُ، وَالزَّلَازِلُ، وَالْقَتْلُ» ([9])

یعنې: زما په امت (ځانګړی) رحم شوی، پر دوی به په اخرت کې (سخت) عذاب نه وي، په دنیا کې به د دوی عذاب فتنې، زلزلې او په (ناحقه) وژل وي.

**پوښتنه:** هر کله، چې طاعون او وبا د مومن لپاره رحمت دی، نو مدینې منورې ته ولې نه داخلېږي؟ چې په دې اړه په یوحدیث کې ابو هریره رضي الله عنه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه داسې روایت کړی دی: «عَلَى أَنْقَابِ المَدِينَةِ مَلاَئِكَةٌ، لاَ يَدْخُلُهَا الطَّاعُونُ، وَلاَ الدَّجَّالُ» ([10])

یعنې د مدینې منورې په لارو او دروازو کې پرښتې دي، چې طاعون او دجال ورته نه شي ننوتی!!

**ځواب:** د دې حدیث په هکله د محدثینو توجیهات او تطبیقي اړخ په لاندې توګه واضح کېږي:

---

8 - محمد بن إسماعيل أبو عبدالله البخاري الجعفي (ب ت) صحيح البخاري، المحقق: محمد زهير بن ناصر الناصر، دار طوق النجاة: ج ۴ ص ۱۷۵.

9 - أبو داود سليمان بن الأشعث بن إسحاق بن بشير بن شداد بن عمرو الأزدي السِّجِسْتاني (المتوفى: 275هـ) سنن أبي داود، المحقق: محمد محيي الدين عبد الحميد، بيروت: المكتبة العصرية، صيدا، ج ۴ ص ۱۰۵.

10 - صحيح البخاري (9/ 61)

۱ - په ځینې صحیحو احادیثو کې دا هم ثابته ده، چې طاعون د پیریانو وهل او زخمي کول دي، نو بناء کافر جنیات او شیطانان مدینې منورې ته له داخلېدلو څخه منع شوي، خو که ور داخل هم شي، چاته ضرر نه شي رسولی. ([11])

۲ - تر دې مهاله وبایي ناروغي په مدینه منوره کې نه ده واقع شوې؛ خو که واقع هم شي، نو د حدیث مطلب به دا وي، چې طاعون مختلف ډولونه لري او داسې طاعون، چې د نورو ځایونو په څېر عامه وژنه او زیات تلفات را منځته کړي، په مدینه منوره کې نه واقع کېږي. ([12])

۳ - مدینې منورې ته د طاعون د نه ننوتو قضیه د رسول الله صلی الله علیه وسلم له زمانې پورې خاص وه او دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم معجزه وه.

۴ – د دجال په هکله یاد حکم په خپل حال پاتې دی.

**د وبا یا ساري ناروغیو ځایونو ته د تلو راتلو د مخنیوي (قرنطین) حکم**

د وبا له منطقې څخه تېښته ځینې علماوو تحریمي مکروه او ځینو تنزیهي ګڼلې ده، خو د درملنې او نورو اړینو چارو له کبله یې جایز بولي.

۱ - هغوی، چې د ساري ناروغیو له ځایونو څخه تېښته کول (قرنطین) روا نه بولي، په لاندې دلایلو استدلال کوي:

الله تعالی فرمایلي دي: {أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِينَ خَرَجُوا مِنْ دِيَارِهِمْ وَهُمْ أُلُوفٌ حَذَرَ الْمَوْتِ فَقَالَ لَهُمُ اللَّهُ مُوتُوا ثُمَّ أَحْيَاهُمْ} ([13])

ژباړه: آیا د هغو زرګونو خلکو له (حاله) خبر نه شوې، چې د مرګ له وېرې له خپلو کورونو وتښتېدل؟ الله تعالی ورته وویل، مړه شئ! او بیا یې را ژوندي کړل.

ابن جریر الطبري رحمه الله د یاد ایت په تفسیر کې په خپل سند سره له حسن بصري رحمه الله څخه روایت کړی، چې دا خلک له طاعون څخه وتښتېدل، بیا الله تعالی دوی ټول په طاعون سره مړه کړل، خو د خپل اجل د نېټې پوره کولو په موخه یې بیا را ژوندي کړل. ([14])

ابوبکر رازي په خپل تفسیر (احکام القران) کې لیکلي: له طاعون څخه تېښته مکروه ده او په لاندې ایتونو یې استدلال کړی دی:

---

11 - محمد بن عبد الباقي بن يوسف الزرقاني المصري الأزهري (1424هـ - 2003م) شرح الزرقاني على موطأ الإمام مالك، تحقيق: طه عبد الرءوف سعد، قاهرة: مكتبة الثقافة الدينية، لومړی چاپ، ج ۴ ص ۳۶۵.

12 - تېر ماخذ.

13 - سورة البقرة: 243 ایت.

14 - محمد بن جرير بن يزيد بن كثير بن غالب الآملي، أبو جعفر الطبري (1422 هـ - 2001 م) تفسير الطبري = جامع البيان عن تأويل آي القرآن، تحقيق: الدكتور عبد الله بن عبد المحسن التركي، دار هجر للطباعة والنشر والتوزيع والإعلان، لومړی چاپ، ج ۴ ص ۴۲۱.

الف: {قُلْ لَنْ يَنْفَعَكُمُ الْفِرَارُ إِنْ فَرَرْتُمْ مِنَ الْمَوْتِ أَوِ الْقَتْلِ } ([15])

ژباړه: پېغمبره! ووایه که له مرگ یا وژنې وتښتئ، نو تېښته هېڅکله درته په گټه نه ده.

ب: {أَيْنَمَا تَكُونُوا يُدْرِكْكُمُ الْمَوْتُ وَلَوْ كُنْتُمْ فِي بُرُوجٍ مُشَيَّدَةٍ} ([16])

ژباړه: چېرته، چې یاست مرگ مومئ، که په څومره ټینگو کلاگانو کې هم یاست.

ج: {قُلْ إِنَّ الْمَوْتَ الَّذِي تَفِرُّونَ مِنْهُ فَإِنَّهُ مُلَاقِيكُمْ} ([17])

ژباړه: ووایه! په واقع کې دا مرگ، چې تاسې ترې تښتئ، هرومرو درته رسېدونکی دی.

**۲ -** هغوی، چې د وبا او یا نورو ساري ناروغیو ځایونو ته د تگ راتگ څخه منع کوي او د قرنطین کولو د نظریې سره موافق دي، په لاندې دلایلو استدلال کوي:

ابن عباس رضي الله عنهما فرمایي، عمر بن الخطاب رضي الله عنه شام ته روان شو، کله،چې سرغ نومې ځای ته ورسېده، د اجناد د سیمې اوسېدونکو ابو عبیدة بن الجراح او د هغه له ملگرو سره مخامخ شو، دوی ورته په شام کې د وباء له پېښې خبر ورکړ، ابن عباس رضي الله عنهما وایي ماته عمر رضي الله عنه وویل: لومړني مهاجرین را وغواړه، هغوی مې را وغوښتل، مشوره یې ورسره وکړه، دوی په خپل منځ کې اختلاف وکړ، ځینو ورته وویل: د خپلې ارادې سره سم د خپل کار پسې ولاړ شه! خو ځینو نورو بیا ورته وویل: تا سره د رسول الله صلی الله علیه وسلم مخور صحابه دي، د وباء ځای ته مه ورځه، عمر رضي الله عنه ورته وویل: له ما څخه پاڅېږئ! بیا یې ابن عباس رضي الله عنهما ته وویل: انصار راته را وغواړه! هغوی مې راوغوښتل، هغوی هم په مشوره کې د مهاجرینو په څېر په دوه ډلو ووېشل شول، هغوی ته یې هم وویل، لاړ شئ. بیا یې راته وویل: د قریشو مشران، چې د مکې له فتحې مخکې یې هجرت کړی وي، هغوی را وغواړه، هغوی مې را وبلل، هغوی ټولو په یو غږ وویل: بېرته ولاړ شئ او د وبا منطقې ته مه ځه. عمر رضي الله عنه اعلان وکړ، چې زه بېرته ستنېدونکی یم، راځئ، چې ځو! ابو عبیدة بن الجراح، چې دا مهال د شام امیر و، عمر رضي الله عنه ته یې وویل( أَفِرَارًا مِنْ قَدَرِ اللهِ؟ ؟) آیا د الله تعالی له تقدیر څخه تښتې؟ عمر رضي الله عنه ورته په ځواب کې وویل: کاشکې، چې دا خبره بل چا کړې وای، یعنې د هغه د شان سره یې دا خبره مناسبه ونه گڼله، بیا یې وویل: هو! مونږ د الله تعالی له تقدیر څخه د الله تعالی تقدیر ته تښتو؛ راته ووایه، که ستا ډېر اوښان وي او داسې یوې درې ته یې بوځې، چې دوه لارې ولري، یوه یې شنېرازه او بله وچه وي، نو که په هره یوه کې یې وڅروې آیا دا به دې د الله تعالی له تقدیر سره سمه کړنه نه وي کړې؟ دا مهال عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه، چې په مجلس کې نه و، راغی او داسې یې وویل: په دې هکله له ما سره علم شته او هغه دا، چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه مې اورېدلي، چې فرمایل یې: «إِذَا سَمِعْتُمْ بِهِ بِأَرْضٍ، فَلَا تَقْدَمُوا عَلَيْهِ، وَإِذَا وَقَعَ بِأَرْضٍ وَأَنْتُمْ بِهَا، فَلَا تَخْرُجُوا فِرَارًا

15 - سورة الأحزاب: 16 ایت.

16 - سورة النساء: 78 ایت.

17 - سورة الجمعة: 8 ایت.

مِنْهُ» قَالَ: فَحَمِدَ اللهَ عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ ثُمَّ انْصَرَفَ ([18])

يعنې: کله مو، چې په کوم ځای کې د وباء په هکله خبر ترلاسه کړ، نو هغه ځای ته مه ورځئ، خو که په هغه ځای کې وئ، نو د تېښتې او فرار په نیت ترې مه وځئ. ابن عباس رضي الله عنهما وايي، چې عمر رضي الله عنه د الله تعالی ثنا وویله او بیا بېرته ولاړ او راغلي خلک هم ورسره ستانه شول.

## لاسته راوړنې

۱ - له یاد حدیث څخه معلومه شوه، چې عمر رضي الله عنه لومړی د اجتهاد په ذریعه بېرته تلل غوره وګڼل، چې په پایله کې د نوموړي دا نظر د عبد الرحمن بن عوف په هغه حدیث سره، چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه یې اورېدلی و، تائید شو. ([19])

۲ - د وخت واکمنان کولای شي، د ناڅاپي پېښو په هکله د خپلې ټولنې د ژغورنې په هکله لازم تدابیر ونیسي.

۳ - دا سمه ده، چې هر څه د تقدیر په بناء سرته رسېږي؛ خو د دې تر څنګ الله تعالی مونږ ته پر احتیاط، هوښیارۍ او د هلاکت له اسبابو څخه په ژغورنې امر کوي. ([20])

۴ - هغه نصوص، چې په هغو کې د ساري ناروغیو له ځای څخه د وتلو منع راغلې، هغه په فرار او تېښته حمل کولای شي، چې دا چاره بیا د درملنې، تداوۍ او د خلکو د خوندي کولو په موخه روا ده. ([21])

## د ساري ناروغیو د انتقال او نه انتقال موضوع

د مرض د انتقالېدو او نه انتقالېدو په اړه علماء د دوه اړخیزه دلایلو د شتون له کبله په دوه ډلو وېشل شوي دي، چې ځینې د مرض انتقال مني او ځینې ور څخه انکار کوي.

## لومړی: د مثبتینو دلایل

۱ - ابوهریره رضي الله عنه ویلي، چې رسول الله صلی الله علیه سلم فرمایلي دي: «لاَ يُورِدَنَّ مُمْرِضٌ عَلَى مُصِحٍّ» ([22])

یعنې ناجوړه اوښان له جوړو سره نه شي یو ځای کولی.

۲ - انس بن مالک ویلي، چې یو سړی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی او د خپلې اوښې په هکله یې ترې وپوښتل، د الله تعالی رسوله! ویې تړم او بیا پر الله تعالی توکل وکړم او که خوشې یې کړم او بیا پر الله تعالی

---

18 - صحیح مسلم: ج 4 ص 1740)

19 - أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف النووي (1392هـ) المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج، بيروت: دار إحياء التراث العربي، دوهم چاپ، ج ۱۴ ص ۲۱۰.

20 - تېر ماخذ.

21 - بذل الطاعون، ص ۲۸۵.

22 - صحيح البخاري: ج 7 ص 138)

توکل وکړم، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته فرمایل: «اعْقِلْهَا وَتَوَكَّلْ». ([23])

ویې تړه او بیا توکل وکړه.

یاد حدیث په دې دلالت کوي، چې د ساري ناروغیو له مریضانو ځان وساتئ، خو د دې سره سره پر الله تعالی توکل هم کوئ، چې له مرض څخه مو وساتي.

۳ - عمرو بن بشیر له خپل پلار څخه روایت کوي، چې د بنو ثقیف قبیلې په ډله (وفد) کې یو مجذوم سړی و، رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه ته پېغام ولېږه او داسې یې ورته وویل: «إِنَّا قَدْ بَايَعْنَاكَ فَارْجِعْ» ([24])

یعنې مونږ له تا سره بیعت کړی دی، بېرته ستون شه!

۴- حسین له خپل پلار څخه روایت کوي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «لَا تُدِيمُوا النَّظَرَ إِلَى الْمُجَذَّمِينَ، وَإِذَا كَلَّمْتُمُوهُمْ، فَلْيَكُنْ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَهُمْ قِيدُ رُمْحٍ» ([25])

یعنې جذام لرونکو ناروغانو کې سترګې مه ښخوئ او چې کله ورسره خبرې کوئ، نو ستاسو او د دوی تر منځ دې د نېزې په اندازه فاصله وي او په یو بل روایت کې د یوې او دوه نېزو د فاصلې یادونه شوې ده.

۵ - ابو هریره رضي الله عنه ویلي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

«لاَ عَدْوَى وَلاَ طِيَرَةَ، وَلاَ هَامَةَ وَلاَ صَفَرَ، وَفِرَّ مِنَ المَجْذُومِ كَمَا تَفِرُّ مِنَ الأَسَدِ» ([26])

یعنې (د خپل تاثیر او طبیعت له مخې) په مرض اخته شوي شخص څخه ناروغي بل چاته نه انتقالېږي، فال نیول نه شته، په شب فرک (شوپرک) مارغه هم فال نیول نه شته (عربانو داسې انګېرله، چې کله د مړي هډوکي وراسته شي، نو له هغه څخه هام مارغه جوړېږي، له قبر څخه راوځي او له خلکو څخه مړي ته احوال لېږدوي...)

همدارنګه د صفر المظفر په میاشتې هم فال نېول نه شته. (عربانو به یو کال په دې میاشت کې هر څه حلال او په بل کال کې حرام ګڼل...).

او له مجذوم شخص څخه داسې تښته لکه چې له زمري څخه تښتئ.

جذام داسې یو مرض دی، چې د بد ن پوستکی او غوښه څېرې کوي او له منځه یې وړي.

**یادونه**: د حدیث په وروستی برخه کې له جذام څخه د ساري ناروغۍ په توګه یادونه شوې، چې د مرض په انتقال دلالت کوي.

---

23 - محمد بن عيسى بن سَوْرة بن موسى بن الضحاك، الترمذي، أبو عيسى (1395 هـ - 1975 م) سنن الترمذي، تحقيق وتعليق: أحمد محمد شاكر، مصر: شركة مكتبة ومطبعة مصطفى البابي الحلبي، دوېم چاپ، ج ۴ ص ٦٦٨، شيخ الباني رحمه الله دا حديث حسن ګڼلی دی.

24 - صحيح مسلم: ج 4 ص 1752)

25 - أبو عبد الله أحمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن أسد الشيباني (1421 هـ - 2001 م) مسند الإمام أحمد بن حنبل، المحقق: شعيب الأرنؤوط - عادل مرشد، وآخرون، إشراف: د عبد الله بن عبد المحسن التركي: مؤسسة الرسالة، لومړی چاپ، ج ۲ ص ۲۱، د حديث اسناد ضعيف دي. خو مطلب يې له نورو روايتونو ثابت دی.

26 - صحيح البخاري: ج 7 ص 126)

**دویم: د نفي کوونکو دلایل**

ځینې علماء د مرض له سرایت او انتقال انکار کوي او په لاندې دلایلو استدلال کوي:

۱ - د اثبات په دلایلو کې د ابو هریره رضي الله عنه د حدیث په لومړۍ برخه کې د(لا عدوی و لاطیرة) یادونه شوې ده، چې د ناروغۍ په نه انتقالېدو دلالت کوي.

۲ - جابر بن عبد الله رضي الله عنه ویلي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د یو مجذوم شخص لاس ونیو او د خپل ځان سره یې په کاسه کې داخل کړ او بیا یې ورته وویل، «كُلْ، ثِقَةً بِاللَّهِ وَتَوَكُّلاً عَلَى اللَّهِ» ([27])

یعنې: خوره! او په الله تعالی باندې اعتماد او توکل کوه.

**د احادیثو تر منځ تطبیق**

۱ - ځینې علماوو ویلي د ساري ناروغیو انتقال احادیث منسوخ شوي، خو صحیح او د زیاتو علماوو نظر دا دی، چې احادیث منسوخ نه دي او حکم یې پر خپل ځای پاتې دی، البته د ځان ساتلو امر او له مجذوم څخه د فرار او تېښتې موضوع پر وجوب دلالت نه کوي، بلکې دا امر د استحباب لپاره دی. ([28])

۲ - همدا رنګه ملا علي قاري حنفي هراتي رحمه الله له مجذوم څخه د تېښتې موضوع د اسبابو په استعمالولو او وقایوي تدابیرو حمل کړې او د خوراک کولو حدیث په اعتماد او الله تعالی باندې د توکل او عقیدې له مضبوطتیا سره تړاو لري. ([29])

۳ - د نفي احادیث د جاهلیت د زمانې د هغې نظریې رد کوي، چې خلکو ګمان کولو، مرض په خپل طبیعت سره د الله تعالی له ارادې او رضا پرته انتقالېږي، نو اسلام دا خبره رد کړه او په دې هکله رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې نشین ته وویل: که له یمن اوبښ څخه مرض نورو ته انتقالېږي، نو لومړی اوبښ چا په مرض اخته کړ، یعنې د نفي احادیث د انسان عقیدوي اړخ مضبوطوي، تر څو انسان پر تقدیر ایمان ولري او په هر حال کې هر څه د الله تعالی له لوري وګڼي.

ځکه ډېر ځله ګورو، چې روغ انسان د ناروغ سره ناسته پاسته کوي، خو له هغه څخه ورته نه انتقالېږي او یا دا چې په یو کور کې ډېر خلک وي، خو یوازې یو شخص ته رسېږي او نور ور څخه په امان وي.

او که ووایو، چې مرض په مطلقه توګه په خپل طبیعت سره سرایت کوونکی دی، نو دا د کفارو او د باطلو عقیدو د څښتنانو نظر دی.

**یادونه**: اوسنی طب او معاصره تکنالوژي د مرض سرایت ثابتوي، چې د یادو معلوماتو په نظر کې نیولو سره د اسلامي شریعت له احکامو سره کوم ټکر او تضاد نه لري، بلکې د عقیدې ساتنې په موخه د ساري ناروغانو

---

27 - سنن ابن ماجه: ج 2 ص 1172، شیخ شعیب الارنووط ویلي: د دې حدیث اسناد ضعیف دی.

28 - شرح النووي علی صحیح مسلم، ج ۱۴ ص ۲۲۸.

29 - علي بن (سلطان) محمد، أبو الحسن نور الدین الملا الهروي القاري (1422هـ - 2002م) مرقاة المفاتیح شرح مشکاة المصابیح، بیروت: دار الفکر، لومړی چاپ، ج ۷ ص ۲۸۹۴.

ښځه ګوښه کېدل يو ښه کار او مستحب عمل دی.

**د ساري ناروغيو له امله د مړو شويو د غسل او جنازې حکم**

**پوښتنه:** هغه څوک چې د وبا، طاعون او کورونا ويروس په څېر انتقالېدونکو ناروغيو ځخه مړه شـوي وي، د غسل ورکولو او جنازې په هکله يې د اسلامي شريعت فقهاء او مجتهدين څه نظر لري؟

**ځواب:** ددې پوښتنې د ځواب لپاره اړينه ده، چې په دوه موضوعاتو رڼا واچوو:

**۱- مړي ته د غسل ورکولو او د جنـازې د اداء کولـو حکـم:** جمهـور فقهـاء (احنـاف ، مالکيـان، شـوافع او حنبليان) مړي باندې د جنازې لمونځ اداء کول او د موانعو د نشتوالي په صورت کې غسل ورکول فـرض کفـايي بولي، تر دې، چې ځينې يې د غسل په وجوب د اجماع دعوی کوي، چې په اړه يې امام سرخسيـ داسـې ويـلي دي:

(اعلم بأن غسل الميت واجب وهو من حق المسلم عـلى المسـلم قـال عليـه الصـلاة والسـلام: "للمسـلم عـلى المسلم ستة حقوق" وفي جملته أن يغسله بعد موته ولكن إذا قام به بعض المسـلمين سـقط عـن البـاقين لحصـول المقصود)[30].

ژباړه: پوه شه، چې مړي ته غسل ورکول واجب او د يو مسلمان پر بل مسلمان حق دی، چې نبي عليه الصلاة والسلام د مسلمان په شپږ ګونو حقوقو کې ور ځخه هم يادونه کړې ده؛ خو که ځينې مسلمانانو مړي ته غسل ورکړ د نورو غاړه هم خلاصه شوه.

او امام شافعي رحمه الله په کتاب (الأم) کې داسې ذکر کړي دي:

( حَقٌّ عَلَى النَّاسِ غُسْلُ الْمَيِّتِ، وَالصَّلَاةُ عَلَيْهِ، وَدَفْنُهُ لَا يَسَعُ عَامَّتَهُمْ تَرْكُهُ، وَإِذَا قَامَ بِذَلِكَ مِنْهُمْ مَنْ فِيهِ كِفَايَةٌ لَهُ أَجْزَأَ إنْ شَاءَ اللَّهُ)[31].

ژباړه: مړی په خلکو حق لري، چې غسل ورکړي، د جنازې لمونځ پرې اداءکړي او ښخ يې کړي، په عامه توګه ددې چارې پرېښودل روا نه دي؛ خو که ځينو خلکو دا کار وکړ، ان شاءالله اجر به ورکړل شي.

او امام ماوردي حنبلي زياته کړې: (غُسْلُ الْمَيِّتِ وَتَكْفِينُهُ وَالصَّلَاةُ عَلَيْهِ وَدَفْنُهُ: فَرْضُ كِفَايَةٍ) بِلَا نِزَاعٍ فَلَوْ دُفِنَ قَبْلَ الْغُسْلِ مَنْ أَمْكَنَ غُسْلُهُ لَزِمَ نَبْشُهُ، عَلَى الصَّحِيحِ مِنْ الْمَذْهَبِ)[32]. مړي ته غسل ورکول، کفن ورکول، د جنازې لمونځ پرې اداءکول پرته له کوم اختلافه کفايي فرض دي، خو که د امکان په صورت کې مړی له غسل ورکولو مخکې ښخ کړی شو، ويستل يې د (حنبلي) صحيح مذهب په اساس لازم (واجب ) دي.

---

[30] : شمس الدين أبو بكر محمد بن أبي سهل السرخسي(2000م)، المبسوط ،دراسة وتحقيق: خليـل محـي الـدين المـيس، خپروونکـې:دار الفكـر للطباعـة والنشر والتوزيع، بيروت، لبنان،ج۲،ص۱۰۵. محمد بن أحمد بـن عرفـة الدسـوقي المـالكي (ب ت)، حاشـية الدسـوقي عـلى الشرـح الكبـير، خپروونکـې: دار الفكر،ج۱،ص۴۰۷.

[31] : الشافعي، أبو عبد الله محمد بن إدريس بن العباس بن عثمان بن شافع ،(1990م )، الأم،ناشر: دار المعرفة – بيروت،ج۱،ص ۳۱۲.

[32] : علاء الدين أبو الحسن علي بن سليمان المرداوي (ب ت)، الإنصاف في معرفة الراجح من الخلاف،ناشر: دار إحياء التراث العربي، ج۲، ص ۴۷۰.

**۲- د موانعو د شتون په صورت کې مړي ته د غسل ورکولو حکم:** که مړي ته غسل ورکول ناشوني و، د بېلګې په توګه ساري ناروغي ولري، سوځېدلی وي، د سوځېدو له کبله ایره شوی وي، په لمبولو سره یې پړسوب رامنځ ته کېږي او یا داسې نور عوامل موجود وي، په دې هکله د اسلامي امت د فقهاوو نظریات په لاندې توګه دي:

۱- احناف وایي: که مړي ته غسل ورکول د اوبو د نشتوالي له کبله ممکن نه و، نو تیمم دې ورته ووهي، په دې هکله د (الهدایة) شارح بابرتي په (العنایه ) کې لیکلي دي:( مَنْ تَعَذَّرَ غُسْلُهُ؛ لِعَدَمِ مَا يُغْسَلُ بِهِ فَيُيَمَّمُ بِالصَّعِيدِ...)[33] یعنې که د غسل ورکولو د وسایلو (اوبو...) د نشتوالي له کبله مړي ته غسل ورکول ممکن نه و، نو په خاورې سره دې ورته تیمم ووهل شي.

خو که غسل ورکول د مړي د لمس کولو له کبله ناشوني و، نو بیا دې پرې اوبه واړوي او لاس دې پرې نه وهي، چې په دې اړه د (مراقي الفلاح) مصنف داسې لیکلي: (والمنتفخ الذي تعذر مسه يصب عليه الماء). [34]

یعنې هغه پړسېدلی، چې لمس کول یې ناشوني وي، همداسې دې پرې اوبه واړوي. همدې ته ورته ویناوې د مالکیانو، شافعیانو او حنبلیانو په کتابونو کې هم شته، تر دې چې ځینو یې زیاته کړې، که د غسل ورکولو او جنازې اداءکولو هیڅ امکان نه و، نو بیا دې غسل هم نه ورکوي او پر قبر دې د جنازې لمونځ اداء کړي.

**لاسته راوړنې**

۱- د ژوندي په څېر د مړي د ټولو حقوقو درناوی په مسلمانو لازم دی.

۲- مړي ته غسل ورکول او د جنازې لمونځ اداء کول فرض کفایي دي، که ځینو مسلمانانو دا کار وکړ، نو د ټولو ذمه خلاصه شوه او که هیڅ یو دا کار ونه کړ، نو ټول ګناهګار دي.

۳- د موانعو د شتون په صورت کې کېدای شي، چې مړي ته د غسل ورکولو پر ځای تیمم ووهل شي او یا پرې پرته له لمس کولو څخه اوبه واړول شي.

۴- د (الضرورات تبيح المحظورات – او- الضرورة تقدر بقدرها) فقهي قاعدو په اساس د پورتنیو مواردو په نظر کې نیولو وروسته، د مجربو او متخصصینو اشخاصو په سپارښتنه او د وقایوي وسایلو د نه شتون په صورت کې مړي ته غسل ورکول ساقطېږي.

## د ساري (ټول وژونکیو) ناروغیو پر وړاندې وقایوي او دفاعي تدابیر

د ساري ټول وژونکیو ناروغیو په وړاندې باید لاندې تدابیر په نظر کې ونیول شي:

۱ - د قرآن کریم تلاوت او د سهار او ماښام مسنونې دعاګانې لوستل. کېدای شي په دې هکله د شهید امام

[33]: محمد بن محمد الرومي البابرتي (ب ت)، العناية شرح الهداية،ناشر: دار الفكر،ج ۱۰،ص ۵۲۰.

[34]: حسن بن عمار بن علي الشرنبلالي المصري الحنفي (2005 م)، مراقي الفلاح شرح متن نور الإيضاح،بيا كتونكې: نعيم زرزور،ناشر: المكتبة العصرية،ص ۲۱۴

حسن البناء رحمه الله د مسنون دعاګانو له علمي رسالې څخه استفاده وشي.

۲ – د مرضونو او سختې په حالتونو کې لاندې دعاګانې لوستل:

- {رَبَّنَا ظَلَمْنَا أَنْفُسَنَا وَإِنْ لَمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ} ([35])
- {لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ سُبْحَانَكَ إِنِّي كُنْتُ مِنَ الظَّالِمِينَ} ([36])
- «اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْبَرَصِ، وَالْجُنُونِ، وَالْجُذَامِ، وَمِنْ سَيِّئِ الْأَسْقَامِ» ([37])
- « اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ جَهْدِ البَلاَءِ، وَدَرَكِ الشَّقَاءِ، وَسُوءِ القَضَاءِ، وَشَمَاتَةِ الأَعْدَاءِ » ([38])
- سبحان الله ډېر ویل، امام غزالي رحمه الله په (الحلية) کې له امام شافعي رحمه الله څخه نقل کړی دی، چې د طاعون تر ټولو ښه دوا د تسبیح (سبحان الله) ویل دي.

۳ - په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې ډېر درود ویل. ([39])

۴ - صدقات ورکول او د بې وزلو لاسنیوی کول، څکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي، صدقات بلاګانې او د الله تعالی غضب دفع کوي. ([40])

۵ - له اجتماعي اذکارو، دعاګانو او غونډو څان ساتل، حافظ ابن حجر رحمه الله ویلي: د وبایي ناروغیو لپاره د دعاګانو په خاطر خلک را غونډول بدعت دی. په دې اړه هغه داسې وایي: زموږ په زمانه یعنې د ۸۳۳ هجري سپوږمیز کال، ربیع الثاني په (۲۷) نېټه په قاهره کې د طاعون مرض عام شو، دا مهال د مړینو شمېر هره ورځ څلوېښت تنه ؤ، خو دوه میاشتې وروسته خلکو درې ورځې روژه ونیوله او په ډله ییزه توګه دښتو ته راووتل، تقریبا یو ساعت تم شول، له دعاء وروسته خپاره شول، میاشت لا نه وه تېره شوې، چې په قاهره کې د مړو شمېر هره ورځ تر زرو تنو ورسېده او همداسې زیاتېدل. ([41])

٦ - په دې اړه د مسلمانو او صالحو ډاکترانو مشورو ته غوږ نیول، د بېلګې په توګه نن ورځ د کورونا ویروس د مخنیوي په خاطر د فاصلې مراعتول، که څه هم د طبي ډاکترانو توصیه ده، خو همدا توصیه د عمرو بن العاص رضي الله عنه په وینا کې هم وینو او هغه دا چې کله عبد الرحمن او پلار یې عوف رضي الله عنهما د طاعون د مرض له کبله د خپلې دعاء په اساس، چې د شهادت مقام خپل کړي، مړه شول، د کوفې د واکمنۍ چارې عمرو بن العاص رضي الله عنه ته وسپارل شوې، هغه خلکو ته په خپله لومړۍ خطبه کې وویل: ای خلکو! دا درد او وبا داسې یو مرض دی، چې په راتلو سره یې د اور لمبې زیاتېږي، نو له دې څخه په غرونو کې څان وساتئ (جدا شئ). د نوموړي دا خبره سره له دې، چې څینې موجودو صحابه و د توکل خلاف وګڼله او رد یې کړه، خو کله،

35 - سورة الأعراف: 23 ایت.

36 - سورة الأنبياء: 87 ایت.

37 - مسند أحمد، ج 20 ص 309.

38 - صحيح البخاري (8/ 126)

39 - بذل الماعون، ص ۳۳۷.

40 - سنن الترمذي (3/ 43)

41 - بذل الماعون، ص ۳۳۷ - ۳۳۸.

چې امیر المؤمنین عمر رضي الله عنه ته دا خبره ورسېده، هغه رد نه کړه. ([42])

۷ - په داسې حالاتو کې پر حکومت، دیني علماوو، ډاکترانو او ساینس پوهانو لازمه ده، چې د وګړو په عامه پوهاوي کې لازمه برخه واخلي، تر څو د غافلو مشرانو په کتار کې را نه شي او د اخروي او دنیوي ذلت او عذاب مستحق نه شي.

۸ - د مرض لپاره د دوا او علاج کوښښ کول، ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: الله تعالی چې هر مرض پیدا کړی، له مرګ پرته یې ورته دوا هم پیدا کړې ده.

**پایله**

له دې څېړنې څخه لاندې نتایج په لاس راځي:

۱- په (۲۰۱۹- ۲۰۲۰)زېږدیز کال کې کورونا ویروس(کووید۱۹) هغه ساري ناروغي ده، چې له وبایي او طاعوني ناروغیو سره په ټولوژنه کې ورته والی لري.

۲- وبا، طاعون او دې ته ورته نورې ساري ناروغۍ له اسلام څخه دمخه او د اسلام د ځلانده لمر له راختلو وروسته ډېر ځله واقع شوي دي.

۳- وبایي لېږدېدونکې ناروغۍ د کفارو پورې ځانګړې نه دي، مسلمان او کافر دواړو ته رسېږي، خو د کافر لپاره عذاب او د مؤمن لپاره رحمت او د اخرت د عذاب د کموالي او یا معاف کېدلو سبب ګرځي.

۴- د وبا او په ټولنیزه توګه د لېږدېدونکیو ناروغیو ښکاره سبب زنا، فحشاء را څرګندېدل ښودل شوي دي، خو ویلای شو، چې دا ډول ناروغۍ د الله تعالی د ناخوښۍ او قهر په صورت کې پر انسانانو نازلېږي.

۵- تر اوسه دا معلومه نه ده، چې کورونا ویروس (کووید۱۹) اسماني افت دی او که د لویو نړیوالو قوتونو تر منځ بیولوژیکي زور ازموینه ده. په هر حال یاده ناروغي که د انساني فکر زېږنده هم وي، خو د انسان له تصور څخه یې زیات هغه څه رامنځ ته کړل، چې اوس یې پخپله هم په چاره نه پوهېږي. الله تعالی دوی په خپلو تدبیرونو او چلونو کې ناکام کړل او دا یې وروښودله، چې د هر څه خالق او متصرف یوازې الله تعالی دی.

۶- په کوم ځای کې، چې لېږدېدونکي وبایي ناروغي رامنځته شي، په دې هکله معاصره طبي ټکنالوژي او اسلامي شریعت د ځان ساتنې په هکله یو ډول نظر لري، خو اسلامي شریعت مسلمانانو ته د مرض د انتقال ترڅنګ په تقدیر د ایمان درلودلو لارښوونه کوي او له مسلمانانو غواړي، چې د نفع او ضرر مالک یوازې الله تعالی وګڼي.

۷- له وبایي ناروغیو څخه د وقایې په خاطر باید د اسلامي شریعت، طبي مسؤلینو او حکومت مشورو او سپارښتنو ته پوره پاملرنه وشي.

۸- له وبایي ناروغیوڅخه د مړینې رامنځ ته کېدو په صورت کې باید د ژوندي په څېر د مړي د ټولو حقوقو

42 - مسند احمد، ج ۳ ص ۲۲۶.

درناوی وشي. د موانعو د نه شتون په صورت کې غسل ورکول شي او د جنازې لمونځ پرې اداءشي، خو د موانعو د شتون په صورت کې کېدای شي، چې مړي ته د غسل ورکولو پر ځای تیمم ووهل شي او یا پرې پرته له لمس کولو څخه اوبه واړول شي. البته د یادو مواردو په نظر کې نیولو وروسته د (الضرورات تبیح المحظورات –او- الضرورة تقدر بقدرها) فقهي قاعدو په اساس د مجربو او متخصصو اشخاصو د سپارښتنو او وقایوي وسایلو د نه شتون په صورت کې مړي ته غسل ورکول ساقطېږي.

**وړاندیزونه**

۱ - د نظافت مراعت کول او ډېر ځلې د لاسونو وینځل.

۲ - په وقایه کې د ذکر شویو نصوصو مسنونو دعاء ګانو او د عامې روغتیا وزارت لارښوونې په جدي توګه په پام کې نیول.

۳ - د ټولیزو غونډو او د ګڼه ګوڼې له ځایونو څخه لیرې والی.

۴ - یو بل سره د مخامخ کېدلو په صورت کې د فاصلې مراعتول.

**ماخذونه**


1. قرآن کریم.

2. ابن الأثير، مجد الدين أبو السعادات المبارك بن محمد بن محمد ابن عبد الكريم الشيباني الجزري (1399هـ - 1979م) النهاية في غريب الحديث والأثر، تحقيق: طاهر أحمد الزاوى - محمود محمد الطناحي بېروت: المكتبة العلمية .

3. ابن حجر،(--)، بذل الماعون في فضل الطاعون، تحقيق:احمد عصام عبدالقادر الكاتب،رياض،دار العاصمة.

4. ابن ماجة، أبو عبد الله محمد بن يزيد القزويني (ب ت) سنن ابن ماجه، تحقيق: محمد فؤاد عبد الباقي: دار إحياء الكتب العربية - فيصل عيسى البابي الحلبي، باب العقوبات.

5. أبو داود، سليمان بن الأشعث بن إسحاق بن بشير بن شداد بن عمرو الأزدي السِّجِسْتاني (المتوفى: 275هـ) سنن أبي داود، المحقق: محمد محيي الدين عبد الحميد، بېروت: المكتبة العصرية، صيدا.

6. البابرتي ،محمد بن محمد الرومي (ب ت)، العناية شرح الهداية،ناشر: دار الفكر.

7. البخاري، محمد بن إسماعيل أبو عبدالله الجعفي (ب ت) صحيح البخاري، المحقق: محمد زهير بن ناصر الناصر: دار طوق النجاة .

8. الترمذي، محمد بن عيسى بن سَوْرة بن موسى بن الضحاك، ، أبو عيسى (1395 هـ - 1975 م) سنن الترمذي، تحقيق وتعليق: أحمد محمد شاكر، مصر: شركة مكتبة ومطبعة مصطفى البابي الحلبي، دوېم چاپ.

9. جانګ ون هونک (۲۰۱۹م) پښتو ژباړن: محمد اصف شینواری، کورونا ویروس (کوید۱۹) جلال کوټ:

ختیځ خپرندویه ټولنه.
10. الدسوقي المالكي،محمد بن أحمد بن عرفة (ب ت)، حاشية الدسوقي على الشرح الكبير، خپروونکی: دار الفكر.
11. الزرقاني، محمد بن عبد الباقي بن يوسف المصري الأزهري (1424هـ - 2003م) شرح الزرقاني على موطأ الإمام مالك، تحقيق: طه عبد الرءوف سعد، قاهرة: مكتبة الثقافة الدينية، لومړی چاپ.
12. السرخسي،شمس الدين أبو بكر محمد بن أبي سهل (2000م)، المبسوط،دراسة وتحقيق: خليل محي الدين الميس، خپروونکی:دار الفكر للطباعة والنشر والتوزيع، بيروت.
13. الشافعي، أبو عبد الله محمد بن إدريس بن العباس بن عثمان بن شافع ،(1990م )، الأم،ناشر: دار المعرفة – بيروت.
14. الشرنبلالي ،حسن بن عمار بن علي المصري الحنفي (2005 م)، مراقي الفلاح شرح متن نور الإيضاح،بيا كتونكی: نعيم زرزور،ناشر: المكتبة العصرية.
15. الشيباني، أبو عبد الله أحمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن أسد الشيباني (1421 هـ - 2001 م) مسند الإمام أحمد بن حنبل، المحقق: شعيب الأرنؤوط ، بېروت: مؤسسة الرسالة، لومړی چاپ.
16. الطبري، محمد بن جرير بن يزيد بن كثير بن غالب الآملي، أبو جعفر (1422 هـ - 2001 م) تفسير الطبري = جامع البيان عن تأويل آي القرآن، تحقيق: الدكتور عبد الله بن عبد المحسن التركي، دار هجر للطباعة والنشر والتوزيع والإعلان، لومړی چاپ.
17. القاري، علي بن (سلطان) محمد، أبو الحسن نور الدين الملا الهروي (1422هـ - 2002م) مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح، بېروت: دار الفكر، لومړی چاپ.
18. اللكنوي، محمد عبد الحي بن محمد عبد الحليم الأنصاري الهندي، أبو الحسنات (1426 هـ - 2005 م) التعليق الممجد على موطأ محمد (شرح لموطأ مالك برواية محمد بن الحسن) تعليق وتحقيق: تقي الدين الندوي أستاذ الحديث الشريف بجامعة الإمارات العربية المتحدة دمشق: دار القلم، څلورم چاپ.
19. المرداوي ،علاء الدين أبو الحسن علي بن سليمان (ب ت)، الإنصاف في معرفة الراجح من الخلاف،ناشر: دار إحياء التراث العربي .
20. مسلم، بن الحجاج أبو الحسن القشيري النيسابوري (ـــــــ) صحيح مسلم، محقق: محمد فؤاد عبد الباقي، بېروت: دار إحياء التراث العربي.
21. النووي، أبو زكريا محيي الدين يحيى بن شرف النووي (1392هـ) المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج، بېروت: دار إحياء التراث العربي، دوېم چاپ.
22. Encyclopedia britannca.viii 20 - 21 plagene.

پوهاند محمد بشير دوديال او پوهنوال محمد زبير نورمل
اقتصاد پوهنځی

# پر اقتصاد د کورونا ويروس د خپرېدو منفي اغېزې

**لنډيز**

د تاريخ په بېلابېلو وختونو کې انساني ټولنې له راز راز ناخوالو او کړکېچونو سره مخامخ شوي دي، زموږ په اوسني وخت کې دغو ناخوالو ته بحرانات اوحوادث (crisis & disasters) وايي. په دې کې جګړه، زلزلې، سيلابونه، ناروغۍ، وچکالي، سياسي کشمکشونه او داسې نور مصيبتونه راځي. له علمي پلوه د بحران مديريت او د حوادثو مديريت لپاره ټاکلي او ښودل شوې طريقې شته، د نن ورځې نوې عامه ادارې او علمي مديريت دغو دواړو حالاتو ته د حل لارې ښودلي دي، هغه څه چې مهم دی، هغه د دغو پېښو او مصيبتونو اقتصادي، روحي او اجتماعي ناوړه تاثيرات دي. له بده مرغه د ۲۰۱۹ په وروستيو او د ۲۰۲۰م. کال په لومړيو کې د کورونا د ساري ناروغۍ پېښېدل همداسې يوه پېښه وه. دغې پېښې د څو هېوادو اقتصاد ته نه، بلکې د ټولې نړۍ اقتصاد ته ټکان ورکړ، نړۍوال بانک (WB) او د پيسو نړۍوال صندوق (IMF) عاجل تدابير ونيول او وضعيت يې بحراني وباله. د ملګرو ملتونو د سازمان د روغتيا نړۍوالې موسسې عاجل تدابير اعلان او حکومتونو ته يې اضطراري مشورې پيل کړې. د روغتيا نړۍوالې ادارې د وروستيو معلوماتو له مخې د کورونا وايرس له چين څخه د نړۍ ۱۲۲ هېوادونو ته په ډېرې چټکۍ خپور شوی او تر اوسه له ۱۶۰۰۰۰۰ تنو څخه زيات وګړي پرې ککړ او له ۹۰۰۰۰ تنو يې زيات وژلي دي. (۲۶/۱/۱۳۹۹) دغه ارقام د تغيير په حال کې دي. تر ټولو زيات تلفات په نيويارک، ايټاليا، اسپانيا، چين او ايران کې واقع شول. د کورونا وايرس خپرېدو د نړۍ اقتصاد په ټپه ودراو او د ټولنيزو او روغتيايي خدماتو عرضه يې ډېره ټکنۍ کړه. د پيسو نړۍوال صندوق او نړۍوال بانک دغه اقتصادي زيان ميلياردونه ډالر تخمين کړ، چې ممکن بشريت يې تر ۲۰۲۲م. کال پورې جبران نه شي کړای (د پيسو د نړۍوال وجهي صندوق راپور- ميډيا).

**کليدي کلمې:** کورونا ناروغي، پر اقتصاد باندې د کورونا اغېزې، تر ناروغۍ وروسته د نرخونو مقايسه، د قيمتونو د شاخص تحليل.

**سريزه**

هره ناوړه پېښه، ناروغۍ او نور آفات منفي اقتصادي، اجتماعي او روحي تاثيرات لري. يو شمېر ناروغۍ، د کار خنډ ګرځي او د کار بشري ځواک متاثره کوي، يو شمېر نور د دارو- درملو د مصارفو له امله اقتصاد زيانمن کوي، يو شمېر ناروغۍ، د قرنطين کېدو له امله کارونه ځنډ او خنډ سره مخامخ کوي، يو شمېر نورې ناروغۍ بشري ځواک له فلج کېدو او حتی مرګ سره مخامخ کوي، د بشري ماهرځواک د مړينې له امله بشري نيرو له زوال سره مخامخ کېږي. په دې توګه ناروغۍ بېلابېل منفي اقتصادي عوارض لري. په دې کې يو هم د کورونا ناروغي ده، چې د ۲۰۱۹ په وروستيو او د ۲۰۲۰په لومړيو کې د يوې فوق العاده اپيډيميکي ناروغۍ په توګه په سرعت سره په ټوله نړۍ کې خپره شوه. له دې امله چې دا يوه فوق العاده ګړندۍ ساري ناروغي وه، هېوادونه

مجبور شول چې د قرنطین اصول وضع او خلک په کورونو کینوي او د لوړ مصرف لرونکي اضافي تدابیر ونیسي. د دې په نتیجه کې ډېرې فابریکې او اقتصادي تولیدي فعالیتونه متوقف شول. آن دا چې د ډېرو پرمختللو هېوادو اقتصاد زیان ومانه، نه یواځې دا چې فابریکې ودرېدې؛ بلکې دولتونه مجبورشول لویه بودجه او اضافي پروژې دغې ناروغۍ سره د مبارزې او ځېل شویو خلکو ته تخصیص کړي. وزګارو شویو سره اقتصادي مرستې یوبل اضافي بار و چې دولتونو غاړه ورته کېښوده. د ناروغۍ له امله د مړو شویو تدفین او تکفین هم یو لوی بوج دی.

## پرابلم

کورونا ناروغۍ یو ناڅاپي پېښه شوه، نه یواځې دا چې پرمختیایي هېوادونو، بلکې پرمختللو صنعتي او د ښه اقتصاد لرونکو هېوادونو هم ورته کوم مخکېني تدابیر نه لرل. زموږ یوشمیر خلک د هغې په وړاندې په تدابیرو عقیده نه لري او وايي چې دغه ناروغي مسلمانان نه نیسي. حال داچې دیني ارشادات حکم کوي که چېرې وبا ګډه وي، له هغې سیمې مه وځئ او مه ورځئ. دا یوه وایروسي ناروغي ده چې تر اوسه یې درمل او واکسین موجود نه دي. دا د انسان او حیوان ترمنځ شریک (زونوسز) مرض دی. د دې مخنیوی ډېر ستونزمن دی. کله یې چې سرایت ټولنه کې دوران پیل کړي، باید ټول فعالیتونه ودرول شي او ټولنیزه فاصله او قرنطین جبري شي. د دغې ناروغۍ د کنترول او د مصابینو د تداوي یا د هغو تر درملنې لاندې نیولو ته لوړ مصارف او ځانګړي روغتونونه، لوړې بیه لرونکې وسیلې (کیتونه)، زیات شمېر ماسکونه، د اکسیجن دستګاوې، دیترجنت او ګړندي امبولانس په کار دی. دا ټول د لوړ لګښت لرونکي تدابیر دي چې د نورو فشارونو (روحي او اجتماعي ناخوالو) ترڅنګ په اقتصاد هم ډېر بوج راوړي. په دې توګه دا هر هېواد؛ په تېره بیا پرمختیایي هیوادونو ته لوی پرابلم دی.

## موخې

د دغې مقالې موخې دا دي:

- د کورونا ناروغي لنډه پېژندنه؛
- په اقتصاد باندې د کورونا ناروغۍ منفي تاثیرات؛
- د ناڅاپي پېښو پر مهال د لازمو تدابیرو پېژندنه؛
- عامه پوهاوی او بحراني حالاتو د مخکنیو احتیاطي تدابیر او د جبران د طریقو ښودل.

## اهمیت

د کورونا ناروغۍ پېښېدلو ټوله ټولنه متاثره کړه. تر دې مخکې خلکو د دغه ډول پراخه پانډیمیک پېښو په هکله لازم معلومات او تجربه نه درلوده. په افغانستان کې د دې ډول مصیبت په هکله عنعنوي تفکرات او د روغتیایي مشورو نشتوالی یا د میډیا له لارې د روغتیا ساتونکو خبرو ته غوږ نه نیول او هغه بابیزه ګڼل باید تر پاملرنې لاندې راوستل شي، له دې پرته د دې پېښو عواقب او جبران په هکله تجویز وشي.

**تېرو ليکنو ته کتنه**

په اقتصادي ليکنو کې بېلابېل بحرانونه څېړل شوي، خو دغه بحرانونه يا د لويو جګړو، يا د مالي ماتې اوناوړه پولي پاليسيو له امله متاثر شوي بحرانونه ول، دا چې يوه پانډيميک پېښه د نړۍ اقتصاد بحران سره مخامخ کړی، نه دی څېړل شوی، له بلې خوا له ټولنيز او روحي پلوه هم ډېر آثار په لاس کې نشته، ځينو آثارو کې د دې ډول حالاتو په هکله يو شمېر ليکنې شوي، چې مثالونه يې دادي:

- د واشنګټن پوهنتون او د ماساچوسټ انسټيټوټ دوه تنو پروفيسرانو؛ Rechard Startz او D.Rudiger په خپل نامتوکتاب ( Macroeconomics- 8th edition) کې په پنځمه برخه ۴۱۱-۴۴۶مخونو کې د( Big Events) عنوان لاندې د يو شمېر نړۍوالو مهمو پېښوپه له امله د واقع شويو بحراناتو تحليل کړی دی. په تيره بيا د-۱۹۲۹ ۳۱کلونو لوی اقتصادي بحران يې څېړلی، بيا يې د ۸۳-۱۹۸۰کلونو اقتصادي ټکانونه تحليل کړي دي،د۱۹۸۸ انفلاسيون او د هغه تاثيرات يې ښودلې دي. د دغه کتاب دغه تحليلونه ډېر د زده کړې وړ او اقتصاد پوهانو ته د پاملرنې وړ دي. دغه کتاب د McGraw-Hill-Education نشراتو په ۲۰۱۶کال کې چاپ کړی دی.
- د لوړو زده کړو وزارت په ۱۳۶۷کال کې د روانشناسي عمومی تر عنوان لاندې د څلورو تنو مولفينو يو ډېر ګټور درسي کتاب نشر کړی دی. په دغه کتاب کې له رواني لحاظه په دغه ډول بحرانونو کې د ټولنې او وګړو حالات تشريح شوي دي، دغه اثر له رواني پلوه په انسان باندې د پېښو اثرات توضيح کوي، يو ډېر ګټور او په زړه پورې کتاب دی. په مصيبتونوکې له خلکو سره د دوی د روحي پياوړتيا سره مرسته کوي.
- ډاکتر محمد شعيب تميم په ۱۳۹۶کال کې (غذاهای مفيد) عنوان لاندې يو ډېر ګټور کتاب ليکلی چې ( ACKU) نشر کړی، په دغه اثر کې د ناروغيو په وخت کې د ګټورو خوړو، په تيره د ويټامينونو د ګټورتيا په هکله ليکنه شوې ده، هغه طبيعي خوراکونه، د مفيدو ويټامينونومنابع، سابه او ميوې يې ښودلي چې د انسان د وجود مقاومت څو ځله اوچتولای شي. د دغه کتاب لوستل ټولو خلکو ته په هره سويه چې وي، ګټور او په زړه پورې دی، آن دا چې مکمله تداوي يې ښودلې ده، که چېرې د افغانستان په شان هېوادو کې چې سابه او خپل محلي زراعتي او طبيعي ګټور پيداوار لري، خلک د دغه کتاب له محتوياتو خبر شي، د خپلو پيداوارو په اهميت، د خپل وجود په پياوړي کولو، د غذايي محصولاتو په ښه استعمال او پروسس او لازمو وختو کې (په تېره د۲۰۲۰کال د پيښې په شان وخت کې) له هغوځخه په استفادې او آن په پخلي به يې ډېر ښه پوه شي.
- Colander David C. د متحده ايالاتو نامتو اقتصاد پوه د( ECONOMICS) تر عنوان لاندی څلورم چاپ کتاب کې د ټولنيزو او نورو بحراناتو په وخت کې اقتصادي مسايل څېړلي دي، د دغه اثر اهميت په دغه ډول حالاتو کې چې اوس موږ ورسره مخامخ يو، ډېر اوچت دی. دغه کتاب وروسته تر ناوړه حالاتو څخه، عادي حالت ته بيرته د اقتصاد ګرځول ډېر ښه بيانوي.
- د S.Jaggia او A.Kelly په نومونو نامتو اقتصاد پوهانو دBusiness Statistics په نوم د کاروبارونو او تجارت احصائيوي تحليلونه کړي دي، دوی د بحران، انفلاسيون او نورو وختونو کې د رونق او رکود مسايل په احصائيوي ميتودونو بيان کړي او هغه طريقې يې ښودلي چې څنګه بايد د اقتصادي رونق او رکود شاخصونه او مقايسه وکولای شو. دغه نامتو درسي کتاب د McGraw-Hill-Education نشراتو په ۲۰۱۴کال کې چاپ کړی دی.

- محمدصلی‌الله‌علیه‌وسلم د اسلام هغه پیغمبر چې باید له سره یې وپیژنو، کتاب چې کونستان ویرژیل ګیورګیو لیکلی او سبامیوند خپرندویې ټولنې په ۱۳۸۲کال کې په پېښور کې نشر کړی دی، د اسلام د صدر دوران وقایع تشریح کوي او د حضرت محمدصلی‌الله‌علیه‌وسلم مبارک سیرت یې بیان کړی دی. په دغه کتاب کې د ستونزو او مصیبتونو پر مهال د اسلام د مبارک دین ارشادات او د مبارک نبي چلند او احادیث راغلي دي. د سختیو پر وړاندې یې د صبر او زغم او د ښېښو پرمهال یې تدبیرونه ښودلي دي. یو ډېر روزونکی او ګټور کتاب دی.
- مستقبل خپرندویې ټولنې په ۱۳۹۲کال کې د حضرت محمدصلی‌الله‌علیه‌وسلم د نړۍ سترسیاسي او ټولنیز شخصیت تر عنوان لاندې یو ګټور اثر چې ع.ناصري لیکلی، نشر کړی دی، د دغه کتاب په ۱۸۶مخ کې د نبوي دولت اقتصادي پروګرامونه تر عنوان لاندې یو څپرکی دی، چې مسلمانانو ته په سختو حالاتو کې د زکات او مرستو لارښوونه کوي او دا راښیي چې د ټولنې معیشتي وضعیت بېلابېلو وختو کې څنګه په ښو ودروو او اقتصادي ثبات ولرو.
- څرنګه چې مقاله د پېښې په جریان کې لیکل شوې، د ورځنیو خبرونو او میډیا(خصوصاً بي بي سي، آزادي راډیو، طلوع تلویزیون) اخبارونو څخه استفاده وشوه، د پوهاند محمد بشیردودیال هغه درې لیکنې چې د قرنطین، په بحراني حالاتو کې ملي بنسټونه او کورونا او اقتصاد چې تازه همدې ورځو کې افغان- جرمن آنلاین، اریانا آنلاین، تاند ټکی کام، سپرغۍ، هېواد او انیس او په اروپا کې د ښاغلي ضرابي د میډیا مرکز له خوا نشر- شوي هم په نویو اخځونو کې راتلای شي. څرنګه چې دولت په قرنطین ډېر تاکید کاوه، عوامو خلکو له قرنطین ویره وښوده او داېې کوم ډول جزا او توهین وباله، نو د قرنطین ګټورتیا، تاریخچه او ضرورت تشریح شوی دی. د نامتو دیني عالم محترم م.محق راډیویي مرکې هم ګټورمعلومات لرل او د طب د پوهنځي پخوانی استاد په هالند کې میشت افغان دوکتورع.ترابي او له مادرید څخه د پروفیسور حکمي فیسبوکي معلومات او دعامې روغتیا د وزیر صیب ښاغلي فیروزي او د کورونا په وړاندې دتدابیرو د کمیټې دمشر- محترم مولوی صاحب عابد(دکابل د حاجي عبدالرحمن د جامع جومات) د امام مرکې هم د یادونې وړ دي. ملي راډیو-تلویزیون مجبور شو چې د خلکو د پوهاوي په خاطر یو ډېر غوره پروګرام (د منبر او ډاکترغږ) په نوم نشر- کړي، په دې پروګرام کې د هېواد جید عالم اود پُلخشتي د جومات خطیب او د عامې روغتیا وزیر دواړو په ګډه ویناوې وکړې، دغه معلوماتي پروګرام چې دیني او علمي- طبي معلومات یې لرل، څو ورځې پرله پسې نشر شو.

## د څېړنې میتود

دغه مقاله د څېړنیزو میتودونو له مخې ګډه بڼه لري، هم کتابتون ته مراجعه شوې، هم خلکو سره مرکې شوي دي، هم د کورونا پېښې له امله د ورځنیو نرخونو ثبت او مقایسه شوې، هم د خلکو روحیات او ستونزې هره ورځ کتل او پوښتل شوي دي، د دغې پېښې له امله په بازار ، نرخونو او د خلکو په ورځني ژوند او پر اقتصاد د دغې پېښې اثرات تحلیل شوي دي، یعنې هم کیفي او هم کمي ده. د نړیوال اقتصاد د غورځېدو ارقام او ګراف هم ښودل شوي دي. دغه څېړنیزه مقاله داسې وخت کې تکمیل شوه، چې لا هم بحران او پېښې جریان درلود. اما د خلکو د پوهاوي لپاره ژوندي او ورځني مثالونه راوړل شول او تازه تازه وقایع پکې راغلي دي. شاید دا به یوځانګړی کیس وي چې لیکوالان د ورځنیو مشاهدو او د یوې استثنایي پېښې د جریان په بهیر کې یوه له نږدې څخه مشاهده کېدونکې څېړنه کوي او خلکو ته د دې موضوع په هکله مشوره او دولتي ادارو او په مجموع کې

ټولې ټولنې ته خپل پیشنهادونه وړاندې کوي. د مقالې یوتن لیکوال په کابل کې او دویم په په جلال اباد کې دکاروبارونو او بیوارقام او جریانات تر څارنې لاندې لرل. د ننګرهار پوهنتون له رئیس څخه ډېره مننه کوو چې د دې ډول لیکنې د چاپ او نشرهدایت یې ورکړ او په داسې یوه حساسه موضوع یې تمرکز وکړ. د پوهه مجلې له مدیر او هغو کسانو څخه چې موږ سره یې مرکه کړې هم مننه کېږي. د ننګرهار ولایت له والي صیب، امنیتي مسئولینو، ترافیک، د ښاروالۍ منسوبینو او د عامې روغتیا له ریاست څخه هم مننه کوو، چې عاجل تدابیر یې لاس لاندې نیولي دي.

## د کورونا ایپډیمي او پر اقتصاد یې ناوړه اغیز

د تاریخ په اوږدو کې ډېرې ساري وژونکي ناروغۍ پېښې شوي چې عوام یې وبا بولي(۹۸:۱). دغه ناروغۍ زیاتره زونوسز یعنې د الوتونکو او څارویو او انسان ترمنځ شریکې دي. اصلي عامل په حیوان کې وي او بیا انسان ته سرایت کوي، دوه کاله مخکې د چرګانو والګی او همدا تیر کال یې د سارس ناروغي نور مثالونه دي، خو اوسنی ایپډیمي ( COVID-19)یو ډېره ژر خپرېدونکې وایروسي ناروغي ده. د روغتیا نړۍوالې ادارې د راپور له مخې کورونا وایرس په لومړي ځل د ۲۰۱۹ کال په ډیسمبر میاشت کې د چین په ووهان ښار کې وپیژندل شو. د چین او روغتیا نړۍوالې ادارې په لابراتوارونو کې د دې وایرس د اخته کسانو معاینې وشوې او پوهانو دا وایرس د "کورونا" وایرس له کورنۍ بللی دی. کورونا په لاتیني او انګلیسي ژبو کې تاج (خول) ته وایي، د دې وایرس ظاهري شکل خول ته ورته دی. تراوسه د کورونا وایرس شپږ ډولونه موندل شوي او دا وروستی یې هم اوم دی. د دې وایرس د لېږدېدو ځای دووهان ښار کې د سمندري ژویو او خوړو بازار وښودل شو. د روغتیا نړۍوالې ادارې د وروستیو معلوماتو له مخې د کورونا وایرس له چین څخه د نړۍ ۱۲۲ هېوادونو ته په ډېرې چټکۍ خپور شو، تر اوسه له ۱۶۰۰۰۰۰ تنو څخه زیات وګړي پرې اخته او له ۹۰۰۰۰ تنو یې زیات وژلي دي(۲۶/۱/۱۳۹۹). تر همدا نن (۲۶/۱/۱۳۹۹) پورې په افغانستان کې کورونا ۲۷ولایتونو ته خپره شوې، زیاتې پېښې هرات، فراه او کابل کې دی، په لوګر، خوست، پکتیا، غور او نیمروز کې هم مثبتې پېښې ثبت شوي دي، د ټولو اخته ناروغان شمېر نن ۷۰۰ ته ورسید په دې ډول سره په هېوادکې په منځني ډول هره ورځ ۳۲ پېښې نوې ثبت کېږي،چې په لومړیو ورځو کې ډېرې کمې، خو وروسته زیاتې شوې(۱۰).

دا چې د کورونا وایرس د نړۍ هرګوټ ته په ډېرې چټکتیا سره خپرېږي، نو اکثرو هېوادونو ددې وایرس د خپرېدو د مخنیوي لپاره یوشمېر تدابیرعملي کړي. لکه ګرځبندیز، ټولنیز واټن عملي کول، ګڼې ګوڼې مخه نیول،قرنطین، غذايي تقویه، روحي تسکین، فوق العاده احتیاطي صحي تدابیر او د نویوروغتونو جوړول او نور چې دغو تدابیرود انسانانو د ژوند د نورو برخو ترڅنګ اقتصاد ته هم سخت زیان اړولی دی. اقتصادي فعالیتونه یې په ټپه ودرول، اقتصادي وده خورا را ټیټه شوه او د نړۍ د اقتصاد څرخ له حرکته لوېدلی دی. د کورونا وایرس د نړۍ اقتصاد ته اقتصادي شاک یا ټکان (Economic Shock) ورکړی او اکثرو هېوادونو خپلې ټولې چارې یوې څنډې ته پرېښې دي او د دې وایرس د خپرېدو مخنیوي لپاره په هلو ځلو بوخت دي چې په افغانستان کې یې د اقتصاد ترڅنګ په سیاسي مسایلو او د تلپاتې او آبرومندانه سولې په جریان هم منفي تاثیر وکړ. څومره چې

کورونا وایرس ژر خپرېږي په هماغه اندازه اقتصادي حالت مخ په ځوړ ځي. د کورونا وایرس داقتصادی شاک (ټکان) په هکله تازه حقایق دا دی[43].

**په مجموعي تقاضا کې کموالی (The Decrease in Aggregate Demand)**

د کورونا وایرس د خپرېدو د مخنیوي لپاره د ټولنیز واټن ساتل، په کور کې پاتې کېدل، قرنطین او د روغتیا نړۍوالې اداري لخوا نورې لاربښوونې او ممانعتونه چې د دې وایرس د خپرېدو مخنیوي لپاره شوي دي ددې سبب ګرځېدلی چې ښارونه وتړل شي، سوداګریز سکتورونه خپل فعالیتونه ودروي، خلک کار ته لاړ نه شي، ښوونځي، پوهنتونونه او د زده کړو بنسټونه وتړل شي، دولتي او خصوصي اداري رخصت شي، شخصي-کاروبارونو باندې هم منفي اغېز وښندي. د خصوصي سکتور فعالیتونو په ټپه درېدل او په ټوله کې د ګربندیز پلي کېدا له امله په بازارونو کې عمومي تقاضا کمېږي، تولید کمېږي، بې روزګاري لوړېږي، عایداتي سرچینې وچېږي، د پیرلو توان کمېږي او خلک هڅه کوي څو راتلونکي نامعلوم حالت لپاره د تیاري په موخه یو څه سپما ولري او د یو څه سپما لپاره خپل لګښتونه کموي. په ټوله کې د لګښتونو کموالي سره په عمومي تقاضا کې د پام وړ کموالی راځي. دغه ګراف په ټوله نړۍ. په تیره لویو اقتصادونو باندې د دې پېښې اثر ښکاره کوي.

*۱.شکل، د نړۍوال اقتصاد رکود*




**په مجموعي عرضې کې کموالی (The Decrease in Aggregate Supply)**

د مجموعي تقاضا د کموالي ترڅنګ مجموعي عرضې کې هم کموالی راغلی. ګرځبندیز، د عایداتي سرچینو وچوالی، د کاروبارونو په ټپه ودرېدل، رسټورانټونو، هوټلونو، سیاحت ځایونو، الوتنو، ترانسپورټ سیستم او نورو تشبثاتو تړل کېدلو سره د توکو تولید او ویش هم تر ټولو ټیټې کچې ته رسېدلی. یوازې د روغتیایي سامان الاتو، ماسک، صابون، الکول، یو شمېر درملو،تازه میوې او د نارنج جوسو تولید او عرضې کې ډېروالی راغلی دی چې د کورونا وایرس سره د مبارزې لپاره په کارېږي. په یو داسې اقتصادي ناورین کې چې د توکو تولید او ویش کچه ټیټېږي، اړینو توکو ته د خلکو تقاضا لوړېږي او بازارونو ته د توکو ناوخته عرضه کېدلو له امله د توکو بیې لوړېږي. آن دا چې په افغانستان کې اوس د دغو مهمو اجناسو قحط احساس کېږي(۲).

[43] اسماعیل مارکیت، میرویس میدان. ۲۶/۱/۱۳۹۹

### د صادراتو او وارداتو کمېدل (Import & The Reduction in Export)

اکثرو هېوادونو د کورونا وایرس د انتقال مخنیوي لپاره خپلې پولې له نورو سره تړلي دي چې د عامو وګړو د تګ راتګ ترڅنګ یې سوداګري هم بنده کړې ده. د سوداګرۍ کچه څکه خورا ټیټه شوه چې صادرات او واردات له نشت سره برابراو یوازې د اړینو خوراکي او طبي توکو سوداګري پر مخ ځي چې هغه هم د اړتیا له مخې ترسره کېږي. لیکوالو چې د ۱۳۹۹کال له لومړۍ تر اوسه د ۲۶ورځو په جریان کې د هیواد د بندورنو وضعیت څارلی، داسې ښکاری چې د شمال له بندرونو یو شمېر واګونو کې اوړه، ګاز، تیل او غوړي وارد شوي، خو په ختیځ کې غلام خان، تورخم او سپین بولدک تړلی، صرف د درې ورځو لپاره یو څو لارۍ راغلي او بیا د پاکستان له خوا بندرونه وتړل شول. په ایران کې په ویروونکي ډول د کورونا د خپریدو له امله له پاکستان او ایران څخه په سوونه زره مهاجر راستانه شول، چې د کورونا وایروس د همدی مهاجرو په واسطه راولېږدول شو. دغه وضعیت صادرات او واردات دواړه ټکني کړل.

### د عامه او خصوصي خدماتو ځنډېدل

د کورونا وایرس له امله اکثرو هېوادونو خپل فعالیتونه، خدمات او عملیاتي چارې ځنډولي چې د دولتي چارو ترڅنګ د خصوصي سکتور ټولې چارې ورسره هم ودرېدلي دي. عامه خدمات نشته او ځینې حکومتي چارې ډېر بسیط روان دي، فاریکې تولیدات نه لري، د خدماتو سکتور خدمات نه وړاندې کوي، سیاحت سکتور هم صفر دی، هوټلونو سکتور هم سخت اغېزمن شوی او د سپورت سکتور عایداتي فعالیتونه هم صفر دي. د خصوصي سکتور بندېدو سره د حکومتونو عواید او مالیات راکم شوي څکه هغه فعالیتونه ډېرې ټیټې کچې ته راښکته شوي چې حکومت ته عایداتي سرچینې وي د مثال په ډول د پولو تړل کېدلو سره واردات نشته نو ګمرکي عواید هم نشته، د فضایي حریم له لارې الوتنې نشته نو مالیات یې هم نشته، دا چې فابریکې تولید نه کوي نو مالیات هم نه ورکوي. د افغانستان د مالیې وزارت وایي چې سږ کال به په عوایدو کې تقربیا ۷۶ میلیارده افغانۍ کموالی راشي. همدا اوس په کابل ښار کې زیاتره کلنیکونه بند دي، د امیري روغتون کې د ډاکټرانو له اختیه کېدو وروسته دغه روغتون په بشپړه توګه وتړل شو، داکتران ډېر لږ د ناروغ کتنې ته زړه ښه کوي، مارکیټونه تړلي، صرف د خوراکي توکو ځینې هټۍ پرانېستي دي، کسبه کاران یا کارته نه ځي، یا یې مشتریان نشته (۱۰). عمومي ادارې رخصت او نیمه رخصت دي، صرف ښاروالي، پولیس، دولتي ځینی روغتونونه او مخابرات فعال دي، خوپه کلیو کې کلیوال او بزګران د کر- کیلې په چارو بوخت دي. داسې اټکل کېږي چې کابل ته د نږدې ولایتونو لکه لغمان او ننګرهار څخه به ژر رسېدونکي سابه، په تیره بادرنګ، پیاز، دنیا، پالک او نور پسرلني محصولات په لوړه بیه عرضه شي او تقاضا ورته ډېره احساس کېږي، خو ممکن ډېره ګټه یې د بزګرو په پرتله د مارکیټ د میانجي، کمیشنکارانو او بروکرانو جیب ته ولوېږي. دولت خلکو ته ډاډ ورکوي، خو له هغو کسانو څخه چې د ناوړه مفاد په خاطر احتکار کوي او د رواني انفلاسیون لامل ګرځي، پرله پسې غوښتنه کوي چې په احتکار لاس پورې نه کړي او نرخونه بیځایه لوړ نه کړي، خو سره له دې هم د ۱۳۹۸ له حوت (فبروري) څخه د

۱۳۹۹دحمل تر۲٦مې (اپریل) پورې نرخونو کې ډېر توپیر راغـی چـې د قیمتونـو شـاخص یـې داسـې ښـودلای شو[44](۱۰):

(۱) جدول: د غیروزن شویو قیمتونو شاخص سنجش.( قیمتونه په افغانیو)

| Commodity | Unit | Feb. (Base)/Pn | Apr. (The Given Year)P0 |
|---|---|---|---|
| | | اساس موده | د پام وړ موده |
| Rice | 7 Kg | 2200 | 2500 |
| Flour | 7Kg | 1500 | 1900 |
| ghee | 5Kgr | 900 | 1500 |
| Potato | 7Kgr | 180 | 250 |
| Onion | 7kg | 200 | 350 |
| Bean | 7kg | 500 | 790 |
| Total | | 5480 | 7290 |

$$P_i = \frac{Pn}{P0} \times 100 \;=>\; P_i = \frac{7290}{5480} \times 100 = 133.03\ \%$$

د کابل د میرویس میدان په مارکیټ کې دغه راټول شوي او مقایسه شوي ارقام ښیي، چې د ۴۵ ورځو په بهیر کې په غیر وزن شوی شاخص سره د اجناسو د نرخونو د زیاتوالی محاسبه دا ښکاره کوی، چې په اوسط ډول په سلو کې ۱۳۳،۰۳زیاتوالی د مستهلک لپاره چې عاید یې نه دی زیات شوی، یو ډېر ستونزمن حالـت دی. آن دا چې د ډېرو خلکو کاروبارونه په ټپه دربدلي دي. دا په داسې حال کې چې پخوا هم د دوی ژونـد بخـورونمیرو. تر دې هم خواشینونکی دا چې د یو شمېر اجناسو بیه دوه برابره یعنې په سلو ۲۰۰ زیاته شوې ده . که د حوت له لسمې د ۱۳۹۹ د حمل تر۲٦مې د هګیو بیه محسابه شي، لاندې حقیقت څرګندوي:

$$P_i = \frac{Pn}{P0} \times 100 \;=>\; P_i = \frac{10}{5} \times 100 = 200\%$$

د بیو په دې زیاتوالي کې بل عامل ممکن سیاسي بې ثباتي وي، معمولاً په عادي کلونو کې دا مهـال نرخونـه کمېږي، ځکه چې په افغانستان کې د کرنیزو محصولاتو د اخیستو وخت را نږدې کېږي. د ماسـک او دسـتکش بیه په سلو کې ۵۰۰ لوړه شوې ده (۱۰). د لیمواو کینو مالټې بیه په سلو کې۸۲ .۱۸۱ لوړه شوې ده. لاندې جدول د مقدار او بیو شاخصونه څرګندوي، تېر کال د حوت میاشت کې یو نارنج په کابل کې ۱۰ افغانۍ و، سـږکال یـو دانه ۵۰ افغانیو ته اوچت شو او د حوت له ۲۵-۲۰ وروسته ټول ښار کې یو دانه هم نه موندل کېد:

(۲) جدول په ۱۳۹۹ کال کې د درې قلمو اجناسو قیمتونو شاخص نظر ۱۳۹۸ کال ته(ارقام په افغانیو).

| Commodity | Unit | Prices (AFG) in 1398 | Prices (AFG) in 1399 |
|---|---|---|---|
| Oranges)(Kino | Kg | 30 | 60 |
| Lemon | Kg | 40 | 80 |
| Banana | dozen | 40 | 60 |
| Total | | 110 | 200 |
| Index No. | | 100% | 181,82% |

د حقیقي قیمتونو غیر وزن شوې مجموعې شاخص

$$(Pi) = \frac{200}{110} x100 = 181,82\%$$

[44] حاجی لیاقت، د وطن فلور ملز عمده علاف.

ښاريانو د نارنج، ليمو او کينو د بيو د لوړېدو علت دا باله چې دا ميوې سي ويټامين (Vit. C) لري، چې د کورونا په وړاندې د وجود مقاومت لوړوي. دغه وينا دوی د تلويزيونو له لارې اورېدلې وه، نوځکه دغو ميوو ته تقاضا يو ناڅاپي ډېره لوړه شوه، خو عرضه وار په وار کمه شوه.(۱۰)[45] د نارنجو د توليد پرمهال (ميزان-عقرب) کې په جلال اباد کې دوه يا درې نارنج لس افغانۍ بيه لري، آن دا چې زيات يې وراسته شي. مور خپل هېواد کې د دغو محصولاتو لپاره د پروسس هېڅ تکنالوژي نه لرو، عجيبه خو دا ده چې د دغه وضعيت په ليدو د محتکرينو ترڅنګ يو شمېر سودا ګرو د خپلو اجناسو د ښه خرڅلاو لپاره عجيبو کارو او دوکو ته لاس واچاوه، يو مثال يې د تور چای اعلان و، حال دا چې د اسلام د مبارک دين د احکامو له مخې دا ډول اعمال مطلق حرام دي (۴۸:۴). يو ځل آوازه شوه چې يو ماشوم سم له پيدايښت سره يوه خبره وکړه چې؛ د کورونا علاج فقط تور چای دی، نور نو دغه ماشوم بله خبره ونه کړه. جلال اباد کې يو ځل آوازه شوه چې خاکشير د کورونا علاج دی، په هغه سبا د وچ ډنډ غاړې ته د خاکشير بيه دوه ځلې پورته شوې وه. دا مثالونه د افغانې ټولنې د خوشباوره، بيچاره، محتاجو او د پوهې له نعمت د محرومو خلکو دي.

**د ناڅرګند حالت حاکميت او د باور نشتون** (Lack of Trust & Uncertainty)

نه يواځې افغانستان کې؛ بلکې ټوله نړۍ کې خلک تشويش شره مخامخ دي. د وايرس له کبله رامنځته شوی اقتصادي ځوړ حالت د ژوروالي، اوږدوالي، سيمه ييزوالي په اړه ناڅرګند حالت او د وګړو د اطمينان نشتون د دې سبب ګرځېدلی چې خلک کره او دقيقه وړاندوينه ونه شي کړی او په دې ډول دوی نه شي کولای چې د اقتصادي فعاليتونو لپاره کوم ګام واخلي. عام وګړي په دې هم نه پوهېږي چې ايا حکومت به د رامنځته شوي اقتصادي ناورين مخه ونيسي او که به دا حالت اوږد شي او اغېز به يې اوږد او ژور شي. په نړۍوال اقتصاد د کورونا وايرس د اغيز له امله د ونډو سترو مارکيټونو کې د ونډو بيې راغورځولي دي. پانګوال ويره لري چې اقتصادي وده به ورو شي او په پانګونې به داسې منفي اغيز وښندي چې کنترولول به يې په لنډمهال کې له امکان څخه لرې وي، له همدې امله د پيسو نړۍوال وجهي صندوق په محتاطانه ډول دغه نانډولی تر ۲۰۲۲کال پورې اټکل کړه. اوس تر 1987 کال وروسته د ونډو بيې تر ټولو ټيټې کچې ته را ښکته شوي دي. د ونډو پيرونکي په دې ناڅرګند حالت کې د ګټې وړاندوينه نه شي کولای او نه د لوړ ريسک يا ګواښ په منلو سره د لږې ګټې په هيله کيني. آن ډير ريسک پذيره پانګوونکي هم په زغرده اقدام نه کوي. اکثرو مرکزي بانکونو د پانګونې د تشويق لپاره د سود کچه ټيټه کړې څو پانګوال پانګونې ته وهڅوي او پدې ډول اقتصادي فعاليتونه خپل نورمال حالت ته راوګرځي او اقتصادي ثبات رامنځته شي، خو پايله لا نده څرګنده(۲).

**د بېکارۍ او بېوزلۍ کچې لوړېدل** (Unemployment Rate & The Increase in Poverty): کله چې ښارونه، سوداګريز مارکيټونه، خدمات او هر څه وتړل شي نو تقربيا ټول وګړي بې روزګاره کېږي. هغوی چې دايمي دندې لري د اقتصادي شاک پدې موده کې به ورته تنخواوې ورسېږي خو پاتې نور ټول وګړي چې په غيرمستقيم ډول په روزګار بوخت وي، له بې روزګارۍ څخه رنځېږي. د ګارډين د راپور له مخې په متحده ايالاتو کې د تېرو دوه اونيو راهيسې لس ميليونه وګړي بې روزګاره شوي دي چې د بې روزګارۍ کچې لوړېدل

[45] بيلابيل مستهلکين او کورنۍ.

په کې د 2007-8 کلونو مالي بحران پر مهال د بې روزګارۍ څخه هم چټک ارزول شوی دی. همدارنګه د ملګرو ملتونو په ټوله نړۍ کې د ۲۵ میلیونه وګړو د دندو له لاسه ورکولو وړاندوینه کړې ده. د امریکې، اسپانیا، ایټالیا او انګلستان دولتونو عامو خلکو ته د مرستو برخه کې چندان اقدام نه دی کړی، د ایټالیا مشران ډېر وارخطا ښکاري، د المان د یوه ایالت د اقتصاد وزیر د اقتصادي رکود له امله ځانوژنه وکړه، د بریتانیا لومړی وزیر او د ایران لوی سیاستوال او پارلمانیان هم له دې ناروغۍ بچ نه دي پاتې، نو په داسې حالت کې د بېوزلۍ د مخنیوي اقدامات ګړندي او اغېزمن نه ښکاري. په دې حالت کې د ټولنې بېوزلې وګړي ډېر ژر زیانمن شوي دي.د کورونا وایرس بېوزلۍ ته نوره هم لمن وهي. د لوړ عایدلرونکو خلکوعایدات کمېږي، د ټیټ عایدلرونکي به لا وځپل شي او د مطلقې بېوزلې تر کرښې لاندې وګړي د خپل ژوند په بیه به له اوسني ناورین سره مخته ځي. د بې روزګارۍ لوړېدل په بې وزلۍ مستقیم اغېز لري او د بې روزګارۍ لوړه کچه د عامه شتمنیو د ناانډولې ویش ښکارندوی دی. هر څومره چې شتمني په ناانډوله توکه ویشل کېږي په هماغه کچه په بې روزګارۍ او بې وزلۍ اغېز لري. په اروپا کې د اقتصاد د وزیرانو غونډه هم بې پایلې پای ته ورسېده، د تیلو د بیو ټیټېدو په ټرانسپورټ اغېزه کړې، توریزم په ټپه ودرید.

- **د اومه تیلو بیې ټیټېدل** (Decrease in Crude Oil Prices The):

د کورونا له خپریدو لږ مخکې د روسیې او عربستان له خوا د یوه ناوړه رقابت له امله د تیلو بیې ناڅاپه ولویدې، عربستان وغوښتل د امریکا په ګټه د روسیې په مقابل کې د تیلو بیې ټیټې کړي، روسیې نور هم نرخونه راټیټ کړل، دغه حالت د انرژۍ په وضعیت بد تاثیر وکړ. ایله سعودی د اوپک نورو غړو سره دتولید په اندازه او بیو کې یوڅه توافق ته نږدې شو(۲شنبه ۲۵/۱/۱۳۹۹).[46] په دې نازک وضعیت کې اقتصادي جګړه او ناوړه سیالي چې د سیاستونو زېږنده وه، ونه دریده. اقتصادپوهان د دې کلک مخالف دي. په نړۍ کې د صنعتي فابریکو په ټپه ودرېدل، په هوایي او ځمکني سفرونو بندیز، د عامه او خصوصي سکتور تړل او په ټوله کې د اقتصادي چارو ځنډني کېدل د دې سبب ګرځېدلي چې په نړیوال مارکېټ کې د تیلو تقاضا کمه او عرضه ډېره شي او پدې ډول د تیلو بیه له اتلس کلونو وروسته تر ټولو ټیټې کچې ته رسیدلې ده. د بي بي سي د یو راپور له مخې د یو بیلر اومه تیلو بیه ۲۳ ډالرو ته ښکته شوې چې دا د ۲۰۰۲ کال راهیسې تر ټولو ټیټه بیه ده. په سعودي کې د اسلام د مبارک دین له خپریدو وروسته د شاخوا ۱۴۰۰کلونو په ترڅ کې د لومړي ځل لپاره حرم ته ننوتل او طواف بند شو، د مدینې منورې زیارتونو ته تګ هم منع شو چې دا هم د دغه هېوادلپاره یو اقتصادي زیان و، ممکن سږکال به دحج مراسم هم ترسره نه شي(۱۰). دملګرو ملتونو د سازمان د یو شمېر مهمو او لویو موسساتو نوبتي او کلنۍ غونډې یا وځنډېدلې یا صرف د ویډیو کنفرانس په بڼه دایرې شوې. په اروپا کې ډېر جشنونه دایر نه شول. نوروز هم ونه لمانځل شو او داسې نور کلتوري مناسبتونه. ایران هم د امام رضا زیارته ته تلل ځوورځې منع کړل.له سلو ډېرو هېوادونو په هوایي الوتنو بندیز لګولی. د اوپک سازمان او سعودي عربستان غوښتي چې د اومه تیلو په تولید کې به کموالی راوړي څو د مارکېټ عرضه او تقاضا ثبات ومومي او ترڅنګ به د تیلو بیه بیرته لوړه شي، خو روسیې دا پرېکړه نه ده منلې او د تیلو تولید ته یې دوام ورکړی، چې له امله یې د سعودي عربستان او روسیې ترمنځ د نرخ جګړه (Price War) پېښه شوې ده. دغې پېښې د چین او امریکا ترمنځ

[46] ورځنی میډیا. دملی راډوی تلویزیون د ۲۴/۱/۱۳۹۹خارجي او کورنی خبرونه.

د اقتصادي جنګ هغه ناوړه وضعيت نور هم تود کړ چې لا مخکې په پټ شکل پيل شوی و، خو نه احساس کېد. کورونا، اقتصادي پټې جګړې او د بيو جګړې چې وروستۍ دوه د ناوړه سياستونو بېلګې دي، په ګډه د نړۍ اقتصاد ته لوی تاوان پېښ کړ. د پيسو نړۍوال صندوق د دغې ناورغۍ د پيښېدو له امله منفي تاثير په آسيا باندې تر ټولو زيات وښود دغه سازمان وويل چې په آسيايي هېوادو کوي په تېرو شپېتو کلونو کې دومره ژور اقتصادي کړکيچ نه و راغلی، دې پېښې ته يې يوتاريخي سقوط نوم ورکړ:

*(۲) شکل: په آسيايي هېوادو کې د کورونا له امله د اقتصاد سقوط*




*Ref. International Monetary Found official report: 18/04/2020*

د پيسو نړۍوال وجهي صندوق رسمي راپور پورتني لنډيز کې چې په ګراف کې راغلی ۲۰۲۰م.کال کاملاً اقتصادي رکود ښکاره کوي. تحليل له ۱۹۶۳څخه تر ۲۰۲۰پورې ترسره شوی دی.

**مناقشه**

څېړنې وښوده چې دکورونا دناروغۍ خپريدو هم د نړۍ اقتصاد ته او هم د افغانستان اقتصاد ته زيات زيان واړاوه، خو زموږ د هېواد د کرنې د سکتور په توليد به اغېزه ونه کړي، دا ځکه چې کرنه په کليو کې ده، هلته تر اوسه د ناروغۍ پېښې لږې دي. د باغداري سکتور به هم زيانمن نه شي کوم چې د افغانستان عمده صادراتي اقلام دي، خو د لنډ وخت لپاره په نرخونو کې په اسوط ډول په سلو کې له ۱۳۳,۰۳څخه نيولې تر ۲۰۰ پورې افزايش يو صعودي ګراف ښکاره کوي، چې د انديښنې وړه ده. څومره چې وکتل شول په افغانستان کې د نرخ لوړيدل د توليد د کمښت له امله نه، بلکې د وارداتو د کمښت او د احتکار له امله دی. د اسعارو په وړاندې د افغانيو يوڅه نوسان هم د رواني اغېزو له امله دی. فکر نه کېږي چې کوم حقيقي انفلاسيون به واقع شي. د افغانستان خلک د کورونا د همدې شيوع په حالت کې د هېواد سياسي وضعيت ته ډېر پريشان دي، يعنې د ناروغۍ څخه برعلاوه بې ثباته سياسي وضع هم خلکو ته د انديښنې وړه ده. په دې ډول مبصرين د دوه ډوله کورونا يادونه کوي: يوه وايروسي کورونا او بله سياسي کورونا. د دې معنا داده چې؛ که کورونا يوه پېښه ده، سياسي او ټولنيزه بې ثباتي يوه کړکيچ او ناورين دی.

په افغانستان کې موجوده اقتصادي ستونزې، د نورې نړۍ برخلاف؛ بايد يواځې کورونا پورې ونه تړل شي. په اصل کې که د ټولنيزو اوسياسي ستونزو له امله زموږ ډېر هېوادوال بهر کې نه وای ممکن کورونا دومره ژر نه وای راغلې، يا به ډېره کمه راغلې وای. کورونا هغه وخت افغانستان کې خپره شوه چې ګڼ شمېر مهاجر بيرته

راستانه او د حکومت له خوا ورته لازم تدابیر موجود نه ول. دا دافغانسان او افغانانو یوه لویه نیمګړتیا ده چې په ډېرو ستونزمنو حالاتو کې هم خپل مسایل نه حل کوي. په دې ډول سره له خلکو سره مرکې وشوده او دا ثابته شوه چې د افغانان له دغې ناروغۍ څخه برعلاوه نورې ستونزې لري. عجیبه داده چې په کابل کې درې تنه د کاغذپران د لوبې په شخړه کې او پروان کې څلور تنه د مرغۍ د ښکار په ښکار کې او په ټول هېوادکې د ۱۷۰ شاوخوا په جګړو کې وژل شوي دي. په دې ډول حالت کې چې مُدبر، اصولي او فعال باکفایته حکومت موجود نه وي وضعیت په بشپړ ډول د ناورین او فاجعي خواته تلای شي.

**پایله اخیستنه**

څومره چې د دولتونو انضباط پیاوړی، تدابیر یې ګړندي، د خلکو پوهه اوچته او د دساتیرو او مشورو عملي کوونکې وي، هومره کورونا لږ خپرېږي او کنترول به شي، خو که خلک په اوهامو او خرافاتو کې ډوب وي او د روغتیا پالو هدایات ونه مني دغه ناروغي په مهلک شکل خپرېږي. د پیسو نړۍوال صندوق یا IMF د راپور له مخې د کورونا وایرس سره د چین له مبارزې څخه لاندې ټکي زده کولای شو څکه چې د کورونا له امله رامنځته شوی اقتصادي شاک د ۲۰۰۷-۸ کلونو اقتصادي بحران په نسبت ډېر ژور دی: د چین تجربې وښوده چې د محدودیتونو په لګولو سره کولای شو د کورونا د خپرېدو مخه ونیسو خو په لوړ اقتصادي بیې سره. موجود اقتصادي بحران د ۲۰۰۷-۸ کلونو اقتصادي بحران څخه ژور دی. د چین پالیسي- جوړونکو تجربې څرګنده کړه چې د ګټورو پالیسیو له لارې د دې وایرس اغېز په اقتصاد راکمولی شو. یو مثال یې د اغیزمنو کورنیو سره مرستې او رواني تسکین دي(۷۸:۵). چینایي پالیسي جوړونکو نوي پالیسي- د بېوزله کورنیو او وړو کاروبارونو د ژغورولو لپاره وړاندې کړې چې په پایله کې د برېښنا بیلونه او مالیات ورته وبښل شول او همدارنګه د دوی مالي ملاتړ لپاره یې دوی ته مالي مرستې او پورونه ورکړي. له بلې خوا د اقتصادي بې ثباتۍ له امله د پیسو په نغدینګۍ کې کموالی راغلی و او مارکیټونو کې هم غیرمنظموالی رامنځته شوی چې اقتصادي شاک سره یې نوره هم مرسته کوله څو اقتصادي بې ثباتي ډېره کړي خو دوی بې ثباتي کنترول کړ. کارخونو او سترو شرکتونو ته یې مالیات وبښل او بانکي خدمات یې ورته مساعد کړل څو د پیسو د نغدیګۍ د کموالي مخه ونیسي، د چین مرکزي بانک د څانګړي پروګرام له مخې د پور اسانتیاوې برابرې کړې او خصوصي او نیمه خصوصي بانکونو ته یې د پیسو د اړتیا وړ زیرمو کې کموالی راوست. سترو کمپنیو، کارخونو او دولتي شرکتونو پورونو ته لاسرسی پیدا کړ، همدې سره په چین کې د نورمال اقتصادي حالت نښې څرګندې شوې، سترې کمپنۍ او کارخونو خپل ورونه بیرته پرانیستل، ځایي کارکوونکي خپلو دندو ته ستانه شول، په کور دننه هوایي سفرونه بیرته پیل شول او اقتصادي وده مخ په ټوکېدو شوه.

چین په داسې حال کې د کورونا وایرس اقتصادي شاک څخه بیرته په رغېدو ده او اقتصادي چارې یې بیرته مخ په نورمال کېدو دي چینوره نړۍ بیا د کورونا وایرس سره لاس او ګریوان ده او د نړۍ اقتصاد یې مخ په ځوړ روان کړی. یوه داسې نړۍ چې چینایي توکو ته تقاضا پکې د نشت برابر وي، د چین په زیان ده. نو چینایي پالیسي جوړونکي مجبور دي څو د نړۍوال اقتصادي ثبات او ودې څخه ملاتړ وکړي او پدې برخه کې له نړۍ سره خپلې مرستې ونه سپموي. څو نړۍ له کورونا وایرس څېنې وروسته بیرته لوړې اقتصادي ودې ته مخه کړي.

د افغانستان اقتصاد په کرنه ولاړ دی، تر ډیره پورې دغې ناروغی کلیوال نه دي متاثره کړي، ښارونو کې مصرفي ژوند دی، تر ډېره پورې به خلکو بیځایه ترانسپورتي مصارف لرل اوس د قرنطین له امله ښارونو کې بیځایه تګ- راتګ عنعنات او رواجونه کم شول، مګر د بندیزونو له امله ډېر کارونه په ټپه ودریدل، هغو خلکو چې بچت نه درلود او روزمره کاروبار یې کاوه، دوی بیکاره او له لویو ستونزو سره مخامخ شول. ښوونیزې ادارې هم رخصت شوې، خو شاګردان په کورونو کې مطالعه کولای شي، ډېره ناوړه خبره د احتکار ده چې یو شمېر سودپالونکو وغوښتل له موقع څخه په استفاده، نرخونه اوچت کړي، دغه عمل په بیوزله خلکو ډېر فشار راوړی دی. دلته خرافات او ټیټه پوهه هم د خلکو د ژوند او اقتصاد لوی دښمنان دي. څومره چې دغه وضعیت دوام کوی، هومره یې منفی تاثیرات زیاتېږي.

**وړاندیزونه**

۱. په دې ډول حالاتو کې ټولنیز کلک انضباط او د متحد او بادرایته دولت عاجلو اقداماتو ته اړتیا ده.

۲. پالیسي جوړونکي باید د زیانمن شویو کورنیو او کوچنیو کاروبارونو ملاتړ وکړي څو د اقتصادي ناورین اغېز پرې کمې شي، د زکات، خیریه چارو او د صدقاتو د روحیې پیاوړې کول.

۳. د ملي بنسټونو لکه سره میاشت، پولیس، بانکونو، د روغتیا موسساتو، مدني ټولنې، امبولانس، ښاروالی او دې ته ورته اداراتو رغنده او نه ستومانیدونکي کار ته جدي اړتیا ده، خلک به د دوي د قرباني او هڅو درناوی وکړي.

۴. متحد عمل او د هر ډول مخالفتونو له منځه وړل سیاسي او ټولنیز ثبات راولي او دغه ثبات په خپله د اقتصادي ثبات لامل کېږي.

۵. قرنطین، د نظافت رعایت، د مرستو کولو اوبشري احساس ته په دغه ډول ناوړه حالاتو کې ډېره اړتیا وي، هیله ده رضا کار ځوانان د اړو کسانو مرستې ته د همدې احساس له مخې ودانګي.

۶. د بې‌کفایته او فاسدو کارکوونکو په عوض د متخصصو، مسلکي، ماهرو او متعهدو کارکوونکو په کار ګومارل.

۷. د احتکار او ناوړه تبلیغاتو او افکارو مخنیوی کول.

۸. د کرنیزو محصولاتو د پروسس لپاره د تکنالوژۍ برابرول او د مارکیټنګ د خدماتو ښه کول، د افغانستان د طبي بوټو د پروسس امکان برابرول.

۹. د دولتي ګدامونو اوسیلو ګانو بېرته فعالول او د هغو د مدیریت چارې بېرته دولت ته سپارل.

۱۰. خلکو ته روحي تسکین او مثبته انرژي ورکول.

۱۱. د روغتیایي مشورو ورکول او د اسلام د مبارک دین واقعي احکام بیانول.

۱۲. د ناوړه استفاده کوونکو مخنیوی.

۱۳. د احتیاطي طبي وسایلو، درملو، کیمیاوي ضروري محلولونو، دیترجنت مرکباتو(صابون او دصابون دپوډرو) فني سټاک ایجادول او د هغو ښه مدیریت او کنترول.

۱۴. د بریښنا د انرژۍ تامین، په تېره بیا روغتونو او لابراتوارونو ته د ۲۴ساعته بریښنا تامین.

۱۵. د کورونا له بشپړ کنټرول وروسته د یو کلن ځانګړي هر اړخیز ملي پلان جوړول ترڅو د ناروغۍ له امله ټول تاثیرات رفع او هر افغان په ملي احساس سره داوطلب کار ته حاضر او ادارات په خپله خوښه د اتو ساعتو په عوض لس ساعته کار ته اماده شي، د هغو دوکتورانو، نرسانو، روغتیاپالو، د طبي سکتور د مدیرانو، پولیسو، ملي اردو، بانکي او د ښاروالیوکارکوونکو او نورو عام المنفعه خدمت رسونکو تقدیرول چې په دغه موده کې یې صادقانه هلې- ځلې کړي وي او په مطبوعاتو کې د هغوی معرفي کول.

## ماخذونه


۱. السباعی، مصطفی.(۱۳۸۸)،نبوی سیرت-درسونه او عبرتونه، الهدی موسسه. پېښور.

۲. تاند ویبپاڼه، د حمل دمیاشتې ۲۰نیټه، نشر شوی مقاله.

۳. تمیم، محمد شعیب.(۱۳۹۶)، غذاهای مفید. په کابل پوهنتون کې د معلوماتو مرکز.

٤. ګیرګیو. کونستان ویرژل. (۱۳۸۲) محمدصلی‌الله‌علیه‌وسلم هغه پیغمبر چې باید له سره یې وپیژنو، سبا میوند خپرندویه ټولنه، پېښور.

5.محمدعزیز.او نور(۱۳٦۷) روانشناسی عمومی، درسی کتاب ، د لوړو زده کړو وزارت چاپ:کابل.

6. ناصری، عطاالله.(۱۳۹۲)،حضرت محمد دنړۍ ستر سیاسی او ټولنیز شخصیت. مستقبل خپرندویه ټولنه، کابل- افغانستان.

7.Colander,David.C. (2016),ECONOMICS-4th edition. McGraw-Hill company.

8.Jaggia and Kelly.(2012),Business Statistics second edition. McGraw-Hill company, USA.

9.Startz.R.*etall* (2014). Macroeconomics-eight edition. McGraw-Hill company, USA

۱۰. د میرویس میدان د مارکیټ له هټیوالو او یو شمېر کابل او جلال اباد ښاریانو سره مرکې، د پیسو نړۍوال وجهي صندوق راپور، د عامې روغتیا وزیر صاحب مرکه (منبر او ډاکټر غړ) ملي رادیو تلویزیون(۲۴/۱/۱۳۹۹).

پوهنوال ډاکتر سید ضیاألحق بنوری
وترنري علوموپوهنځی، حیواني تولیداتو څانګه

# په افغانستان کې د کورونا ویروسونه او د کوید ـ ۱۹ ناروغۍ خپرېدنه

## لنډیز

د کورونا ویروسونه یوه لویه کورنۍ ده، چې په انسانانو او حیواناتو کې ناروغۍ رامنځته کوي. په انسانانو کې د ضعیفه تنفسي ناروغۍ څخه تر وخیمې تنفسي ناروغیو؛ لکه شدید تنفسي سندروم او یا هم د منځنی ختیځ تنفسي سندروم ته ورته حالت غوره کوي او هم په ځینو واقعاتو کې د اسهال لامل ګرځي. کورونا په حیواناتو کې هم د اسهال او تنفسي ناروغۍ منځته راوړي، خو د کوید ـ ۱۹ راپور د ناروغۍ د رامنځته کېدو له پلوه په حیواناتو کې تر اوسه نه شته، خو له انسانانو څخه یې حیواناتو ته د انتقال راپورونه شته، چې د نړۍوال روغتیایي سازمان او د ساري ناروغیو د تشخیص د مرکز د سپارښتنو په اساس باید له خلکو او کورني حیواناتو سره له نږدې اړیکو څخه ځان وساتل شي. دا څېړنه د SMCRE ماډل په شمول د ځانګړو اړیکو میتود، د ګروپي اړیکو میتود او د ټولنیزو اړیکو میتود او وسایلو څخه په استفادې ترسره شوي، چې د معلوماتو د شنني لپاره د تشریحي احصایې له واحدونو څخه کار اخیستل شوی. په پایله کي له دې ناروغۍ څخه د ژغورنې لپاره باید په دوامداره ډول په الکولو او صابون باندې د لاسونو پرېمینځل، د ۵. ۲ متره اجتماعي فاصلې ساتنه، د سترګو، خولې اوپوزې نه لمس کول، په کور پاتې کېدل، له کورني حیواناتو سره له اړیکو ساتل، د صحي مشورو لپاره د عامې روغتیا او وترنري صحت له منابعو څخه استفاده او هم د خامو او نیمه پخو شویو حیواني تولیداتو څخه ځان ساتنه اساسي ټکي ثابت شول.

**کلیدي کلمې**: کورونا ویروس، کووید – ۱۹، انسانان، څاروي، د څارویو تولیدات

## سریزه

د کورونا ویروس او د کووید ـ ۱۹ ناروغي که یو خاموش نړیوال جنګ چې په ډېر لږ وخت کې یې نړۍ له ستر ځاني، مالي، سیاسي، اجتماعي او صحي کړاو او ناخوالو سره مخ کړه. چې ټولې نړۍ ورسره سخته مبارزه د خپلو ځانونو د ساتلو لپاره شروع کړه او لا جریان لري، چې د پایلي په اړه یې هم انساني ذکاوت او معاصره تکنالوژي تر اوسه چپه خوله او بېوسه پاتې ده. د انسانانو ترمنځ یې ټولنیزې فاصلې پیدا کړې او آن تر دې چې اهلي او ځنګلي حیوانات هم ترې په امن کې پاتې نه شول. د تاریخي پس‌منظر له مخې د کورونا ویروس په انسانانو او حیواناتو کې ډېره اوږده مخینه لري اما دا اوسنی ناورین کوم چې د یاد ویروس د کوید ـ ۱۹ ناروغي تر نامه لاندې په ځانګړې بڼه په نړۍ کې رامنځته شوی بېسابقې دی.

دې بېسابقې او ناانډوله کورونا ویروس (nCoV-2019) لومړی زمونږ د هغو عسکرو پر وړاندې جګړه او مرګونی ګوزار وکړ، چې هغوی صحي کارکوونکي وو؛ نو دا جګړه مونږ هغه وخت ګټلای شو، چې مونږ خپل باتجربه صحي کارکوونکي پر تکنالوژي، کافي منابعو او وسایلو باندې بسیا کړو (Liang, 2020). د کورونا لومړی پېښه په ۱۹۶۰ کې د سیستماتیک سوړ والګي په شکل رامنځته شوه، چې د ۲۰۰۲ کال پورې یې په عادي ډول یو نه وژونکې او رغیدونکې ناروغي رامنځته کوله. په ۲۰۰۳ کال کې د کورونا ویروس د امریکا

متحده آیالاتو، هان کانګ، سینګاپور، تایلینډ، تایوان او ویتنام ته مخه کړه او په یاد کال کې یې د ۸۰۹۶ ناروغانو له جملې څخه ۱۰۰۰ کسان د سخت او حاد تنفسي سنډروم له امله ووژل، چې مایکرو بیالوژیستانو یاد کال د تور کال په نوم یاد کړ او په ۲۰۰۴ کال کې یاد ویروس او ناروغي یې د نړۍوال روغتیایي سازمان او د ناروغیو د کنټرول او وقایې د مرکز له خوا بېړنۍ اعلان شوه. په ۲۰۱۲ کې د کورونا له امله زیات واقعات چې مړینه یې درلوده رامنځته شو اما کویډ ـ ۱۹ په لومړي ځل د چین د هېواد په اوهان ښار کې په نمونیا باندې د یو اخته سړي له نمونې څخه تجرید شوه (kumar et al, 2020) . موضوع د پېژندنې، اهمیت، ضرورت او هغو مشکلاتو له پلوه چې د هېواد، منطقې او نړۍ په اړه یې رامنځته کړي ډېره مهمه ده او تر ټولو لوی اهمیت یې په دې کې دی، چې پرمختللي، مخ په ودې او وروسته پاتې هېوادونه ټول ورسره نا اشنا او د طفولیت په دوره کې دي او آن تر دې، چې تر اوسه یې زیاته مړینه، اخته کېدنه او بشري ناورین د نړۍ په لومړۍ درجه هېوادونو کې رامنځته کړی دی او هم تر اوسه د نړۍ ساینس‌پوهان په دې نه دي توانیدلي، چې روان ناورین لپاره مشخص درمل او یا هم واکسین رامنځته کړي او یو نسبي د پای ټکی ورته کېږدي. ناروغي د واقع کېدو او انتشار له پلوه ډېره پراخه ده.

د کورونا ویروسونه څلور سب ټایپونه ( الفا، بیتا، ګاما او دلتا) لري، چې هر سب ټایپ یې زیات سیروټایپونه لري. ځینې یې انسانان او نور یې حیوانات؛ لکه خوګان، مرغان، پیشوګانې، موږکان او سپې اخته کوي. د ۲۰۲۰/ جنوري/ ۲۴ نېټه د راپور پر اساس پر کورونا باندې د اخته وګړو بارزې نښې تبه، ټوخی، ستړیا او نادره نښې یې اسهال او ساتنګي ښودل شوي دي او په ډېرو ناروغانو کې دواړه نښې ښکاره شوي دي. کورونا ویروس په ۲۰۲۰ کې د یو چینایي وګړي د برانشونو له افراز شویو مایعاتو څخه تجرید شو او همدارنګه د وینې په نمونه کې هم لیدل شوي دي اما تر اوسه یې د ناروغانو د متیازو او فضله موادو په نمونو کې د موجودیت راپور نه دی ورکول شو (Kumar et al, 2020) . ځینې راپورونو د ناروغۍ د شروع او یا منځني پړاو د پورته نښو تر څنګ نورې نښې؛ لکه وچ ټوخی، دردونه، د پوزې بندښت، بهېدونکې پوزه او د ستوني درد ښودلي دي.




۱ شکل: د کورونا نښې (NHM, 2020).

ځینې خلک کېدای شي چې اخته وي، خو ممکن هېڅ ډول نښې ونه لري او روغ معلومېږي. ۸۰ سلنه وګړي کېدای شي، چې بې له کومې ځانګړې درملنې څخه ښه شي. په هر شپږم کسانو کې کېدای شي یو تن د ساه‌بندۍ مشکل پیدا کړي، چې دا ډول خلک قوي صحي مراقبت ته ضرورت لري، چې په دې کې اکثره زاړه

خلک، د قلب، تنفس، سرطان او شکرې ناروغان شامل دي. دا ویروس کېدای شي چې په فضله موادو کې پیدا او انتقال ترې رامنځته شي. د کوېډ ـ ۱۹ له ناروغی څخه د ژغورنې لپاره باید لاسونه پـه الکولـو یـا صـابون سره پرېمنځي، په خپل منځ کې کم تر کمه یو متر فاصله ولري، د پوزې، سترګو او خولې له لمس کولـو څخـه ځـان وساتي، تنفسي حفظ الصحه باید مراعت کړي، په کور پـاتې شي، روزانـه معلومـات بایـد ولـري، د دې نـاروغی مخفي دوره د ۱۴-۱ ورځو ده چې په اکثرو مواردو کې پنځه ورځې نیســې. د سارس کورونـا ویـروس (SARS-CoV) د کورنې پیشوګانو او میرس کورونا ویروس (MERS-CoV) د بوک لرونکو اوښانو په وسیله انتقالېده اما د کوېډ نولس (nCOVID- 19) د انتقال په برخه کې د حیواناتو رول تر دې وخته معلوم نه دی( NHM],2020 [National Health Mission).




۲شکل: د کورونا لپاره د هدف لاندې نفوس ۳ شکل: دتنفسي سیستم لـه لارې د کورونـا ویـروس خپرېدنـه. (kumar et al, 2020)

د دې لیکنې له لارې به د لاندې سوالونو په جوابولو سره پوه شو، چې د کورونا ویروس د اوسني وضعیت په نظر کې نیولو سره

۱. آیا له یو تن څخه بل تن ته انتقالېږي؟

۲. یا هم له انسانانو څخه حیواناتو او یا له حیواناتو څخه انسانانو ته انتقالېږي؟

۳. او یا هم له حیواناتو څخه حیواناتو ته خپرېږي؟

تر څو لاندې اهداف تر لاسه کړو

۱. د امکان تر حده خپل ځانونه،

۲. خپلې کورنۍ،

۳. خپلوان،

۴. دوستان او

۵. په ټوله کې خپله ټولنه او محیط له دې وبا څخه وژغورو او په دې برخه کې مو خپل مسؤلیت ترسره کـړی وي.

د ذکر شویو مواردو تر څنګ د خوراکي موادو د ساتنې د نړۍوالې شبکې مسؤلینو د کوېډ– ۱۹ د خپراوي خبر په خامو حیواني خوراکي موادو کې ورکړي دي، چې له امله یې د خامو او نیمه خامو حیواني تولیداتو د نـه خوړلو یادونه شوې ده.په دې راپور کې ویل شوي، چې د انتقالي ملوثیـا د مخنیـوي لپـاره بایـد خـامي شـیدې،

غوښه او داخلي ارګانونو د هغو خوراکي موادو څخه چې خام خوړل کېږي لرې وساتل شي په دې راپور کې د کوېډ– ۱۹ د خپراوي راپور تر ۲۰۲۰/ فبروري/ ۲۱ پورې په شیماتیک ډول ښودل شوي دي.




۴ شکل: د کوېډ– ۱۹ خپراوی ۲۰۲۰/ فبروري/ ۲۱، د اروپا په وخت د سهار ۱۰ بجې (WHO, 202 0).




۵ شکل: د کوېډ– ۱۹ خپراوي (kumar et al, 2020).

ویل کېږي چې د دې ویروس ساتونکی شاپرک و، خو اوس داسې باور موجود دی، چې یاد ویروس دا سرحد د کوم بل منځنې کوربه په وسیله چلیپا کړي او انسان ته یې توپ کړی دی، چې دا میزبان تر اوسه معلوم نه دی کېدای شي چې اهلي، ځنګلي او یا هغه ځنګلي حیوانات وي، چې تر اوسه یې د اهلي کولو راپور نه دی ورکول شوی. دا ویروس په 20°C- کې تر دوه کلونو ژوند کولای شي او د 70°C سره حساس دی (World Health Organization [WHO], 2020. خو ځیني وایي چې د دې ویروس ساتونکی میزبان تر اوسه نه دی معلوم خو په اړه یې څېړنې جریان لري او وایي چې دا کورونا ویروس د کورونا له نورو ویروسونو نه ځانګړي خواص لري. سارس کوېډ - ۲ یا کوېډ – ۱۹ د ارثیت له پلوه د سارس کورونا ویروس چې په ۲۰۰۲ او ۲۰۰۳ کې او میرس کورونا ویروس چې په ۲۰۱۲ کې په منځنې ختیځ کې رامنځته شوې وه توپیر لري، خو دواړه بیتا کورونا

ویروسونه دي، چې په تې لرونکو کې ناروغي رامنځته کوي او سرچینه یې شاپرک دي. تر اوسه ډېر محدود راپورونه شتون لري، چې په سارس کوید - ۲ یا کوید – ۱۹ باندې حیوانات اخته کېږي اما په دې برخه کې تر دې وخته هیڅ راپور شتون نه لري، چې سپي او پیشو دي د نورو حیواناتو او انسانانو لپاره د اخته کېدو منشأ وي. اما کله که څوک په سارس کوید- ۲ یا کوید– ۱۹ باندې اخته شو باید له حیواناتو سره لاس ونه وهي دا چاره کېدای شي د دې لامل شي، چې نور تماس پیدا کوونکي وګړي له یادو حیواناتو سره په سارس کوید - ۲ یا کوید – ۱۹ اخته شي او هغه خلک چې له حیواناتو سره تماس پیدا کوي باید له تماس څخه وروسته لاسونه په صابون پریمینځي اګر که د دې ناروغي په اپیډیمولوژي کې حیوانات تر اوسه کوم رول نه لري. دا ویروس داسي ښکاري چې منبع یې حیوان دی لیکن اوس دا له یو تن څخه بل تن ته د تنفسي سیستم له لارې د اخته تن د ټوخي او پرنجي پر مهال د پاشل شویو مایعاتو له لارې انتقالېږي اما تر اوسه دا پوره واضح نه ده، چې څنګه دا ویروس له یو تن نه بل ته په اسانۍ سره خپرېږي( World Small Animal Veterinary Association [WSAVA], 2020). په حیواناتو کې د کورونا مختلف ویروسونه شته چې تنفسي ناروغي او اسهال پکې رامنځته کوي، خو تر دې دمه د روان ناورین د خپرېدو راپور په کورني‌حیواناتو کې نه دي ورکول شوي. ځینې کورونا ویروسونو د حیواناتو نه انسانانو ته تغیر وموندلو چې له یو تن څخه بل تن ته انتقالېږي دا ویروس د سارس کورونا ویروس– ۲ (SARS-CoV -2) په نوم یاد شو او ناروغي یې د کوید– ۱۹ په نامه په انسانانو کې یاده شوه. د هانګ کانګ په هغه دوه سپو کې د یادې ناروغۍ واقعې مثبتې ښودل شوي چې د هغوی مالکان پرې اخته وو اما د ناروغۍ نښې په هیڅ یو کې هم نه دي ښکاره شوي، چې یو سپي له دویم ټسټ څخه وروسته منفي او بل د قرنطین لاندې دي، خو د سپیو له لارې د یادې ناروغۍ د خپراوي په برخه کې هیڅ راپور وجود نه لري.(Los Angeles County Department of Public Health [ LCDPH], 2020). د نړۍ په سطحه د ناروغۍ خپراوي ورځ تر بلې په زیاتېدو دي، چې دا خپراوی ټولنیز، محلي، مداخلوي او وارداتي ښودل شوي او ځینو واقعاتو د خپراوي نوعیت لا تر اوسه نه دی معلوم چې د څېړنو لاندې دي. د یادې ناروغۍ د خپراوي او دویمي عفونتونو د مخنیوي په برخه کې باید د خلکو له ګرځېدو څخه مخنیوی، د اخته خلکو پېژندنه او تجرید کول، د حیواناتو د رول پېژندنه، د ناروغانو کلینیکي تغیراتو پېژندنه، د خطري فکتورونو وخت په وخت پېژندنه او راپور ورکول، د ټولنیزو او اقتصادي اړیکو کمونه مهم دي. د دې مهمو نقاطو د ښه سرته رساوي په موخه باید د ناروغۍ د تېزې پېژندنې، تشخیص، اداره او د واقعاتو د مخنیوي او عامه پوهاوي په برخه کې لازمي جدي کړنې تر سره شي( WHO, 202 0).




٦ شکل: د کوېډ – ١٩ خپراوی (٢٠٢٠/ مارچ/ ١٩ ,WHO).




٧ شکل: د کوېډ – ١٩ د واقعاتو گراف (٢٠٢٠/ مارچ/ ١٩ ,WHO).

د روغتیا د نړېوالې اداري عمومي سرمنشي پر ٢٠٢٠/ مارچ/ ١١ باندې د کوېډ – ١٩ ناروغي نړېواله پانډېمي اعلان کړه. په زیاتو تثبیت شویو واقعاتو کې تبه (٨٨ ٪)، وچ ټوخی (٦٨ ٪)، سستي (٣٨ ٪)، بلغم (٣٣٪)، ساه‌تنگي (١٩ ٪)، د ستوني درد (١۴ ٪)، سر دردي (١۴ ٪) او د عضلاتو او مفصلونو درد (١۵ ٪)، اسهال (۴ ٪) او کانگې (۵ ٪) ښودل شوي دي. د ناروغانو د مړینې سلنه په لومړیو وختونو (١٠-١ جنوري) ٣. ١٧ سلنه وه چې دا اندازه د اول له فبروري څخه وروسته په تدریج سره ٠. ٧سلنې ته ښکته شوه. د تشخیص شویو مثبتو

واقعاتو پر اساس کویډ- ۱۹ په چین کې ۲.۳، ایټالیه کې ۲.۸ او جنوبي کوریا کې ۰.۵ سلنه مړینه رامنځته کړې ده. دا ویروس د تنفسي سیستم په نمونو کې د ۲-۱ ورځو مخکې د نښو له ښکاره کېدو څخه، د ۱۲-۷ ورځو په وسطي او تر دوه هفتو پورې په حادو واقعاتو کې لیدل کېږي. په فضله موادو کې د دې ویروس RNA وروسته د پنځو ورځو په ابتدایي او وسطي واقعاتو کې وروسته د ۵-۴ هفتو پورې پیدا کېږي. ویروس په وینه، سیروم، سلیوا او متیازو کې هم لیدل شوی دی. د بالغو ناروغانو په پوزه کې تر ۳۷ ورځو پیدای شي، خو پټه شوې RNA د اخته کېدو سره مستقیما تماس نه لري. د دې ویروس د خپراوي کچه په ناروغانو کې مخکې د نښو د ښکاره کېدو څخه د ۶۲-۴۸ سلنه ده. په منځني حالت د ناروغي کې ناروغ په دوه اونیو کې ښه کېږي او په حادو واقعاتو کې د ۶-۳ اوونیو ناروغ ښه او یا هم د ۸-۲ اوونیو مرې European Center for ) ECDPC, [2020] Disease Prevention and Control). د نویو معلوماتو پر اساس د روغتیا د نړیوالي اداري په مرستې د یوې اندازې دواګانو مؤثریت په کویډ- ۱۹ معلوم شوي او د نورو دواګانو د پیدا کولو لپاره یې مشترکې څېړنې شروع کړې دي، خو تر اوسه یې ځانګړی واکسین او درملنه وجود نه لري البته په اوسنیو حالاتو کې یې د مخنیوي لپاره تر ټولو غوره لار ۲.۵ متره ټولنیزه فزیکي فاصله، په صابون د لاسونو پریمینځل، د ټوخي او پرنجي مخنیوی دی. رسمي کارکوونکي باید د تلیفون، موبایل، کمپیوټر او نورو وسایلو په استعمال کې د احتیاط نه کار واخلي (WHO, 2020).




۸ شکل: د کویډ - ۱۹ د واقعاتو ګراف (۲۰۲۰/ اپریل/ ۰۱ ,WHO).

په چین کې د ټولو واقعاتو له جملې څخه ۸ سلنه او په ایټالیه کې ۹ سلنه صحي کارکوونکي وو ( ,LCDPH 2020).د اکثرو څېړونکو د څېړنې پر اساس ویل کېږي، چې شلمه صدي په ۱۹۱۸، ۱۹۵۷ او ۱۹۶۸ د نړیوالو وباګانو چې حاده تنفسي عدم کفایه پکې موجوده وه او میلونونه خلک یې ووژل مخ شوې ده چې وروستی یې روان ناورین دی.

## د معلوماتو د راټولونې طرحه او وسایل

د دې معلوماتو په ترلاسه کولو کې د هېواد په سطحه له SMCRE موډل څخه کار اخیستل شوی، چې له مخې یې د موضوع په اړه د مفاهمې پنځه کلیدي نقاط او وسایل؛ لکه منابع (Sources )، پیغامونه (Messages)،خبري سرچینې(Channels)، پیغام رسوونکي( Receivers) او مؤثریت (Effect or Impact) د معلوماتو د تړاو او مستند کولو په پار استعمال شوي همدارنګه د دې ترځنګ د معلوماتو د لا رښتینولۍ او مؤثریت لپاره د ځانګړو اړیکو میتود ( Individual Contact Method)، د ګروپي اړیکو میتود ( Group Contact Method) او د ټولنیزو اړیکو میتود (Mass Contact Method ) او وسایلو څخه استفاده شوې ده، چې د احصایوي تحلیل له پلوه معلومات تشریحي(Descriptive) دي.

## پایلې

د هېواد په سطحه د موضوع په اړه د غیرمستقیمو دویمي معلوماتو په راټولولو سره ډېر اړین او د سرته رساوي وړ نقاط معلوم شو، چې له امله به یې وکولای شو، چې د روان ناورین د وضعیت د معلومولو او د احتمالي خطر په برخه کې ورڅخه استفاده وکړو. له دې څېړنې څخه د مطرح شویو پوښتنو لپاره لازم او د نظر وړ معلومات پیدا شو. د لومړۍ بنیادي پوښتنې په اړه چې له یو تن څخه بل تن ته د کوېډ ـ ۱۹ انتقال وه لاندې لاس ته راغلې پایلې وړاندې کوم.

د یادې ناروغۍ لومړۍ څرک د هرات په ولایت کې ولګیده، چې لامل یې د مسؤلینو په وینا له ایران نه راغلي هېوادوال وښودل شو، چې د راپورونو پر اساس په هغه وخت کې یاده ناروغي په کافي اندازه په ایران کې موجوده وه. په یاد هېواد کې د ناروغي د احتمالي خطراتو او نورو خطري فکتورونو له وېرې هېوادوالو په بې‌ساري ډول هېواد ته مخه کړه او د سرحد له لارې بې د کومو اړینو معایناتو او قرنطین څخه یاد هېوادوال د هېواد مختلفو برخو ته د ضروري شرایطو؛ لکه د اجتماعي فزیکي فاصلې مراعت، لاس نه ورکول، سترې مشي نه کول، د بنډارونو، میلمستیاوو نه جوړول، د یو او بل کورونو ته د نه تللو او له خپل فامیل سره د نه رابطې او نور هیڅ اړونده خطري فکتورونه مراعت نه کړل. همغه وه چې ناروغي له هرات څخه وروسته نورو ولایتونو نیمروز، ارزګان، قندهار، کابل، بامیان، دایکندي، ننګرهار او نورو ولایتونو ته خپراوی وموند او دا خطر هغه وخت لا ډېر شو. کله چې په عین شکل د قندهار او ننګرهار ولایتونو ته د ډیورنډ فرضي کرښې له لارې په داسې حالت کې د هېوادوالو بې‌ساری بهیر رامات شو، چې په پاکستان کې هم د ناروغۍ واقعات موجود وو. اوس بنیادي قضیه داده چې په کور دننه د یادې ناروغۍ معلوم او نامعلوم واقعات لرو او تر ټولو ستونزمنه او د تشویش خبره داده چې د بهرني خپاروي ترځنګ د ناروغۍ په کور دننه انتشار د خبري راپورونو او د مسؤلینو په وینا رامنځته شوی دی او واقعات ورځ تر بلې زیاتېږي. د معلوماتو پر اساس زموږ شته ستونزې چې د ناروغي په خپراوي او د یو لوی او بې‌کچې بشري ناورین په رامنځته کېدو کې به رول ولري دا دي.

۱. د صحي موادو، وسایلو او پرسونل بارز کموالی؛
۲. د تشخیصیه مراکزو او کیټونو کموالی؛
۳. د صحي کارکوونکو د حفاظتي کڅوړو نه شتوالی؛
۴. د اخته او مشکوکو خلکو په ساتنه او مراقبت کي بې‌غوري او یا نه شتون؛

۵. د غیر مسلکي کمیټو ګمارنه او د اولویتونو د نه پېژندلو له امله د ځانګړې شوې بودیجې بې ځایه او فاحش مصرف؛

۶. د قرنطین نه مراعت کول او په پراخه پیمانه د ټولنیزو روابطو شتون (د لاس او ورغاړي وتو دود، ودونه، مرکې، سنت ګیري، د حجرو، دېرو، دوکانونو، چکرځایونو، سرایو او نور بنډارونه)؛

۷. د ناروغۍ په اړه د دیني او صحي سپارښتنو نه مراعت (مساجدو، جنازو،خیراتونو، ختمونو، له اخته ځایونو څخه تګ راتګ ، د اجتماعي فزیکي فاصلې نه مراعت کول، په صابون د لاس نه مینځل، د الکولو او نورو مکروب ضد موادو نه استعمال، د ټوخي او پرنجي پرمهال د حفظ الصحوي اصولو نه مراعت کول)؛

۸. د ناروغانو د هویت نه ښکاره کول او مسؤلیت فردي کول؛

۹. د لاک ډاون او عامه پوهاوي د اصولو نه پېژندل او نه مراعت کول؛

۱۰. له هر څه نه په هر وخت کې بزنس یا کاروبار جوړول؛

۱۱. په پراخه پیمانه د فقر، بې کاري او بې باوري موجودیت؛

۱۲. دا چې د هېواد ۷۵ سلنه خلک په کلیو او بانډو کې اوسېږي او ټول د کورني حیواناتو سره په تماس کې وي او ۵ سلنه ښاري خلک د کورني حیواناتو سره تماس لري، باید خپل لاسونه حیواناتو سره له تماس نه د مخه او وروسته په صابون تر ۲۰ ثانیو پریمینځي.

د دې لنډې څېړنې او معلوماتو په لرلو سره د پورته مواردو مراعت کول کومې داسې تکنالوژۍ، اقتصادي وړتیا او ځانګړې پوهې ته په روان وضعیت کې ضرورت نه لري، چې هغه دې د نظام او ټولنې له توان نه بهر وي، خو یواځې دیني، ملي، ولسي او هېوادنۍ مینې او مسؤلیت پېژندنې ته ضرورت لیدل کېږي. که داسې نه وي؛ نو د الله جل جلاله پر وړاندې به مو د خپل ولس، کورنیو او ځانونو سره لوی او نه بخښونکی جنایت کړی وي. که اقتصادي وړتیا یې ولرو په دې پوهېږو چې تعمیر جوړونه له اساسي ضرورتونو څخه ده، خو له دې څخه مخکې اړینه ښکاري چې تجربه کار صحي کارکوونکي د هغوی لپاره اړین صحي وسایل، محافظتي کڅوړې او نور اړین سهولتونه؛ لکه د هغوی د کورنیو د ساتنې لپاره اړین توکي او نور سهولتونه برابر کړو، تر څو هغوی زمونږ په ساتنه کې رغنده رول ولوبوي او د مسؤلیت نه ډکې کړنې د خپلو وظیفوي صلاحیتونو او مسؤلیتونو په چوکاټ کې ترسره کړي. له روغتونونو او تشخیص ځایونو څخه د اخته او مشکوکو کسانو تېښته او حتی ناروغي پټول د خپلې کورنۍ او خلکو څخه د پوښتنې او تشویش وړ ده او یا هم د تشخیص په برخه کې دومره ستونزې چې مکمله کورنۍ د همدې ناروغۍ له امله مري، خو د تشخیص په اړه یې معلومات نه ترلاسه کېږي، چې کم تر کمه د قرنطین چارې خو یې ترسره شي. دا خو فردي نه، بلکې اجتماعي مسؤلیت دی. د بودیجې د مصرف لپاره باید ځانګړي حساب ورکوونکي، حساب اخیستونکي، مسلکي او پاک نفسه خلک وګمارل شي. هغه مسایل چې هغه د رسنیو او د رسنیو د کارکوونکو ایماني او ملي وجیبه وي؛ لکه د عامه پوهاوي په برخه کې د کلیپونو او نورو وسیلو جوړول او نشرول او په دې برخه کې د پیسو د ورکړې او اخیستلو څخه ډډه کول د دا ډول پېښو پر وړاندې یو ایماني او ملي اصل دی. د دیني او صحي اصولو پېژندنه د هر وګړي وجیبه ده، چې په اړه یې باید شته سیاسي، اجتماعي، مذهبي، مدني، اصلاحي، صحي، اصناف، تجارتي، علمي او نورې اړونده ټولنې لاس په کار شي. د ګرځبندیز په اړه باید نړیوال معیارونه، د ټولنې فقر، بې کاري، د سهولتونو نشتوالی، د روغ او ناروغ پېژندنه، د توکو نرخونه او پیدا کېدل، د ناچارو لاس نیوی او د دې ترځنګ

یې جدي تطبیق تر نظر لاندې ونیول شي. نظامي او صحي کارکوونکو ته باید له خلکو سره د ښو کړنو سپارښتنه وشي، تر څو د خلکو اعتماد لوړ او په ټولنه کې فزیکي، رواني او فیزیالوژیک فشارونه کم او د خلکو د معافیت ساتنه وشي دا او اړونده نورې چارې؛ لکه د ټولنیزو چارو تنظیمول، د عامه پوهاوي، دیني او صحي ویناوو په رڼا کې د ټولنې د سالمې ساتنې لپاره له دې ناروغۍ څخه د ژغورنې په برخه کې مهم اصل دی. له حیواناتو څخه انسانانو او له انسانانو نه حیواناتو ته خپرېدنه، له حیوان څخه حیوان ته خپرېدنه او خامو حیواني خوراکي موادو څخه انسانانو ته د خپراوي په برخه کي تر اوسه په افغانستان کې کوم معلومات او راپور نه شته، چې په اړه یې باید د کوید – ۱۹ په برخه کې د لازیاتو مستندو معلوماتود لاس‌ته راوړلو لپاره ویبسایټونه او څېړنې تعقیب شي او د هېواد پوهنتونونه باید څېړنیزې کړنچارې؛ لکه د نورو هېوادونو په څېر علمي کړي.

**مناقشه**

له کوید – ۱۹ سره جګړه موږ هغه وخت ګټلای شو، چې موږ خپل باتجربه صحي کارکوونکي په تکنالوژي، کافي منابعو او وسایلو باندې بسیا کړو (Liang, 2020). د چین د تجربې نه په اخیستو موږ باید خپله جګړه پیاوړې کړو.

د کورونا لومړۍ پېښه په ۱۹۶۰ کې د سیستماتیک سوړ والګي په شکل رامنځته شوه، چې د ۲۰۰۲ کال پورې یې په عادي ډول یو نه وژونکې او رغیدونکې ناروغي رامنځته کوله. په ۲۰۰۳ کال کې د کورونا ویروس د امریکا متحده آیالاتو، هان کانګ، سینګاپور، تایلینډ، تایوان او ویتنام ته مخه کړه او په یاد کال کې یې د ۸۰۹۶ ناروغانو له جملې څخه ۱۰۰۰ کسان د سخت او حاد تنفسي سنډروم له امله ووژل، چې مایکرو بیالوژیستانو یاد کال د تور کال په نوم یاد کړ. د ۲۰۲۰/ جنوري/ ۲۴ تاریخ د راپور په اساس پر کورونا د اخته وګړو بارزې نښې تبه، ټوخی، ستړیا او نادره نښې یې اسهال او ساه‌تنګي ښودل شوي دي او په ډېرو ناروغانو کې دواړه نښې ښکاره شوي دي. (kumar et al, 2020) . چې البته په پورته کلونو کې زموږ په هېواد کې د کومې پېښې راپور نه دی ورکول شوی او د اوسنۍ ناروغۍ نښې د هېواد په ناروغانو کې هم په همدې ډول او دې ته ورته نورې نښې؛ لکه وچ ټوخی، دردونه، د پوزې بندښت، بهیدونکې پوزه او د ستوني درد ښودلي دي.

له کوید ـ ۱۹ ناروغۍ څخه د ژغورنې لپاره باید لاسونه په الکولو یا صابون سره پریمنځې، په خپل منځ کې کم تر کمه یو متر فاصله ولري، د پوزې، سترګو او خولې له لمس کولو څخه ځان وساتي، تنفسي حفظ‌الصحه باید مراعت کړي، په کور پاتې شي، روزانه معلومات باید ولري، د دې ناروغۍ مخفي دوره له ۱- ۱۴ ورځو ده، چې په اکثرو مواردو کې پنځه ورځې نیسي. د کوید نولس (nCOVID- 19 ) د انتقال په برخه کې د حیواناتو رول تر دې وخته معلوم نه دی. (NHM, 2020). په دې برخه کې چې له ناروغۍ څخه د ژغورنې لپاره ضروري لارښوونې دي، نسبي تعامل وجود لري، خو د نشت برابر دي. د مخفي دورې په اړه موجود معلومات یو شان دي او له حیواناتو څخه د انتقال په برخه کې دلته هم کوم راپور نه شته.

دا ناروغي له یو تن څخه بل تن ته د تنفسي سیستم له لارې د اخته تن د ټوخي او پرنجي پر مهال د پاشل شویو مایعاتو له لارې انتقالیږي اما تر اوسه دا پوره څرګنده نه ده، چې څنګه دا ویروس له یو تن نه بل ته په اسانۍ سره خپرېږي (WSAVA, 2020). د موجودو راپوروو پر اساس زموږ اخته وګړي هم د همدې لارې اخته شوي دي.

د هانګ کانګ په هغو دوه سپو کې د يادې ناروغۍ واقعې مثبتې ښودل شوي، چې د هغوی مالکان پرې اخته وو، خو د ناروغۍ نښې په هيڅ يو کې هم نه دي ښکاره شوي (LCDPH, 2020). د دا ډول پېښې راپور تر اوسه په هېواد کې نه دي ثبت شوي.

د نړۍ په سطحه د ناروغۍ خپراوی ورځ تر بلې په زياتېدو دی، چې دا خپراوی ټولنيز، محلي، مداخلوي او وارداتي ښودل شوی او ځينو واقعاتو د خپراوي نوعيت لا تر اوسه نه دی معلوم چې د څېړنو لاندې دي. د يادې ناروغۍ د خپراوي او دويمي عفونتونو د مخنيوي په برخه کې بايد د خلکو له ګرځېدو څخه مخنيوی، د اخته خلکو پېژندنه او تجريد کول، د حيواناتو د رول پېژندنه، د ناروغانو کلينيکي تغيراتو پېژندنه، د خطري فکتورونو وخت په وخت پېژندنه او راپور ورکول، د ټولنيزو او اقتصادي اړيکو کمول مهم دي. د دې مهمو نقاطو د ښه سرته رساوي په موخه بايد د ناروغۍ د تېزې پېژندنې، تشخيص، اداره او د واقعاتو د مخنيوي او عامه پوهاوي په برخه کې لازمي جدي کړنې ترسره شي. په زياتو تثبيت شويو واقعاتو کې تبه (۸۸ ٪)، وچ ټوخی (۶۸ ٪)، سستي (۳۸ ٪)، بلغم (۳۳ ٪)، ساه‌تنګي (۱۹ ٪)، د ستوني درد (۱۴ ٪)، سردردي (۱۴ ٪) او د عضلاتو او مفصلونو درد (۱۵ ٪)، اسهال (۴ ٪) او کانګي (۵ ٪) ښودل شوي دي. ( WHO, 202 0).د هېواد په کچه د ناروغۍ خپراوی تر اوسه ټولنيز، محلي، مداخلوي او وارداتي ښودل شوي، خو د دويمي عفونتونو د مخنيوي په برخه کې د خلکو له ګرځېدو څخه مخنيوی، د اخته خلکو پېژندنه او تجريد کول، د حيواناتو د رول پېژندنه، د ناروغانو کلينيکي تغيراتو پېژندنه، د خطري فکتورونو وخت په وخت پېژندنه او راپور ورکول، د ټولنيزو او اقتصادي اړيکو کمول او د ناروغۍ د تېزې پېژندنې، تشخيص، اداره او د واقعاتو د مخنيوي او عامه پوهاوي په برخه کې دولتي او ولسي کړنې په خپلو خپلو برخو کې د تشويش وړ دي، چې د همدې امله د ناروغۍ د نښو او خپراوي په برخه کې دومره مستند معلومات د ذيدخله ارګانونو سره نه شته.

## پايله اخيستنه

له ناروغۍ او دويمي غفونتونو څخه د ژغورنې لپاره بايد د خلکو پر ګرځېدو بنديز، د اخته خلکو پېژندنه او تجريد کول، د حيواناتو د رول پېژندنه، د ناروغانو کلينيکي تغيراتو پېژندنه، د خطري فکتورونو وخت په وخت پېژندنه او راپور ورکول، د ټولنيزو او اقتصادي اړيکو کمول او د ناروغۍ د تېزې پېژندنې، تشخيص، اداره او د واقعاتو د مخنيوي او عامه پوهاوي کچه بايد لوړه شي.

## وړانديزونه

۱. دولت، خيريه او مدني ټولنې، رسنۍ او ولس بايد خپل مسؤليتونه وپېژني تر څو د الله جل‌جلاله په مرسته خپل ولس له دې ناورين څخه وساتو.

۲. پوهنتونونه بايد له ذيدخله ارګانونو سره مستندې څېړنيزې کړنې ترسره کړي.

۳. د يو صحت فکر ( One Health Approach ) او اړونده فکتورونو (انسان، حيوان او محيط) پېژندنه بايد پراخوالی ومومي تر څو د دا ډول احتمالي پېښو سره اشنايي ولرو.

## References


European Center for Disease Prevention and Control. (2020). Novel coronavirus disease 2019 (COVID-19) pandemic: increased transmission in the EU/EEA and the UK – sixth update. Dated: March 12. Pp. 1-28.

European Center for Disease Prevention and Control. (2020). Coronavirus disease 2019 (COVID-19) pandemic: increased transmission in the EU/EEA and the UK – seventh update. Dated: March 25. Pp.1-31.

Kumar, D; Malviya, R and Sharma, P. K (2020). Corona Virus: A Review of COVID-19. Department of Pharmacy, Faculty of Medicine and Allied Sciences, Galgotias University, Gautam Buddha Nagar, Uttar Pradesh, India. DOI:10.14744/ejmo .2020 .51418 EJMO; 4(1):8–25.

Los Angeles County Department of Public Health. (2020). Coronavirus Disease (COVID-19). Los Angeles County Department of Public Health http://www.publichealth.lacounty.gov/media/Coronavirus/. Dated: 19 March. Pet Owners FAQ. Pp. 1-2.

Liang. T (2020). Handbook of COVID-19 Prevention and Treatment Chairman of the First Affiliated Hospital, Zhejiang University School of Medicine. Compiled According to Clinical Experience. Pp.1-68.

National Health Mission. (2020). Detail Question and Answers on COVID-19 for Public. Government of Karnataka. Pp. 1-10

World Health Organization. (2020). Coronavirus disease 2019 (COVID-19) Situation Report – 32. Dated: 21 February. Pp. 1-7.

World Health Organization. (2020). Coronavirus disease 2019 (COVID-19) Situation Report – 59. Dated: 19 March. Pp. 1-11.

World Health Organization. (2020). Coronavirus disease 2019 (COVID-19) Situation Report – 72. Dated: 01 April. Pp. 1-13.

World Small Animal Veterinary Association .(2020). The New Coronavirus and Companion Animals - Advice for WSAVA Members. WSAVA Scientific and One Health Committees. Dated: 20 March. Pp.1-4.

پوهندوی دکتور غلام رحیم اواب
طب پوهنځی، د عامې روغتیا او وقایوي طب څانګه

# له کورونا سره تړلو ګڼو روغتیايي ستونزو مهار او مخنیوی

**لنډیز**

د کورونا روان ناورین د ساینسي، دیني او سیاسي اړخه هر څوک له خپلې پوهې سره سم انګیري، خو یوه خبره چې ټول پرې سلا او یوه خوله دي، هغه یې دټولنې د نن او سبا پر روغتیا ناوړه اغېزې دي، چې رغول یې ډېر زر او زور ته اړتیا لري. دا ویروسي یرغل د سمدستي ساییز(تنفسي) سیستم د ناروغولو د ټولنیزې وبا تر شا د ژوند د ورځنیو چارو درېدو، نا انډولۍ، بې‌پامۍ او لاس تر زنې کښیناستو له کبله نورې روغتیايي پېژندل شوې او ژوند ګواښوونکې ستونزې هم زیاتولی او په وبايي بڼه اړولی شي. له همدې شاته پرتو ناورینونو د خوندیتوب، ځان ساتنې او مهارولو په هیله او موخه دا لیکنه د نړۍوالو څېړنیزو لیکنو د لوستلو، خپلو ځايي او ټولنیزو تېرو او نن ته په کتو او د عامو او کارپوهو خلکو د اندونو په رڼا کې د ګواښوونکو روغتیایي ستونزو دوړاندوینو او د مخنیوي د سپارښتنو لنډې ټولګې په توګه لوستونکو ته لیکل شوې.

د باوري سرچینو پر بنسټ، اقلیم او چم ګاونډ ته په کتو او د پوهانو د وړاندوینو په رڼا کې د ناورین په ترڅ کې دبې‌کیفیته درملوزیاتیدو تر څنګ د اسهالاتو، تبه لرونکو انتاناتو، خوارځواکۍ، اوږدمهاله ناروغیو پرمختګ په واکسین د تمبول شویو ناروغیو دبېرته راګرځېدو، ذهني او رواني فشارونو د زیاتېدو، د زغم او ګاللو له کچې اوښتو او روغتیايي سیستم له وسه بهر کېدو کلکه اندیښنه مخې ته پرته ده.

حکومتي چارواکي، مرستندویه ټولنې، ملي سوداګر، روغتیايي سیستم او روغتیاپالان همدارنګه د ټولنې مخور او ټول خلک باید په خپل وار د خوندیتوب، ځان‌ساتنې او پر وخت سمبالښت اړوندې سپارښتنې په پام کې ونیسي.

**کلیدي کلمې:** کورونا، روغتیا، ناروغي، کوویډ۱۹

**سریزه**

له ساینسي اړخه طبعي یا د انسان له خوا په لوی لاس او یا هم په نا پامۍ یو ناورین، له دیني اړخه د خدای‌جل‌جلاله عذاب، امتحان یا په تېرو د پښیمانۍ او بیا کتنې فرصت (i) او د ځینو په اند ناوړه سیاسي سیالي او اقتصادي جنګ او بدمرغي(ii)، خو په چین کې راڅرګند، تړې بهر ته چټک خپور، نړۍ یې راګیره، تکنالوژي یې ماته، ملتونه یې ستومانه، دولتونه او ټولنې یې خواشیني، د روغتیایي ډګر جنګیالي، مشران او د

نورو د ژوند غمخوران او د مورال ځلي يې په ډېره بې‌رحمۍ را وپرځول، پرمختللي روغتيايي سيستمونه يې تشخيص کې پاتې او له تداوۍ ناهيلي او عامه روغتيا يې داسې بدمرغه زخمي کړه، چې رغول به يې ډېر ځير، زر او زور وغواړي(iii ).

يو نا اشنا ويروس چې ځانګړنې او ځانګړتياوې يې لا پوره نه دي ځرګندې د يويشتمې پېړۍ له پيله پر انساني ټولنه دا دربېم بريد کوي(iv) چې دا اوسنی يې ډېر خونړی اوله ويره ډک چې په سلګونو هېوادونو کې په زرونو روغتونونو د نابسيايي، د لکونو انساني مړينو، ميليونونو رنځونو، ميلياردونو پټو او ښکاره پېښو په ترځ کې څو بيليونه زده‌کوونکي له ښوونځيو او پوهنځيو را ستانه او په کور کښېنول(v)، خو لا هم د وبا لمن غځېږي، وېره او ترهه خپرېږي، د سارس، ميرس او ايبولا بريالیو تجربو ته سترګې اړول کېږي، خو د طاعون، کولرا، انفلوانزا او ايډز زاړه او پيړې پخواني خواشينونکي يادونه او زخمونه را تازه کېږي(vi).

د ويروس د لېږد د ځنځير پرې کولو او د لويوغميزو د مخنيوي په نيت کورونا جدي وګڼل شوه. د شکمنو پېښو د څار، چاڼ، تجريد او قرنطين چارو د روغتيايي مقرراتو، طبي اخلاقو او بشر د حقوقو پولې هم ور وخوځولېvii. يو له بله د لرېوالي، يو بل ته لاس نه ورکولو، بيا بيا لاس مينځلو، د صابون او ککړتيا ضد درملو او د خونديتوب د توکو کارولو کلکې سپارښتنې په پام کې ونيول شوې. د ښوونځيو، پوهنځيو، روزنځيو، خوړنځيو، پلورنځيو، ساتنځيو او کارځايو دروازو بندولو، بازارونو تړلو او په تګ او لېږد کلک بنديز اقتصاد او انکشاف ټکنی، ځوانان او مشران يې ناهيلي خود بې ساري ناورين د غځېدو او ويروس د خپرېدو سوړې او ناليدلې لارې لا هم نه بندېږي او انديښنې ورځ تر بلې زياتېږي(viii).

د ترهې او لالهاندۍ سره غبرګ د خوراک، څښاک، پوښاک او نورو اړينو توکو د بيو لوړېدو او توکو کمښت له امله د بېکارۍ، لوږې، چاپېريال خرابېدو او ککړتيا ستونزې ورځ تر بلې هم ډېرېږي(ix).

د خونديتوب او ناروغۍ ميندنې او بيا رغيدنې توکو؛ لکه صابون او سنيټايزر، ماسک، لاسکښو، چپنو او تشخيصيه ټستونو د ککړتيا ضد موادو او د بې شمېره طبي، خوراکي، ځان او چاپېريال پاکولو او د بازار د هر ډول توکو څنګ ته کول، نرخونو لوړول، بازار ته د وخت تېرو او ناوړه اغېزو لرونکو توکو راويستل د روغتيايي ستونزو او ناخوالو پيټي ورځ تر بلې درنوي(x). د نورو ناروغيو؛ لکه ويروسي زيړي، ايډز، ملاريا، بندونو د خوږ، سيستميک لوپس ايريتماتوس او اړينو درملو؛ لکه کلوروکين، هايدروکسي- کلوروکين، ازيترومايسين، ويټامينونو، د درد او انديښنې ضد درملو، ويروس ضد څو درملو او داسې نورو زېرمې لا وار ترمخه تشې شوې. پخپل سر اوبې اړتيا کارول او د بيو لوړيدا يې د ناوړه اغېز لرونکو، دروغجنو او تش په نامه درملو د ډېرېدو د بل ناورين ګواښونه کوي.(xi)

## شالید

د ناورینونو پر مهال د ویرې، بې زغمې، اندیښنو، د چلند د بدلون، د سکون له منځه تګ(xii) تر ځنګ توکو او درملو یا اغېز په جوړولو، رسولو او ساتلو کې د بې غورۍ یا تېروتنې له کبله له منځه ځي او یا یې ځای د ټګۍ، چالاکۍ او درغلۍ له امله تاریخ تېرو، خرابو، دروغجنو او تش په نامه توکو او درملو له خوا نیول کېږي. په بازار د څار نه شتون، د خلکو اړتیا، اسانه لاسرسی، ترورتیا، ګډوډي اود بیو ارزاني یې لاره هوارونکي لاملونه دي. تاریخ د زده‌کړې او پند لپاره د دې ناخوانه او ناوړه چلند ډېرې بېلګې او ټولګې ساتلي، چې د روغتیا او طبابت اړوند مشهوره بېلګه یې په ۱۷مه پېړۍ کې د طاعون د ستر ناورین سره غبرګ د ملاریا درملنې لپاره د سینکونا د ونې پوټکي وو، چې کونین درمل ترې جوړېده، خو له بده مرغه چې لمن یې له لړلتیا او پلیتوالي ونه ژغورلی شوه. همدارنګه له دویمې نړۍوالې جګړې وروسته پنسلین غوندې مشهور میکروب وژونکي درمل په نړۍواله کچه د درغلۍ ښکار او په تېرایستونکو او بې اغېزه بڼو بازار ته وړاندې کېده اوخرڅېده (xiii). د پاراسیټامول په څېر پېژندل شوی درمل هم په جعل او دوکې ککړه بڼه بازار ته راوتلې او د ځیګر اوبډوډو ځپلو په پایله کې د مړینو لامل شوی(xiv) چې همدا اوس هم ډېر درمل د ورته برخلیک سره مخ دي.

پورتنیو ستونزو او د خپلې ټولنې د جوړښت، باورونو، ژونددود، عناناتو او عادتونو ته په پام د کورونا نړۍ نیونکې ناروغۍ له شاته پرتو ناورینونو د خوندیتوب او ځان‌ساتنې لارې چارې د نورو ټولنو له بریالیو تجربو پر بنسټ را ټولې او لوستونکو مخې ته له ناخوالو د ځان‌ساتنې او مهارولو په هیله ږدم(xv).

## مواد او کړنلاره

دغه کتابتوني مقاله په مشهورو او معتبرو نړۍوالو طبي او روغتیایي بریښنایي ژورنالونو او ویبسایټونو کې لکه: PubMed, Science, Scopus, Science، JAMA, BMJ, Oxford، GHN، CDC، TIME، LANCET & Net.Medical د کورونا، کووید۱۹، سارس، میرس، انتاني ناروغیو، بېړنیو ناروغیو او پانډیمیک (نړۍ نیونکو) ناروغیو په اړه خپرو شویو لیکنو د لټونې، غوراوي، وړ ګڼنې او لوستنې په پایله کې تازه موندنې او سپارښتنې راټولې او له خپل چم او ګاونډ کې د تېرو روغتیایي ستونزو او سیستم تر څنګ د اوسني ناورین رامنځ ته کېدو، غځېدو، کچې، څرنګوالي، اغېزو او چلندونو له مشاهدې، ځغلندې کتنې او رسنیو له کتلو سره غبرګې بیا د چارواکو، کارپوهانو، ویندویانو او اغېزمنو شویو د اندونو، باورونو او یادښتونو راغونډولو په پایله کې د ترلاسه شویو معلوماتو سره پرتله او د لنډیز، شننې او څېړنې په پایله کې په وصفي او تشریحي بڼه لیکنه برابره او ترتیب شوې.

## موندنې یا پایله

### د پېښېدونکو روغتیايي زیانونو وړاندوینه

- له کورونا د خوندیتوب په هیله په تش لاس او نیمګړو امکاناتو یواځې په کورونو دننه بندو او سرتړلو کوټو کې یوځای اوسېدو پر مهال د ګڼې ګوڼې، ککړې هوا، صحي تشنابونو کمښت، د خوړني توکو د جوټه کېدو، خوسا کېدو او وخت تېرېدو، د اوبو د زېرمو د ککړېدو، د کوڅو د ویالو چټلوالي، د چاپېریال د ناپاکۍ او مچانو د زیاتېدو له امله د نس‌ناستو، نس‌خوږو او غذايي تسمماتو زیاتوالی؛ لکه روټا، کولرا، محرقه، امیب، جاردیا، د ګېډې چینجیان، د ځیګر ویروسي التهابونه او داسې نور مو د بدن د اوبو او مالګو د بې انډوله کېدو، وینې کمښت، زېړي په بڼه د ګڼو ناروغیو د بابیزیو او مړینو پر درشل ور اړولی شي، چې باید اړین پلان ورته ولرو.
- د هوا او تودوخې د تغییر، موسمي اورښتونو، د کورونو دننه او شاوخوا کوڅو، ویالو، ویالو او جبه زارونو کې د ولاړو اوبو د زیاتوالي، د زورونکوغوماشو چیچلو او نورو زهري خزندو د ډېرېدو او ځارویو سره د نږدېوالي شونتیا زیاتېږي؛ نو باید د رامنځته کېدونکو موسمي تبه لرونکو ناروغیو؛ لکه ملاریا، ډینګې وبا، بروسیلوز، انترکس، نري رنځ او نورو ناروغیو د مخنیوي، مهارولو پر وخت تشخیص او درملنې ته هم د کور په کچه او هم د روغتیايي مرکزونو له لارې اړین چمتووالی ولرو.
- قوي او انډول شویو خوړو، سبزیجاتو، تازه میوو او د ویټامنونو بډایه سرچینو ته نه لاس رسي او د بیو لوړوالی د خوارځواکۍ او د منرالونو او ویټامینونو کمښت، همدارنګه د فزیکي کارونو کمېدو، تګ راتګ نشتوالي او تمرین نه کولو له امله د وزن زیاتېدو او له نورو اوږدمهاله ناروغانو له پامه غورځېدنه مو بله روغتیايي ننګونه ده.
- په تګ راتګ د بندیزونو او ترانسپورټ نه شتون له امله روغتیايي مرکزونو ته د نه لاسرسي، د واکسینو د زېرمو تشیدلو، د پرسونل د نه شتون، ګڼو نورو دلیلونو له امله د واکسین په مرسته مهار شویو وژونکو ناروغیو بېرته را ګرځېدل، چې وبايي وړتیا او غمیزه یې له دې کورونايي ناورینه ډېره سخته، درنه او ځورونکې ده، ځکه چې تاند او تنکي ماشومان مو وژني او ورسره تړلي ارمانونه تر خاورو لاندې کوي.
- له ناباوري نړۍوالو بریښنايي شبکو ټولنیزو رسنیو ته د بې‌بنسټه اوازو او ناتائید شویو معلوماتو د لاړ موندلو او بې مهاره خپریدلو له امله د بې دریغه، بې ځایه، پخپل سر او په لوړه اندازه د ملاریا، ویروسي زیړې، ایډز، روماټوید ارترایتیس او د معافیت له افراطه رامنځ ته شویو ناروغیو د درملو کارول د ناوړه اغېزو شیندلو، د نوموړو ناروغیو د پېښېدو پر مهال د تش لاس پاتې کېدو او له تمې لوړې مړینې تر بریده رسولو بله بدمرغي مو هم ګواښي (xvi).
- د کور دننه اوږدمهاله پاتې کېدل د بېکارۍ، په بریښنايي ټکنالوژۍ د روږدتیا، د تاوتریخوالي، توپیري چلند، کرکې، رټلو، سپک او ټیټ بللو له امله رواني فشارونه، اندیښنې، سوچونه، ویره، وارخطايي ډېروالی د روان ناورین د پراخېدو له امله د زغم او ګاللو له توانه وځي. ماشومان، اوږدمهاله ناروغان او روغتیايي کارکوونکي چې د شکمنو ناروغانو سره د تماس او د ناورین مهارولو په لومړي خط کې پراته دي، د فزیکي، رواني، عاطفي ستړیا (Bornout) یا لمبه کېدو د ځانګړي حالت ته رسېدو تر ګواښ لاندې دي xvii. چې د اوږد

ذهني فشار له امله د بې‌خوبی، ناآرامه خوب، خوب کې ویریدنې، شک او تردد، خفګان، غصې، اشتها لـه منځه تللو، تمباکو او نشه‌یي توکو ته مخه کولو، له کتاب لوستلو او درس ویلـو سره مینـه کمېـدو، ډلـه‌ییزو او ټولنیزو رسنیو سره ډېر زیات بوختیدلو او ډول ډول سلوکي بدلونونو په بڼه راڅرګندېږي او خطرناکې نـاخوالې زېږوي.

**د پېښېدونکو زيانونو مخه نيونکي اړين وړانديزونه**

۱ ـ حکومتي چارواکو او په ملاتړ يې مرستندويه نړۍوالو او کورنيو ادارو او ملي سوداګرو ته لاندې سپارښـتنې لرو.

- د ناورين مهارولو او زيانونو د مخنيوي په بشپړه همغږۍ او پر وخت د روغتونونو او روغتيايي مرکزونو لومړنۍ اړتياوې پوره، زېرمې ډکې او د مسلکي زيار ويستونکي ځواک کاري، پوهنيزه، څېړنيـزه وړتيـا لـوړه او روحيه پياوړې وساتي.
- له ناورين سره غبرګو ناوړه اړخيزو اغېزو د مخنيوي، پر وخت موندنې او ورته وړ او ژر ځواب ويلو لپاره بېړنۍ او اوږدمهالـه مرسـتې زيـاتې، لګښـتي تـدارکاتي چـارې اسـانه او ټيټـو کچـو تـه د طبـي وسـايلو او ورځنيـو کاريدونکو توکو د غوراوي او اخيستلو واک او بوديجه په لاس کې ورکړي.
- د روغتيايي سيستم د کارمندانو سرښندنې، هلې ځلې وسـتايئ، ورتـه پـه درنـه سـترګه وګـورئ، خونـديتوب او کاري وړتيا لوړول يې له پامه و نه غورځوئ، ځکه د سرکار ژمنتيا د هڅو اغېز پياوړی او ګړندی کوي.
- د ورځنيو او مهاليزو خدمتونو تر څنګ د بېړنيو روغتيايي خدمتونو پر وخـت تـرسره کولـو لپـاره نـورو بشري سرچينو ګمارنه، روزنه، خونديتوب او اغېزناک کاري شرايـط برابـر او څارنـه يـې وشي، بشـپړ چمتـووالی وي ترڅو له ناورينه زېږېدونکو روغتيايي ناخوالو ته پر وخت ځواب وويل شي(xviii).
- د ورو ـ ورو او په پراويز ډول د ګرزبنديز ليرې کولو، بديلو لارو غوره کولو او بېرته پخواني حالت ته ګرځېدلو سم او د شواهدو پر بنسټ هر اړخيز پلان باندې کار وشي. ځکـه د کورونـا د آرچينـو (څـارويو او مرغـانو) د شتون، انسان ته ترې د ليږد وړتيا پيدا کولو او د دايمي معافيت يا واکسين نه شتون ته په پـام کورونـا نـوره يـوه ټولن‌ميشته او بيا بيا راګرځيدونکې ناروغي ده.

۲ـ طبيبانو او روغتياپالانو ته لاندې سپارښتنې کوو

- که څه هم تر نورو زيات تر ګواښ لاندې ياست، خو د ټولنې پر وړاندې خپله دنده د ناورين پـر مهـال د تـل په څير د انسان‌دوستی، خواخوږۍ، د کره او تازه پوهې او پر ځان د باور له مخې لـه نـورو سره پـه همغـږۍ د مخامخ او اوسني وضعيت ته په لومړيتوب ورکولو ترسره کړئ.
- د ځان د خونديتوب توکي، پاکو اوبو ته لاسرسی باوري کړئ، که له شکمن او ناروغ سره نږدې شوي ياسـت خپل همکاران خبر او ځان جلا قرنطين وساتئ.
- د اوږد مهالو ناروغانو او د لوړ ( ۶۰ کلنو پورته ) عمر لرونکو مشرانو، مور او ماشوم روغتيا او سلامتيا، درملنـې او پالنې ته ځانګړې پاملرنه ولرئ(xix).

- د موسمي ساري ناروغيو لست، ارقام او معلومات په اوونيزه بڼه ترتيب، لنډيز، تحليل او د تېرو کلونو له ارقامو سره پرتله او د توپير شننه يې وکړئ، له تمې اوښتى يا ناڅاپي ډېروالى را برسيره، لامل يې په ګوته او سمدستي لاس په کار شي.
- د طبي سامان الاتو، تشخيصي، درمليز، وقايوي مصرفي موادو او واکسينونو زېرمې تازه او پوره و ساتل شي، پر وخت وېش او اړينو ته رسولو چارې بايد چټکې او کوم خنډ او ځنډ پکې نه وي.
- د کورونا د پراخ لمني يرغل په لومړۍ کرښه پروت طبي پرسونل بايد د خپل ځان او ټولنې د خونديتوب لپاره د مسلکي ژمنتيا په رڼا کې د ناروغۍ په مخنيوي او شا تمبولو کې له نړۍوال کاروانه وروسته پاتې نه شي.
- دا چې د ناورين د اوږدېدو او ژر نه ختمېدو وړاندوينې کېږي، له نورو هېوادو سره پولې تړلې دي او د ناروغانو د هيلو او مخ اړولو ځايونه يواځې همدا خپل طبيبان دي؛ نو د خپلې روحيې د پياوړې ساتلو تر څنګ له خلکو سره د خواخوږۍ په نيت روغتيايي مراکز او کتنځي د ناروغانو پرمخ ونه تړل شي(xx).

**۳- ټولنې ته سپارښتنې**

- دمګړۍ د کورونا ناروغۍ پر وړاندې ځانګړی درمل نه شته، يواځې ترې د خونديتوب او ځانژغورنې هڅې بريالۍ بلل کېږي، تر څو د ککړو لاسونو، ککړ چاپېريال او د ټوخي پرنجي، اسويلي پرمهال سرايت څخه ځان وساتو؛ نو ځکه له ګڼې ګوڼې ځان ساتو، د ستوني، خولې، پوزې او لاسونو پاکي او خونيتوب جدي نيسو.
- آرام او استراحت، ګرمو، اوبلنو او متوازنو خوړو، ويټامن سي لرونکو سرچينو ډېر اخيستل، بيا بيا په ګرمو اوبو او مالګه غرغره کول او ګرم تپ (بخار) تېرول، په کور دننه له نورو جلا کېدل، لوړه او غښتلې روحيه ساتل، ښه کورنۍ پاملرنه او ځانځارنه، د اړتيا پر مهال د درد ضد او د روغتياپال په مشوره د انتي بايوتيکو کارول او بېړني حالت کې ژر تر ژره روغتون ته تګ د تنفسي د اوسني ناورين په مهارولو کې ښه اغېز او ګټورې پايلې لري(xxi).
- د ناکره او بې بنسټه راپورونو منل يواځې د درملو او خونديتوب توکو بې‌باکه او پخپل سر کارونه، ناوړه اغېزې، لګښت او بيې، د بې کيفيته درملو ډېرښت، د ناروغيو پرمختګ او ستونزې ډېرولى شي او بس.
- د وبايي ناروغيو سرايت زياتره په روغتون، درملتون، لابراتوار او روغتيايي ځايونو کې د هر چا د راتګ، ګڼې ګوڼې، ناخبره او ناڅاپه مخامخېدو او ګډو طبي سامانونو کارولو له کبله رامنځ‌ته کېږي؛ نوځکه بې له سختې اړتيا، بې له خونديتوب د توکو کارولو او په ډله‌ييزه توګه له تګ څخه ډډه وکړئ.(xxii).

**پايله اخيستنه**

خپلې روغتيا ته بايد جدي پام وکړو. د کورونا د ناورين او ورسره تړلو روغتيايي ستونزو د سم او پر وخت موندنې او پوهېدنې، مهارونې او خپرېدو مخنيوي ته د ځان، ټولنې او حکومت په کچه چمتووالى ولرو.

په حوصله او پوهنیزه توګه د سمبالښت اغېزناکتیا او ګټورتیا، چاپېریالي سمون او د ګېوګونو مخنیـوي خـو د زړونو نړدېوالي پر بنسټ ولاړې له مهرباني، پېرزوینې او ښېګڼې برخمنې کړنلارې ترتیب او عملي کولو تـه یـې ژمن و اوسو.

په خپلو تېرو بیاکتنه، په ناغېړیو، بې‌باکیو، خپلسریو او ځان تېرباسلو پښیماني وښیو او خپلې دیني او دنیوي دندې په ریښتنولۍ ترسره کړو. په پالونکي او ساتونکي رب تل باور او بروسه لرو او دعا کوو، چې لـه روغتیـایي او هر ډول غمیزو او بدمرغیو مو بچ او خوندي وساتي.

**ماخذونه**


i. Lu H, Stratton CW, Tang YW. Outbreak of pneumonia of unknown etiology in Wuhan China: the mystery and the miracle. J Med Virol 2020 Jan 16 [Epub ahead of print]. doi:10.1002/jmv.25678

ii. https://abcnews.go.com/Politics/intelligence-report-warned-coronavirus-crisis-early-novembersources/story?id=70031273&utm_source=Global Health NOW.

iii. Johns Hopkins University (JHU)". Coronavirus COVID-19 Global Cases by the Center for Systems Science and Engineering (CSSE) ArcGIS. Johns Hopkins CSSE. Retrieved 8 April 2020.

iv. Lu R, Zhao X, Li J, Niu P, Yang B, Wu H, et al. Genomic characterisation and epidemiology of 2019 novel coronavirus: implications for virus origins and receptor binding. Lancet (London, England) 2020 ;395(10224):565–74. [PubMed] [Google Scholar]

v. Johns Hopkins University (JHU)". Coronavirus COVID-19 Global Cases by the Center for Systems Science and Engineering (CSSE) *ArcGIS*. Johns Hopkins CSSE. Retrieved 14 April 2020.

vi. CT Bauch, T. Oraby. Assessing the pandemic potential of MERS-CoV. Lancet, 382 (2013), pp. 662-664, 10.1016/S0140-6736(13)61504-4

vii. David P. Fidler.The World Health Organization and Pandemic Politics. April 10, 2020. https://www.thinkglobalhealth.org

viii. Kathy Leung*, Joseph T Wu*, Di Liu, Gabriel M Leung. First-wave COVID-19 transmissibility and severity in China outside Hubei after control measures, and second-wave scenario planning: a modeling impact assessment. https://www.thelancet.com/journals/lancet/home.

ix. (https://www.bbc.co.uk/news/uk-england-london-51991245

x. Guerin PJ ، Singh-Phulgenda S ، Strub-Wourgaft N. The consequence of COVID-19 on the global supply of medical products: why Indian generics matter for the world. F1000Res. 2020; (published online April 1.) DOI:10.12688/f1000research.23057.1

xi. Brooks SK, Webster RK, Smith LE, Woodland L, Wessely S, Greenberg N, et al. The psychological impact of quarantine and how to reduce it: rapid review of the evidence. Lancet. 2020;395:912–20. DOIExternal Link

xii. Newton PN Timmerman B. Fake penicillin, the Third Man, and Operation Claptrap.

xiii. BMJ. 2016; 355i6494

xiv. Newton PN, Green MD, Fernández FM, Day NJP, White NJ. Counterfeit anti-infective medicines. *Lancet Infectious Diseases* 2006; 6: 602-613.

xv. CT Bauch, JO Lloyd-Smith, MP Coffee, AP. Galvani. Dynamically modeling SARS and other newly emerging respiratory illnesses: past, present, and future Epidemiology, 16 (2005), pp. 791-801, 10.1097/01.ede.0000181633.80269.4c

xvi. Politi D.Nigeria reports chloroquine poisonings as Trump keeps pushing drug against coronavirus.

xvii. https://slate.com/news-and-politics/2020/03/nigeria-chloroquine-poisonings-trump-pushing-drug-coronavirus.html

xviii. Shultz JM, Cooper JL, Baingana F, Oquendo MA, Espinel Z, Althouse BM, et al. The role of fear-related behaviors in the 2013–2016 West Africa Ebola virus disease outbreak. Curr Psychiatry Rep. 2016;18:104. DOIExternal LinkPubMedExternal Link.

xix. Infection Prevention and Control During Health Care .World Health Organization available at ;Infection is Suspected (nCoV)When Novel Coronavirus
-ringdu-control-and-prevention-infection/detail-publications/int.who.www//:https
20200125-suspected-is-infection-(ncov)-coronavirus-novel-when-care-health

xx. Behnaz Rastegarfar, Ali Ardalan,* Saharnaz Nejat, Abbasali Keshtkar, and Mohammad Javad Moradian. A Productive Proposed Search Syntax for Health Disaster Preparedness Research. Bull Emerg Trauma. 2019 Apr; 7(2): 93–98.doi: 10.29252/beat-070201.

xxi. Nakagawa JT, This Is What Keeps Doctors Going During a Pandemic. Elemental. March 19, 2020.

xxii. World Health Organization. Joint WHO/OGAC technical consultation on task shifting: key elements of a regulatory framework in support of in-country implementation of task shifting. Geneva: The Organization; 2007.

xxiii. Infection Prevention and (CoV-WN)Wuhan Novel Coronavirus .Public Health England at available ;[2020January 15updated ] 2020Control Guidance
-fectionin-novelcoronavirus-wuhan/publications/government/uk.gov.www//:https
-and-prevention-infection-cov-wn-coronavirus-novel-wuhan/control-and-prevention
controlguidance

پوهندوی سید اکرم هاشمي  او پوهنیار هجرت الله صافی
د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی

# د کوویډ۱۹- ناروغۍ د خپرېدو د مخنیوي لپاره د دولت مکلفیتونو او په دې اړه نیول شویو تدابیرو ته د بشري حقونو له پلوه لنډه کتنه

## لنډیز

د کوویډ-۱۹ ناروغي د چین د ووهان په ښار کې د ۲۰۱۹ کال په اواخرو کې رامنځته شوه، چې ډېر ژر یې د افغانستان په شمول تقریباً د نړۍ ټولو هېوادونو ته سرایت وکړ. ددې مقالې د لیکلو تر وخته د افغانستان په مختلفو ولایتونو کې په دې ناروغۍ د اخته کسانو شمېر ۱۰۲۶ ته رسېږي. دولت که له یوې خوا د دې ناروغۍ د خپرېدو د مخنیوي لپاره روغتیایي تدابیر ونیول، له بل پلوه یې د خلکو په تګ راتګ ځینې محدودیتونه او بندېزونه ولګول. د دې ځېړنې موندني ښیي، چې د دې کار سره د خلکو د آزادانه تګ او راتګ د حق په شمول ځینې نور حقوق هم محدود شول. په دې مقاله کې کوښښ شوی ترڅو د افرادو د روغتیا حق د تامین او ناروغیو څخه د مخنیوي د حق په شمول ددغه ناروغۍ د خپرېدو د مخنیوي په اړه د وضع شویو محدودیتونو حدود او د ذکر شویو محدودیتونو پر وخت د دولت مکلفیتونه له حقوقي پلوه وارزول شي. ددې لپاره چې دولت ددې ناروغۍ د مخنیوي لپاره خپل مکلفیتونه په سمه توګه سرته رسولې وي او د دولت له خوا نیول شوي تدابیر مشروعیت تر لاسه کړي، دا مقاله ي، لړ مشخص وړاندیزونه هم لري. په دې ځېړنه کې له کتابتوني او ساحوي میتودونو څخه کار اخیستل شوی دی.

**کلیدي کلمې:** د کوویډ-۱۹ ناروغي، کورونا، بشـري حقـوق، د روغتیا حـق، د بشـري حقونـو محدودیتونـه، قرنطین، ګرځبندیز.

## سریزه

د کوویډ- ۱۹ ناروغي (چې له کورونا ویروس څخه رامنځته شوې ده) په لومړي ځل د چین د ووهان په ښار کې د ۲۰۱۹ کال په اواخرو کې رامنځته شوه، چې ډېر ژر یې د افغانستان په شمول تقریباً د نړۍ ټولو هېوادونو ته سرایت وکړ. د دې مقالې د لیکلو تر وخته د افغانستان په مختلفو ولایتونو کې په دې ناروغۍ د اخته کسانو شمېر ۱۰۲۶ ته رسېږي.[1] دولت که له یوې خوا د دې ناروغۍ د خپرېدو د مخنیوي لپاره روغتیایي تدابیر ونیول، له بل پلوه یې د خلکو په تګ راتګ ځینې محدودیتونه او بندېزونه ولګول چې ددې کار سره د خلکو د ازادانه تګ

[1] هېواد کې د کورونا ویروس د مثبتو پېښو شمېر ۱۰۲۶ ته ورسېدې. (۱ ثور ۱۳۹۹ ل). طلوع نیوز، هېواد کې د کورونا ویروس د مثبتو پېښو-شمېر۱۰۲۶-- ته ورسېدي https://tolonews.com/pa/health/#main-content

او راتګ د حق په شمول ځينې نور حقوق هم محدود شول.[2] دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان د اساسي قانون له نظره، دولت له يوه پلوه د روغتيا د حق په اړه ځينې مکلفيتونه لري او له بل پلوه دولت بايد د افرادو د هغو بنسټيز حقوق احترام وکړي چې په اساسي قانون کې ذکر شوي دي او د دغو حقوقو څخه د استفادې لپاره اړين شرايط برابر کړي. که دولت وغواړي چې په دغو حقوقو محدوديتونه وضع کړي، دغه محدوديتونه بايد د يو سلسله شرايطو درلودونکي وي.[3]

په دې مقاله کې لومړی د موضوع په شاليد رڼا اچول کېږي او په موضوع حاکم حقوقي اصولو ته لنډه اشاره کېږي. له دې وروسته د روغتيا د حق د مختلفو بعدونو او ددغه حق په اړه د دولت مکلفيتونو ته اشاره کېږي. له دې برخو وروسته د دولت له خوا ددغه ناروغۍ د خپرېدو د مخنيوي لپاره د وضع شويو بنديزونو ارزونه د ملي او نړۍوالو حقوقي اسنادو له نظره کېږي. په پای کې يو سلسله وړانديزونه شتون لري.

## د ستونزې طرح

د کوويډ-۱۹ ناروغي د ۲۰۱۹ ميلادي کال په اواخرو کې د چين په اوهان ښار کې رامنځته شوه، چې په ډېر سرعت سره د نړۍ نورو هېوادونو ته خپره شوه. متاسفانه، افغانستان ته هم دا ناروغي رسيدلې ده، چې ددې مقالې د ليکلو تر وخته زمونږ په هېواد کې ددې نارغۍ د مثبتو پېښو شمېر ۱۰۲۶ ته رسيږي. په هرات، کابل، ننګرهار، کندهار، بلخ او نورو ولاياتو کې د دولت لخوا ددغه ناروغۍ د خپرېدو د مخنيوي لپاره روغتيايي تدابيرو ترڅنګ د ګرځبندېز، د ښارونو او کاروبار بندښت، قرنطين او نور تدابير نيول شوي دي. که څه هم دولت مکلفيت لري ترڅو ددغو تدابيرو پر وخت ټول اساسي بشري حقوق رعايت کړي، د دغو تدابيرو له کبله د بشري حقونو يو شمېر اصول چې په اساسي قانون او نړۍوالو حقوقي اسنادو کې ذکر شوي دي او دولت يې په رعايت مکلف دی، د ننګونو سره مخامخ شوي دي. ددې مقالې په ترڅ کې هڅه شوې ترڅو د کوويډ-۱۹ ناروغۍ د خپرېدو د مخنيوي لپاره د دولت مکلفيتونو او دولت لخوا نيول شوو تدابيرو ته د بشري حقونو له پلوه کتنه وکړي او دا روښانه کړي چې دولت بايد په دې وخت کې کوم کارونه ترسره کړي او په کومه طريقه يې ترسره کړي.

## پوښتنې

اساسي پوښتنه: د کوويډ-۱۹ ناروغۍ د خپرېدو د مخنيوي لپاره د دولت لخوا نيول کېدونکي تدابير بايد له حقوقي پلوه د کومو شرايطو لرونکي وي؟

فرعي پوښتنې:

1. د کوويډ-۱۹ ناروغۍ د مخنيوي لپاره بايد دولت کومې کړنې ترسره کړي؟

---

[3] د مدني او سياسي حقوقو نړيوال ميثاق، ۱۹۶۶م، ۱۲ (۳) ماده.

2. د دولت لخوا د کوویډ-۱۹ ناروغۍ د خپرېدو د مخنیوي لپاره نیول کېدونکې تدابیر باید له حقوقي پلوه د کومو شرایطو لرونکي وي؟

## څېړنیزه تګلاره

په دې څېړنه کې له کیفي میتود څخه کار اخیستل شوی دی. ټول مالومات له کیفي اړخه ارزول شوي دي. په دې څېړنه کې له کتابتوني او ساحوي میتود څخه استفاده شوې ده. د کوویډ- ۱۹ ناروغۍ څخه د رامنځته شوي وضعیت د کنترول لپاره د دولت مکلفیتونه د افغانستان د قوانینو او هغو نړۍوالو حقوقي اسنادو له نظره ارزول شوي دي چې افغانستان يې پر رعایت مکلف دی.

## د موضوع شالید

د کوویډ- ۱۹ ناروغي د چین د ووهان په ښار کې د ۲۰۱۹ کال په اواخرو کې رامنځته شوه، چې ډېر ژر يې د افغانستان په شمول تقریباً د نړۍ ټولو هېوادونو ته سرایت وکړ. ددې مقالې د لیکلو تر وخته د افغانستان په مختلفو ولایتونو کې په دې ناروغۍ د اخته کسانو شمېر ۱۰۲۶ ته رسیږي.[4] دولت که له یوې خوا ددې ناروغۍ د خپرېدو د مخنیوي لپاره روغتیايي تدابیر ونیول، له بل پلوه يې د خلکو په تګ راتګ ځینې محدودیتونه او بندېزونه ولګول چې ددې کار سره د خلکو د آزادانه تګ او راتګ د حق په شمول ځینې نور حقوق هم محدود شول. دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان د اساسي قانون له نظره، دولت له یو پلوه د روغتیا د حق په اړه ځینې مکلفیتونه لري او له بل پلوه دولت باید د افرادو د هغو بنسټیز حقوق احترام وکړي چې په اساسي قانون کې ذکر شوي دي او د دغو حقوقو څخه د استفادې لپاره اړین شرایط برابر کړي. که دولت وغواړي چې په دغو حقوقو محدودیتونه وضع کړي، دغه محدودیتونه باید د یو سلسله شرایطو درلودونکي وي. د بېلګې په توګه، د ناروغۍ د خپرېدو د مخنیوي لپاره د وګړو د تګ او راتګ حق باندې ځینې محدودیتونه لګول کېدای شي، خو د مدني او سیاسي حقوقو د نړۍوال میثاق له نظره باید دغه محدودیتونه یو سلسله شرایط ولري؛ په دې اړه د یاد میثاق مهم شرایط دا دي چې دغه محدودیتونه باید د یو قانون له مخې وي، د عامې روغتیا یا نورو عامه مصلحتونو په خاطر اړین وي او په دغه میثاق کې د ذکر شوو نورو حقوقو سره مطابقت ولري.[5] افغانستان ددغه میثاق غړی هېواد دی. همدا ډول، افغانستان د اقتصادي، اجتماعي او کلتوري حقونو د نړۍوال میثاق غړی دولت دی چې دغه میثاق هم د روغتیا حق او د وګړو د اقتصادي او اجتماعي حقوقو تضمین کوونکی دی. د افغانستان د اساسي قانون اوومې مادې له نظره، دولت ددغو میثاقونو او نورو بین المللي سندونو رعایت کوي. د افرادو په ځینو اساسي حقونو د محدودیتونو په اړه یو بل نړۍوال سند هم شتون لري چې د سیراکوزا د اصولو په

[4] هېواد کې د کورونا ویروس د مثبتو پېښو شمېر ۱۰۲۶ ته ورسېدې. (۱ ثور ۱۳۹۹ ل). طلوع نیوز، هېواد-کې-د-کورونا-ویروس-د-مثبتو-پېښو-شمېر-۱۰۲۶-ته-ورسېدې https://tolonews.com/pa/health/#main-content

[5] د مدني او سیاسي حقوقو نړیوال میثاق، ۱۹۶۶ م، ۱۲ (۳) ماده.

نوم یادیږي. په دغه سند کې په بشري حقونو د محدودیتونو ټول شرایط ذکر شوي دي. د افغانستان دولت مکلفیت لري تر څو د روغتیا د حق د تامین، د ناروغیو د مخنیوي، او د ناروغیو د مخنیوي لپاره د نیول کېدونکو تدابیرو پر وخت د اساسي قانون او نورو ملي حقوقي اسنادو ترڅنګ د پورته ذکر شوو نړیوالو اسنادو رعایت هم وکړي.

### 1. د روغتیا حق پېژندنه او د هغې مختلف بعدونه

### الف. د روغتیا حق په اړه شته نړیوال اصول

د روغتیا حق د بشر اساسي حق دی چې د ملي تقنیني اسنادو او د نړیوالو حقوقو په واسطه یې تضمین شوی دی. د افغانستان د اساسي قانون د ۵۲ مې مادې له مخې، "دولت د افغانستان د ټولو اتباعو لپاره د ناروغیو د مخنیوي او د وړیا علاج وسیلې او روغتیایي اسانتیاوې د قانون له حکمونو سره سم تامینوي. دولت له قانون سره سم د خصوصي طبي خدمتونو او روغتیایي مرکزونو جوړول او پراختیا هڅوي او ملاتړ یې کوي. دولت د سالمې بدني روزنې د پیاوړتیا او د ملي او سیمه ییزو ورزشونو د پراختیا لپاره لازم تدبیرونه نیسي."[6]

همدا ډول، د اقتصادي، اجتماعي او کلتوري حقوقو د نړیوال میثاق دولسمه ماده د روغتیا د حق په اړه داسې صراحت لري:

۱. د میثاق غړي هېوادونه د هر چا لپاره د تر لاسه کېدو وړ د لوړې کچې د جسمي او رواني سلامتیا څخه د استفادې حق په رسمیت پېژني.

۲. هغه تدبیرونه چې د میثاق غړي هېوادونه به یې د دغه حق څخه د پوره ګټې اخیستنې لپاره ونیسي-د لاندې چارو د سرته رسولو لپاره به لاندې لازم ګامونه اخلي:

الف: له زیږېدو څخه د مخه د ماشومانو په مړینه کې کمښت راوستل، د ماشومانو په مړینه کې کمښت او د هغوی سالمه وده.

ب: د چاپېریال او صنعت پورې اړونده د روغتیا ټول اړخونه.

ج: د خپرېدونکو نارغیو، په ښارونو کې د پیدا کېدونکو ناروغیو، د کار او حرفې پوره د ټرلو ناروغیو او نورو ناروغیو څخه مخنیوی، معالجه او کنترول.

د: د داسې شرایطو برابرول چې د ناروغه کېدو په صورت کې ټولو ته د طبي خدماتو او روغتیایي پاملرنې زمینه برابره کړي.[7]

د بشري حقونو د نړیوالې اعلامیې ۲۵ مه ماده هم د روغتیا د حق په اړه احکام لري. ذکر شوي ماده وایي:

۱. هر څوک حق لري چې د خپل او خپلې کورنۍ لپاره د خوراک، لباس، استوګنې، روغتیایي خدماتو او اړینو ټولنیزو خدماتو په شمول د ژوندانه داسې مناسب شرایط برابر کړي او همدا راز حق لري چې د بېکارۍ،

---

[6] د افغانستان اساسي قانون، ۸۱۸ رسمي جریده، ۵۲ ماده (۱۳۸۲ ل).

[7] د اجتماعي، اقتصادي، او کلتوري حقوقو نړیوال میثاق، ۱۹۶۶ م، ۱۲ ماده.

ناروغۍ، معیوبیت، کونډتوب، زوړوالي او په داسې شرایطو کې چې د معیشت وسایل یې د هغه له ارادې او کنترول د باندې عواملو له کبله له لاسه وتلې وي، د عزتمند او ابرومندانه ژوندانه څخه برخمن شي.

۲. مېندې او ماشومان حق لري چې د ځانګړې پاملرنې او مرستې مستحق دي. ټول ماشومان [...] حق لري د مساوي ټولنیز ملاتړ څخه برخمن شي.[8]

**ب: د روغتیا حق کومو موضوعاتو ته شاملېږي او دولت یې په اړه څه مکلفیتونه لري؟**

په پورته ذکر شوو درې سندونو کې لاندې روغتیایي حقوق او په دې اړه د دولت/دولتونو مکلفیتونه په نظر کې نیول شوي دي:

۱. له ناروغیو څخه مخنیوی.

۲. معالجه.

۳. روغتیایي خدماتو او اسانتیاوو ته لاسرسی.

٤. د لوړ معیار مطابق بدني روغتیا او رواني روغتیا.

۵. له پیدایښت وړاندې او تر پیدایښت وروسته د مړینې د کچې راټیټول.

٦. د چاپیریال او صنعت روغتیا ساتنې ته پاملرنه.

۷. د خپرېدونکو نارغیو، په ښارونو کې د پیدا کېدونکو ناروغیو، د کار او حرفې پوره د ټولو ناروغیو او نورو ناروغیو څخه مخنیوی، معالجه او کنترول.

۸. ټولو ته مساوي طبي اسانتیاوې برابرول.

۹. د بېکارۍ، ناروغۍ، معیوبیت، کونډتوب، زوړوالي او په داسې شرایطو کې چې د معیشت وسایل د انسان له کنترول او ارادې د باندې عواملو له کبله له لاسه وتلې وي، د عزتمند او ابرومندانه ژوندانه څخه برخمن کېدل.

۱۰. مېندو او ماشومانو ته ځانګړې پاملرنه.[9]

**ج: د صحي خدماتو، مراکزو او وسایلو اړینې ځانګړتیاوې**

د روغتیا حق له مخې، صحي اسانتیاوې، خدمات او وسایل باید:

- په کافي اندازه (مقدار) شتون ولري (د خلکو اړتیاوو او بېړنیو حالاتو ته د کمیت په لحاظ ځواب ویونکي وي)؛
- له تبعیض پرته باید ټولو ته د لاسرسي وړ وي، د ټولو په وس پوره وي، حتی د ټولنې محروم قشر ته (دغو خدماتو ته د لاسرسي معیار باید یوازې انسانیت وي، نه نور معیارونه)؛
- د منلو وړ وي، په دې مانا چې د طبي اخلاقو او ټولنې د کلتور سره برابر وي؛ او
- په علمي او طبي لحاظ مناسب وي او کیفیت یې ښه وي.[10]

---

[8] د بشري حقونو نړیواله اعلامیه، ۲۵ ماده (۱۹۴۸ م).

[9] د افغانستان اساسي قانون، ۸۱۸ رسمي جریده، ۵۲ ماده (۱۳۸۲ ل)؛ د اجتماعي، اقتصادي، او کلتوري حقوقو نړیوال میثاق، ۱۹٦٦ م، ۱۲ ماده؛ د بشري حقونو نړیواله اعلامیه، ۲۵ ماده (۱۹۴۸ م).

لکه څرنګه چې پورته ګورو، دولت مکلفیت لري ترڅو ټولو خلکو ته په کافي اندازه روغتیایي خدمات او اسانتیاوې برابرې کړي، خلکو ته دغه خدمات او اسانتیاوې له تبعیض پرته وړاندې کړي، دغه خدمات باید د ټولنې د کلتور او طبي اخلاقو سره سمون ولري، په علمي او طبي لحاظ مناسب او باکیفیته وي.

د یادونې وړ ده چې په افغانستان کې د عامې روغتیا قانون هم شتون لري چې د دویمې مادې د لومړۍ فقرې له مخې یې باید د عامې روغتیا وزارت د هېواد اتباعو ته پرګنیزو ناروغیو، طبیعي پېښو او لومړنیو خدمتونو د وقایې او درملنې وسایل په وړیا ډول برابر کړي.[11] د عامې روغتیا وزارت بنسټیزې دندې د یاد قانون په پنځمه ماده کې ذکر شوي دي.[12]

## 2. کورونا او کورونا ته ورته د روغتیایې بېړنې حالت په وخت کې د افرادو د ځینو حقوقو د محدودیت پر وخت د دولت مکلفیتونه

### الف: د روغتیایي بېړني حالت په وخت کې د محدودیتونو جواز

د روغتیایي بېړني حالت په وخت کې د خلکو ځینې حقوق لکه په ازادانه توګه تګ او راتګ او هر ځای کې د اوسېدلو حق باندې د ناروغیو د خپرېدو د مخنیوي په خاطر ځینې محدودیتونه وضع کېدای شي. په اړه د مدني او سیاسي حقوقو د نړیوال میثاق د دولسمې مادې دریم بند داسې وایي: "پورته ذکر شوي حقونه به د هیڅ راز محدودیت تابع نه وي، مګر دا چې دغه محدودیتونه د قانون له مخې وضع شوي وي، د ملي امنیت، عامه نظم، عامې روغتیا یا اخلاقو، یا د نورو د حقوقو د ساتنې لپاره اړین وي او په دې میثاق کې د نورو ذکر شوو حقوقو سره مطابقت ولري."[13]

### ب: د روغتیایي بېړني حالت په وخت کې د محدودیتونو شرایط

د ۲۰۲۰ کال د مارچ د میاشتې په ۲۰ مه نېټه د ملګرو ملتونو د بشري متخصصینو یوې ډلې نظر ورکړ چې "د کوویډ-۱۹ ناروغۍ د رامنځته کېدو له کبله رامنځته شوی بېړنی حالت نباید د ځینو مشخصو ډلو (د ټولنې د ځینو اقشارو)، لږکیو او افرادو د په نښه کولو لپاره ونه کارول شي. دغه حالت باید غیر واقعي توګه د روغتیا د ژغورلو تر عنوان لاندې د سرکوبه کوونکو کړنو لپاره د یو نقاب په توګه ونه کارول شي [...]."[14]

د مدني او سیاسي حقوقو د نړیوال میثاق د دولسمې مادې د دریمې فقرې له مخې، د محدودیتونو لپاره یو لړ شرایط ذکر شوي دي چې په لاندې ډول دي:

۱. دغه محدودیتونه باید د قانون له مخې وضع شوي وي (خپلسري باید نه وي، د یو قانون له مخې وضع شي)؛

---

Human Rights Dimensions of COVID-19 Response, 2-3. د لاسرسي لینک [10] Human Rights Watch (2020). https://www.hrw.org/news/2020/03/19/human-rights-dimensions-covid-19-response

[11] د عامې روغتیا قانون، ۹۱٦ رسمي جریده، ۲ (۱) ماده (۱۳۸۵ ل).

[12] هماغه، ۵ ماده.

[13] د مدني او سیاسي حقوقو نړیوال میثاق، ۱۲ (۳) ماده.

[14] Human Rights Dimensions of COVID-19 Response، ۳ مخ.

۲. د ملي امنيت، عامه نظم، عامې روغتيا يا اخلاقو يا نورو د حقوقو د ساتنې لپاره اړين وي؛ او

۳. په دې میثاق کې د نورو ذکر شوو حقوقو سره مطابقت ولري (د نورو حقوق لکه د بيان آزادۍ، مالوماتو ته لاسرسی او په ياد ميثاق کې نور ذکر شوي حقوقو سره مطابقت ولري).

**د مدني او سياسي حقوقو د نړۍوال میثاق تر څنګ** د سيراکوزا اصول[15] هم په بشري حقونو د محدوديتونو په اړه ځانګړي شرايط لري. دغه اصول وايي چې محدوديتونه بايد لږ تر لږه:

- د قانون له مخې او د قانون په مطابق وضع شي؛
- د ټولنې د عامه مصلحت په نظر کې نيولو سره د يوې مشروع موخه د تر لاسه په خاطر وي؛
- په يوه ديموکراتيکه ټولنه کې د ذکر شوې موخې د ترلاسه کولو لپاره په جدي ډول اړين وي؛
- د خلکو د حقونو د اعمال په برخه کې لږ مزاحمت کوونکې او د لږ محدوديت راوړونکې وي ترڅو دغه موخې ته رسېدنه وشي؛
- د علمي شواهدو له مخې وي، د تطبيق د ډول له حيثه خپلسري نه وي او له تبعيض څخه خالي وي؛ او
- د محدودې مودې لپاره وي، انساني کرامت ته احترام کوونکې وي او د بيا کتنې تابع وي.[16]

**ج: د بشري حقونو د محدوديت شرايط او په دې اړه شته اندېښنې**

**1) د بيان آزادي او معلوماتو ته لاسرسی**

د بيان آزادي هغه اساسي بشري حق دی چې د اساسي قانون د ۳۴ مې او مدني او سياسي حقوقو د نړۍوال ميثاق د ۱۹ او همدا ډول د بشري حقونو دنړۍوالي‌اعلاميې د ۱۹ مادې پر اساس تضمين شوی دی.[17] همدا ډول، مالوماتو ته لاسرسی هم د اساسي قانون د ۵۰ مې مادې، د مدني او سياسي حقوقو د نړۍوال ميثاق د ۱۹ مې مادې او د بشري‌حقونو د نړۍوالي‌اعلاميې د ۱۹ مې مادې پر اساس تضمين شوی دی.

د بيان آزادی او معلوماتو ته د لاسرسي حق دولتونو ته مکلفيت راجع کوي ترڅو له دغو حقوقو څخه ساتنه وکړي.[18] د نورو اړخونو ترڅنګ دغه حق دې ته هم شامليږي چې يو شخص د معلوماتو لټون وکړي، له دولتي ادارو څخه هر ډول معلومات تر لاسه کړي او خپاره کړي. مګر؛ د عامې روغتيا د ژغورنې په نوم د بيان د آزادۍ حق باندې روا محدوديتونه نه بايد پخپله دغه حق په خطر کې واچوي.[19]

---

[15] د سيراکوزا اصول د ملګرو ملتونو د اقتصادي او اجتماعي شوراء لخوا په ۱۹۸۴ م کې رامنځته شوي دي.

[16] The Siracusa Principles on the Limitation and Derogation Provisions in the International Covenant on Civil and Political Rights, Part I (b) (1984); Human Rights Dimensions of COVID-19 Response (2020). Human Rights Watch, 3. د لاسرسي لينک https://www.hrw.org/news/2020/03/19/human-rights-dimensions-covid-19-response

[17] د افغانستان اساسي قانون، ۸۱۸ رسمي جريده، ۳۴ ماده(۱۳۸۲ ل)؛ د مدني او سياسي حقوقو نړيوال ميثاق، ۱۹ ماده (۱۹۶۶ م)؛ د بشري حقونو نړيواله اعلاميه ۱۹ ماده(۱۹۴۸ م).

[18] Human Rights Dimensions of COVID-19 Response، ۳.

[19] هماغه.

دولت هم مکلفیت لري ترڅو خلکو ته د هغوی د حقوقو د ملاتړ ساتنې په موخه کره او پر وخت مالومات ورسوي، چې روغتیايي معلومات هم پکې شاملېږي.[20] د ملګرو ملتونو اقتصادي، اجتماعي او کلتوري حقوقو کمېټه ″په ټولنه کې د شته روغتیايي ستونزو په اړه مالوماتو ته لاسرسی او د خلکو پوهول، ددې په شمول چې ددغو ستونزو مخنیوی څنګه وشي او څنګه کنترول شي″د دولت یو ″اساسي مکلفیت″ ګڼي.[21]

له کورونا ویروس څخه د رامنځته شوي روغتیايي حالت په نظر کې نیولو سره خلک تر بل هر وخت زیات دا حق لري ترڅو ددې ناروغۍ په اړه مالومات تر لاسه کړي او خپل نظر بیان کړي. خلکو ته باید ددغه ویروس، په دې اړه شته روغتیايي خدماتو ته لاسرسي، ددغو خدماتو د مختل کېدو او د موضوع د نورو اړخونو په اړه دقیق، پر وخت او پوره مالومات ورکړي.[22] دولت باید خلکو ته ددې ناروغۍ څخه د ځان ژغورنې او وقایوي مالوماتو ترڅنګ دا مالومات هم ورکړي چې په کوم ځای کې څومره خلک پرې اخته شوي دي ترڅو خلک له هغو ځایونو په جدي ډول ځان وساتي. د افرادو د خصوصي حریم د حدودو په نظر کې نیولو سره خلک باید حتی دا حق هم ولري ترڅو د هغو اشخاصو په اړه هم مالومات تر لاسه کړي چې په دې ناروغۍ اخته شوي دي، ځکه دا ناروغي له لمس پرته نږدې تماس له لارې هم انتقالېږي، نو خلک باید په دې ناروغۍ د اخته کسانو له هویت څخه خبر شي، ترڅو د دغو کسانو سره له نږدې تماس څخه ځانونه وساتي او یا که یې ورسره په نږدې ورځو کې تماس نیولی وي، ترڅو د ځان ژغورنې په خاطر جدي تدابیر ونیسي. مګر، د مشخصو افرادو د هویت معلومېدو حق شاید د عمومي قرنطین* او ګرځبندیز په وخت تر محدودیت لاندې راشي، ځکه خلک باید د افرادو له هویت پرته هم د ځان ساتنې په موخه جدي تدابیر ونیسي.

همدا ډول، دولت نه شي کولی په دې وخت د خلکو د بیان د آزادۍ او مالوماتو ته د لاسرسي حقونه محدود کړي. ځینې خلک شاید له کورونا سره د مبارزې په اړه د دولت د مصارفو په اړه پوښتنې ولري او مالومات وغواړي چې باید ورکړل شي. د بشري حقونو متخصصین نظر لري چې د افغانستان دولت د کوویډ- ۱۹ ناروغۍ په تړاو، تر اوسه د افرادو د بیان د ازادۍ او مالوماتو ته د لاسرسي د حق په اړه کوم محدودیت نه دی وضع کړی، مګر څرنګه چې لازم وو، هغسې دقیق مالومات یې هم نه دي ورکړي، ځکه په ځینو حالتونو کې ولېدل شول چې د اړونده دولتي چارواکو نظریات او مالوماتو خپل منځ کې ټکر درلوده.[23]

---

[20] هماغه.

[21] هماغه، ۴-۳ مخونه.

[22] هماغه، ۴.

* له قرنطین څخه هدف دا دی چې شکمن او ناروغ کسان باید په کورونو کې په داسې توګه واوسېږي چې له نورو جلا وي، یا هم شکمنې سیمې، ښارونه، او ولایتونه د دولت لخوا داسې وتړل شي چې نه څوک له نورو ساحو دغو ساحو ته ورتللی شي او نه له دغو ساحو څوک بیرون تللی شي. ددې ټولو تدابیرو هدف د کوویډ- ۱۹ ناروغۍ څخه مخنیوی دی.

[23] زماني، عبدالهادي. (٦ ثور، ۱۳۹۹ ل). د تیلیفون له لارې مصاحبه.

## 2) د تللو راتللو حق: د قرنطين او ګرځبندیز شرایط

ټول انسانان په آزادانه توګه ″د تللو او راتللو حق″ لري. د افغانستان د اساسي قانون ۳۹ مه په دې اړه صراحت لري. ذکر شوې ماده وايي: ″هر افغان حق لري د هېواد هر ګوټ ته سفر وکړي او استوګن شي خو له هغو سيمو پرته چې قانون منع کړې وي. هر افغان حق لري د قانون له حکمونو سره سم له هېواده بهر سفر وکړي او بېرته راستون شي. دولت له هېواد څخه بهر د افغانستان د اتباعو د حقوقو ساتنه کوي.″[24] یاد حق د مدني او سیاسي حقوقو د نړیوال میثاق د ۱۲ مې او د بشري حقونو د نړیوالي اعلامیې د ۱۳ مې مادې په واسطه هم تضمین شوی دی.[25]

لکه څرنګه چې ګورو، اساسي قانون وايي: ″هر افغان حق لري د هېواد هر ګوټ ته سفر وکړي″ خو دا حق مطلق نه دی او د قانون ماده وروسته وايي چې ″خو له هغو سيمو پرته چې قانون منع کړې وي.″[26] قانون دا موضوع پرانیستې پرېښې ده او دا يې نه دي ذکر کړي چې کوم ډول سیمو ته تګ جواز نه لري. له دې مالومېږي چې ډېر وختونه دا امکان لري چې هغو ساحو ته د خلکو تګ او راتګ محدود شي یا بندېز پرې وضع شي چې په عادي حالاتو کې ورته خلک تګ راتګ کولی شي.

د مدني او سیاسي حقوقو نړیوال میثاق د ۱۲ مې مادې له مخې، هر څوک کولی شي هر چېرته تګ او راتګ وکړي او خپل یا بل هر هېواد څخه لاړ شي. ددغه مادې د دریيم بند له مخې، په ذکر شوو حقوقو هېڅ بندیز وضع کېدای نه شي مګر دا چې د عامې روغتیا [...] د ژغورنې لپاره دغه بندیزونه:

1 . قانوني وي،

2 .اړين وي، او

3 . متناسب وي.[27]

محدودیتونه، د بیلګې په توګه الزامي قرنطين او د ځينو نښو لرونکي کسانو تجرید بايد لږ تر لږه د قانون مطابق وي.[28] د مدني او سیاسي حقونو د نړیوال میثاق له مخې، د تللو راتللو حق باندې ممکنه بندیزونه بايد:

أ) په کلکه توګه اړين وي تر څو یوه مشروع موخه تر لاسه شي؛

ب) د علمي شواهدو پر اساس وي؛

ج) ددغې مشروع موخې د تر لاسه کولو سره متناسب وي؛

د) خپلسري او د تبعيض له مخې نه وي؛

ه) د کمې مودې لپاره وي؛

و) د انساني کرامت احترام پکې شوی وي؛ او

---

[24] د افغانستان اساسي قانون، ۳۹ ماده.

[25] د مدني او سیاسي حقوقو نړیوال میثاق، ۱۲ ماده، د بشري حقونو نړیواله اعلامیه، ۱۳ ماده.

[26] د افغانستان اساسي قانون، ۳۹ ماده.

[27] د مدني او سیاسي حقوقو نړیوال میثاق، ۱۲ (۳) ماده.

[28] Human Rights Dimensions of COVID-19 Response، ۴.

ز) د بیا کتنې وړ وي.[29]

د کورونا ویروس له کبله د رامنځته شوي حالت له کبله هم د هېواد په داخل او بیرون کې د افغانانو تګ راتګ د نړۍ د نورو هېوادونو غوندې محدود شو. د بېلګې په توګه، په هرات، کابل، ننګرهار او ګڼ شمېر ولایتونو کې د ورځې لخوا یا د ورځې او د شپې ګرځبندیز وضع شو،هتۍ وتړل شوې او تعلیمي او د تجمعاتو نور مراکز بند شول. د افغانستان حکومت تر ډېره کوښښ وکړ چې د خلکو تګ راتګ د قانون د حکمونو په حدودو کې محدود کړي او په مطلق ډول یې پرې (د دې مقالې د لیکلو تر وخته) بندیز نه دی وضع کړی. همدا ډول، دولت له ایران، پاکستان، هند او نورو هېوادونو څخه د افغانانو په بېرته راتګ هېڅ بندیز نه دی وضع کړی. د ننګرهار په شمول په ګڼ شمېر ولایتونو کې نیول شوي تدابیر تر بیا کتنې لاندې نیول شوي دي، مګر تر اوسه کوم داسې قانون شتون نه لري چې له مخې دغه تدابیر وضع شوي وي.[30] اکثره تدابیر د محلي چارواکو د پرېکړو پر اساس نیول شوي دي.

**3) د آزادۍ د سلب مراکزو او نورو اداراتو کې د خلکو ژغورنه**

د نورو ساري ناروغیو په شان کورونا هم هغو خلکو ته ډېر خطر متوجه کوي چې یو بل ته ډېر نږدې اوسېږي.[31] دا ناروغي بیا په غیر متناسبه توګه د ډېر عمر لرونکې کسان او هغه خلک چې نورې دایمې ناروغۍ ګانې لکه د زړه ناروغي، د شکرې ناروغي، دایمې تنفسي ناروغي او لوړ فشار لري. اتیا سلنه هغه کسان چې د کورونا ویروس له کبله مړه شوي دي، هغه څوک دي چې عمرونه یې تر شپېتو کلونو زیات وي.[32] دا ستونزه بیا په د آزادۍ د سلب په مراکزو لکه محابسو، د مهاجرینو په توقیف ځایونو کې ډېره شدیده وي. همدا ډول، په هغو ځایونو کې چې معیوب اشخاص پکې ساتل کېږي او یا زاړه خلک پکې تر پالنې لاندې نیول شوي وي، هم ډېره شدیده وي.[33] په ذکر شویو ځایونو کې کورونا ویروس ډېر په اسانۍ خپرېدای شي، په ځانګړې توګه هغه وخت کله چې په ذکر شوو ځایونو کې روغتیایي اسانتیاوې له پخوا څخه غیر معیاري وي. دولتونه مکلفیت لري ترڅو ذکر شوو ډلو ته چې د دوی تر مراقبت او ساتنې لاندې وي، د نورو خلکو غوندې مساوي وقایوي، معالجوي او نورې روغتیایي اسانتیاوې برابرې کړي او باید هېڅ ډول روغتیایي خدماتو ته د دوی لاسرسی محدود یا بند نه کړي.[34]

---

[29] هماغه، ٦.

[30] د ګڼ شمېر ادارو، چې یو له هغې د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو کمیسیون دی، د تصامیمو اساس "د کورونا ویروس د خپرېدو د مخنیوی لپاره د بېړنۍ کمېټې د جوړښت" او "د کورونا ویروس د مخنیوي او وقایې لپاره د عامه اړیکو د کمېټې د جوړښت" په اړه د ولسمشر حکمونه دي. د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو کمیسیون په دې اړه د کابینې له پرېکړې وروسته د کاري رژیم د تغیر طرزالعمل هم جوړ کړ چې د کار وخت یې اتو څخه تر څلور بجو پر ځای له اتو څخه یوې بجې ته راکم کړ. اختیار، هجرت الله. (٦ ثور، ١٣٩٩ ل). د تیلیفون له لارې مصاحبه.

[31] Human Rights Dimensions of COVID-19 Response، ٨.

[32] هماغه.

[33] هماغه.

[34] هماغه، ٩.

د افغانستان د محبسونو او توقیف ځایونو قانون هم صراحت لري چې په محابسو او توقیف ځایونو کې باید بشري حقوق رعایت شي.[35] د دې قانون د ۲۴ مې مادې له مخې، په محبسونو او توقیف ځایونو کې باید روغتیایي وسایل شتون ولري او چاپېریال يې پاک وي.[36] د محبسونو د داخلي وضعې د بهبود لپاره د عامې روغتیا وزارت همکاري د عدلیې وزارت سره شتون ولري.[37] همدارنګه د عامې روغتیا وزارت باید په محابسو او توقیف ځایونو کې وړیا صحي خدمات برابر کړي.[38] د یاد قانون له مخې، په ساري ناروغیو مشکوک محبوسین او توقیفیان باید د محبسونو او توقیف ځایونو په جلا خونو کې وساتل شي.[39]

د ازادۍ د سلب په مراکزو کې د ساري ناروغیو د مخنیوي لپاره یوه مهمه تګلاره په محابسو کې د تراکم کموالی دی. د افغانستان دولت د کوویډ- ۱۹ ناروغۍ د خپرېدو د مخنیوي لپاره په زندانونو کې د تراکم کمولو په خاطر د یو شمېر بندیانو د خوشې کولو فرمان (تقنیني فرمان) صادر کړی دی،[40] چې تر اوسه یې یو شمېر بندیان خوشې شوي هم دي.[41] یوازې له ننګرهار محبس څخه تقریباً اته سوه بندیان خوشې شوي دي او دا لړۍ لا روانه ده.[42] دا کار پرته له شکه د شته بندیانو د وضعیت د ښه کولو سره مرسته کولی شي، ځکه دلته لا له وړاندې په محابسو کې د محبوسینو شمېر له ټاکل شوي معیار څخه زیات دی.[43]

**4) د روغتیایي کارکوونکو ژغورنه او ساتنه**

د کورونا غونډې جدي او ساري ناروغیو سره د مخامخ کېدو او د ناروغانو د تداوي پر وخت تر هر چا زیات روغتیایي کارکوونکې (ډاکټران، نرسان، روغتیایي خدمه او نور) ډېر په خطر کې وي او دا امکان هره شېبه موجود وي چې دوی ته به له مریض څخه ناروغي انتقال شي. په همدې لحاظ، دې ته جدي اړتیا لیدل کېږي او دولتونه مکلف دي ترڅو د روغتیایي کارکوونکو د ژغورنې او ساتنې لپاره اړین تدابیر ونیسي. د بېلګې په توګه، روغتیایي کارکوونکي باید داسې لباس، ماسکونه، عینکې، پېزار، او نور وسایل او همدا ډول روغتیایي مالومات ولري چې دوی ته د خپل کار او ناروغیو څخه رامنځته کېدونکی خطر را کم کړي.[44] نه یوازې دا چې دوی ته له ناروغ څخه ناروغي انتقال نه شي، پخپله دغه توکي باید باالذات داسې عیار شوي وي چې د روغتیایي کارکوونکو روغتیا ته پکې پاملرنه شوې وي، په دې مانا چې د هغوی د اکسیجن اخیستلو او نورو

---

[35] د محبسونو او توقیف ځایونو قانون، ۹۱۶ رسمي جریده، ۳ ماده (۱۳۸۶ ل).

[36] هماغه، ۲۴ ماده.

[37] هماغه، ۲۴ (۳) ماده.

[38] هماغه، ۲۷ ماده.

[39] هماغه، ۲۷ (۴).

[40] فرمان اختصاصی رئیس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد عفو مجازات، تعویق تحقیق و تاجیل تنفیذ حکم محجوزین و محبوسین، مصوبه شماره ۱، (۱۳۹۸ ل).

[41] عرب زی، صفی الله. (٦ ثور، ۱۳۹۹ ل). د تیلیفون له لارې مصاحبه. قاطع، شیر رحمن، (٦ ثور، ۱۳۹۹ ل). د تیلیفون له لارې مصاحبه.

[42] قاطع، شیر رحمن. (٦ ثور، ۱۳۹۹ ل). د تیلیفون له لارې مصاحبه.

[43] عرب زی، صفی الله. (٦ ثور، ۱۳۹۹ ل). د تیلیفون له لارې مصاحبه. قاطع، شیر رحمن، (٦ ثور، ۱۳۹۹ ل). د تیلیفون له لارې مصاحبه.

[44] Human Rights Dimensions of COVID-19 Response، ۱۲.

روغتیایي ملاحظاتو ته پکې پاملرنه شوي وي. مانا دا چې له یوې خوا باید دولت روغتیایي کارکوونکو تـه اړیـن تړیننګونه ورکړې ترڅو هغوی ته دغه ناروغۍ سرایت ونکړي او له بل پلوه بایـد هغـوی تـه حفـاظتي وسـایل او امکانات برابر کړي.[45] په خواله رسنیو کې ډېر داسې راپورونه شته چې له مخې یې دا ثابتېږي چـې د افغانسـتان د عامې روغتیا وزارت تر اوسه د ټولو صحي کارکوونکو لپاره دغه اړین توکې نه دي برابر کړي.[46]

### 5) د تعلیمي مراکزو د بندښت باوجود د زده کړو حق ته لاسرسی

زده کړې د هر بشر اساسي حق دی، چې حتی په بېړنیو حالاتو کې هـم بایـد تـرې څـوک محـروم نـه شي. د کوید۱۹- ناروغۍ له رامنځته کېدو وروسته تقریباً په ټوله نړۍ کې ددغه ناروغۍ د خپرېدو د مخنیـوي پـه خـاطر تعلیمي مراکز تړل شوي دي، چې د دې کار سره د میلیونونه شاګردانو او محصلانو زده کړې مختل شـوي دي.[47] ښوونځي هغه ځایونه دي چې د کړکیچ (بحران) په وخت کې پکې زده کوونکو ته د باثباته او نورمال پاتې کېدو حس ورکول کېږي او دا ډاډمنوي چې زده کوونکي د قواعدو مطابق خپـل ژونـد تـه دوام ورکـړي او پـه رواني لحاظ تقویه شي تر څو د تغیربدونکي حالت سره په مناسب او مؤثر ډول برخورد وکـړي. ښـوونځي هغـه مراکـز دي چېرته چې زده کوونکو (او په غیر مستقیم یا هم مستقیم ډول د هغوی کورنیو) تـه د حـفـظ الصـحې، د لاس وینځلو مناسبې لارې چارې او د هغو حالاتو سره د مبارزې چلند ورزده کېږي کوم چې عـادي ورځنـۍ چـارې مختلوي. کله چې ښوونځي وتړل شي، دغه مسئولیت والـدینو، سرپرسـتانو او د مراقبـت د مراکـزو مسـئولینو تـه انتقالېږي. کله چې ښوونځي وتړل شي، دولتي اداري مسئولیت لـري تـر څـو د مناسـبو رسـنیو لـه لارې دقیـق او روښانه مالومات ارایه کړي.

ددې لپاره چې ښوونیز سیستمونه په سمه توګه حالاتو ته ځواب ووایي، یونیسکو وړاندیز کوي چـې دولتونـه باید "د لوړې کچې او ټیټې کچې ټیکنالوژي او له ټیکنالوژۍ پرته تګلارې پـه لاره واچـوي ترڅـو د زده کـړو دوام یقیني شي." [48]

که څه هم په افغانستان کې یو شمېر هڅې شوي دي لکه د تلویزیونـو او رادیـو ګـانو لـه لارې د ښـوونځیو د مضامینو تدریس او د ټولیزو رسنیو، ګوګل کلاس روم او نور لارو چارو په واسطه د زده کړو د بهیر دوام، دې ته اړتیا لیدل کېږي چې غیر حضوري زده کړه ایز سیستمونه په هېواد کې بنسټیز (نهادینه) شي. د هېواد د لـوړو زده کړو وزارت په وروستیو کې داسې یوه تګلاره طرحه کړې ده چې له مخې به یې په انلاین شکل د لوړه زده کـړو زمینه برابره شي او له بل پلوه به د تدریس په دغه میتود نظـارت هـم تـرسره شي.[49] یـاد سیسـتم د لـوړو زده کـړو

---

[45] هماغه.

[46] https://www.facebook.com/search/top/?q=%DA%A9%D9%85%D8%A8%D9%88%D8%AF%20%D9%88%D8%B3%D8%A7%DB%8C%D9%84%20%D9%85%D8%AD%D8%A7%D9%81%D8%B8%D8%AA%DB%8C&epa=SEARCH_BOX

[47] Human Rights Dimensions of COVID-19 Respons، ۱۳.

[48] Human Rights Dimensions of COVID-19 Response، ۱۳.

[49] د لوړو زده کړو وزارت (۱ ثور ۱۳۹۹ ل). کابینه جمهوری ۱۱ طرح بدیل آموزش حضوری به شیوه الکترونیکی را منحیث ممد درسی تصویب کـرد، د لاسرسی لینک

ښوونيز مديريت سيستم (HELMS) په نوم يادېږي. د پوهنې وزارت هم "د ښوونې بديل خدمتونه" رامنځته کړي چې د تلويزيون او ويډيو له لارې زده کوونکو ته د تدريس زمينه برابروي.[50] که څه هم د لوړو زده کړو او پوهنې وزارتونو دغه لاسته راوړنې د ستاينې وړ دي، د انټرنټ د بيعې لوړوالی او د کيفيت ټيټوالی (چې افغانستان يې د انټرنټي خدماتو له پلوه په نړۍواله کچه ټولو وروستي قطار «۱۴۴ درجه» کې راوستلی دی)،[51] ددغو امکاناتو څخه د استفادې لپاره اليکترونيکي وسايلو ته د محصلانو او زده کوونکو د لاسرسي کموالی، او تر څنګ يې د ګڼ شمېر محصلينو د اقتصادي حالت ضعف ددغو خدماتو په وړاندې پرتې ننګوني دي.

**6) پر ښځو او انجونو د شته وضعيت د غيرمتناسبو اغيزو مخنيوی**

په تاريخي لحاظ ليدل شوي دي چې ګڼو ناروغيو جنسيتي نااندولې رامنځته کړې ده. د بشري حقونو د څار سازمان موندله چې په ۲۰۱۴ کال کې د ايبولا ويروس او په ۲۰۱۵ او ۲۰۱۶ ذيکا ويروس چې په برازيل کې رامنځته شو، پر ښځو او انجونو ځانګړي زيان راوړونکې اغيزې درلودې.[52] څرنګه چې په اکثرو ټولنو کې ښځو او ماشومان اسيب پذير قشرونه دي، دولت بايد جدي هڅې وکړي ترڅو ښځې او ماشومان د کورونا ويروس له کبله د رامنځته شوې حالت له کبله د نارينه ؤ او لويانو په نسبت په نامتناسبه توګه متضرر نه شي. د کورونا ويروس له کبله تقريباً په ټوله کې نړۍ کې د منابعو په تخصيص کې تغيرات رامنځته شوي دي او د يوې برخې بوديجه د بلې برخې لپاره په نظر کې نيول شوې ده، د طبي وسايلو او اسانتياوو کمی رامنځته شوي دي، او په نړۍواله کچه هم د طبي وسايلو لېږد رالېږد ډېر محدود شوی دی، ددې امکان شته چې ددې حالاتو څخه ښځې په نامتناسبه توګه متضررې شي.[53]

د بېلګې په توګه، ښځې د حاملګی په مرحله کې، د ولادت پر وخت او له ولادت وروسته روغتيايي خدماتو ته ډېره اړتيا لري.[54] دولتونه مکلفيت لري ترڅو د کورونا ويروس سره د مبارزې باوجود د ښځينه ؤ روغتيايي خدمات هېڅ متاثر نه کړي او ښځې بايد په دې بحراني مرحله کې هم هغو خدماتو ته لاسرسی ولري چې دوی ورته د حاملګی، ولادت پر وخت او له ولادت وروسته اړتيا لري. څرنګه چې ګرځبنديز د سختېدو په حالت کې دی، قوي امکان شته چې پورته ذکر شوي ښځې له حالت څخه په جدي توګه اغيزمنې شي، ځکه ګرځبنديز به روغتيايي مراکزو ته د دوی ورتګ محدود کړي.

په ننګرهار کې هم د ګرځبنديز او تګ راتګ د محدوديت له کبله ښځې په ګڼو ډولونو اغېزمنې شوي دي.[55] د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي يو شمېر قضيو ته رسيدګي د همدغو محدوديتونو له کبله اغيزمنه شوې او کمه

---

https://mohe.gov.af/index.php/dr/کابينه-جمهوری-اا-طرح-بديل-آموزش-حضوری-به-شيوه-الکترونيکی-را-منحيث-ممد-درسی-تصويب-کرد

[50] د پوهنې وزارت (۷ ثور ۱۳۹۹ ل). د ښوونې بديل خدمتونه، د لاسرسي لينک http://maarif.af/

[51] طلوع نيوز (۵ ثور ۱۳۹۹ ل: د ماښام د اوو بجو خبرونه).

[52] Human Rights Dimensions of COVID-19 Response، ۱۵.

[53] هماغه.

[54] هماغه.

[55] عزيز، فتانه. (٦ ثور، ۱۳۹۹ ل). د تيليفون له لارې مصاحبه.

شوې ده.[56] همدا ډول، په ګڼ شمېر قضيو کې هغه ښځې چې بايد په عاجله توګه روغتون تـه رسـول شـوي واى، په لاره کې د تګ او راتګ د محدوديت له کبله له ستونزو سره مخ شوي دي.[57]

### 7) د تبعيض مخنيوى او د ناروغانو د محرميت د حق ساتنه

د تبعيض او تعصب مخنيوى د ټولو دولتونو مکلفيت دى. دا په داسې حال کـې ده چـې پـه نـړۍ کـې ليـدل شوي دي چې د روغتيايي بحران په مرحله کې هغه کسان او د هغوى کورنۍ يې د تبعيض او ننګ سره مخ شوي دي چې د شديدو ناروغيو او ويروسونو له کبله کړېدل. د بشري حقونو د څار سـازمان مونـدنې ښـيي چـې هغـه کسان چې په کينيا، جنوبي افريقا، امريکا او فيليپين کې د ايچ ايي وي ناروغۍ سره مخ وو، پـه ټولنـه کـې هـم د تبعيض او ننګ سره مخ وو او له روغتيايي خدماتو، دندې تر لاسه کولو او ښوونځيو ته له تګ محروم شوي وو. د ايبولا څخه په غربي افريقا کې ژوندى پاتې شوې افراد لـه ضررنـاکو نتـايجو لکـه د خپلـو سـاحو پرېښـودو، د دندې د لاسه ورکولو، تاوتريخوالي او نورو بدو حالتونو سره مخ شوي وو.

د کورونا ويروس له کبله هم د نړۍ په يو شـمېر هېوادونـو کـې د آسـيايي هېوادونـو د تبعيض، نژادپـالنې، او تعصب سره مخامخ شوي. هغه پيښې چې له دې کبله رامنځته شوي دي له فزيکي تيريو او وهلـو، پـه ښـوونځيو کې بد برخورد، غضبناکو اخطارونو، د کار په ساحو او ښوونځيو کې د تبعيض او تعصـب، او نـورو سـتونزو سره مخ شوي دي.

دا کار زمونږ د هېواد په داخل کې هم په لومړي سر کې په غير مستقيم ډول پـيښ شـوى دى. څرنګـه چـې د افغانستان په کچه د کوويډ- ۱۹ ناروغۍ لومړني قربانيان په لومړي ځل په هرات ولايت کې پيدا شـو، خلکـو پـه ټولنيزو رسنيو د هرات د خلکو په اړه نامناسبې او له نفرت ډکې څرګندونې کـولې. پـه ننګرهـار کـې هـم پـه ګڼـو وختونو کې خلکو په فيسبوک کې ليکل چې فلاني ځاى ته هراتيان راغـلي دي او دولـت بايـد ددوى د راتـګ مخنيوى وکړي. له هراتيانو څخه په ټولنيزو رسنيو کې نفرت (که څه هم په کمه کچـه وو) يـو ډيـر بـد عمـل وو. وروسته چې کله په ننګرهار کې ددې ناروغۍ لومړنى قرباني د لغمان ولايت اړونـده يـو شـخص ثابـت شـو، پـه ټولنيزو رسنيو کې داسې الفاظ وکاريدل چې د لغمان د اوسيدونکو د اذيت سـبب ګرځيـدل. پـه دې برخـه کـې څرنګه چې لازمه وه، دولتي ادارو لازم پوهاوى رامنځته نه کړ، حتى په ځينو وختونو کې وليدل شول چې ځينـو دولتي مسئولينو هم ونکړاى شول له ناغوښتل شوي تبعيض څخه ځانونه وساتې. دا په داسې حال کـې ده چـې د هېواد د اساسي قانون د ۳۹ مې مادې له مخې هر افغان حق لري د هېـواد هـر ګـوټ تـه سـفر وکـړي او اسـتوګن شي.[58]

---

[56] هماغه.

[57] هماغه.

[58] اساسي قانون، ۳۹ ماده.

### 8) د اوبو او حفظ الصحې د حقوقو څخه ملاتړ

د اوبو او حفظ الصحې حق د مناسب معیار مطابق د ژوندانه د حق برخه ده، چې دغه حق د بشري حقونو د نړیوالي اعلامیې د ۲۵ مې مادې او د اقتصادي، اجتماعي او کلتوري حقونو د نړیوال میثاق د ۱۱ مې مادې په واسطه تضمین شوی دی[59] او په ملي حقوقي اسنادو کې هم تسجیل شوی دی. د اقتصادي، اجتماعي او کلتوري حقوقو په اړه د ملګرو ملتونو کمېټه ددې خبرې تائید کوي چې د اوبو او حفظ الصحې حقوق د مناسب معیار مطابق د ژوندانه د حق برخه ده او د اقتصادي، اجتماعي او کلتوري حقوقو په نړیوال میثاق کې "د ذکر شوو نورو حقوقو، په ځانګړي ډول د روغتیا د حق سره تړلي او مرتبط دي."[60]

څرنګه چې د روغتیا د نړیوال سازمان لخوا د کوویډ- ۱۹ ناروغۍ د مخنیوي لپاره د اوبو، حفظ الصحې، او روغتیا نور موارد اړین ګڼل شوي دي، په نړۍ کې په میلیاردونو خلک لا هم څښلو پاکو اوبو ته لاسرسی نه لري. روغتیا پالان او د روغتیا نړیوال سازمان تاکید کوي چې له انسان څخه بل انسان ته د کوویډ- ۱۹ ناروغۍ د مخنیوي لپاره اړینه ده چې خلک لاسونه په پاکو اوبو پریمنځي، صابون وکاروي، د ورځې په جریان کې څو څو ځله ګرمې اوبه او مایعات وکاروي،[61] او نور روغتیایي تدابیر رعایت کړي، لا هم زمونږ په هېواد کې اکثره خلک پاکو اوبو ته لاسرسی نه لري. دولتونه مکلفیت لري تر څو هر وخت او په ځانګړي توګه د کوویډ- ۱۹ ناروغۍ څخه د خپلو اتباعو د ژغورنې لپاره د پاکو اوبو او حفظ الصحې لازم تدابیر ونیسي.[62] د افغانستان اویا سلنه خلک تر اوسه د څښلو پاکو اوبو ته لاسرسی نه لري.[63]

### 9) د بشر دوستانه خدماتو د دوام یقیني کول

بشر دوستانه خدمات او مرستې هغه څه دي چې د بشر د ژوند ژغورلو لپاره اړین ګڼل کېږي، چې په هر حالت (سوله، جنګ، عادي او بېړني حالت) کې باید دغه مرستې تر سره شي او دوام پیدا کړي. د ملګرو ملتونو د مالوماتو له مخې، د نړۍ ګڼ شمېر هېوادونه چې د کورونا ویروس سره مخ شوي دي لا له وړاندې د نورو

---

[59] د بشري حقونو نړیواله اعلامیه، ۲۵ ماده؛ د اقتصادي، اجتماعي او کلتوري حقونو نړیوال میثاق، ۱۱ ماده.

[60] UN Committee on Economic, Social and Cultural Rights (2010). Statement on the Right to Sanitation. http://docstore.ohchr.org/SelfServices/FilesHandler.ashx?enc=4slQ6QSmlBEDzFEovLCuW1AVC1NkPsgUedPlF1vfPMJr6aTpTWKPb0tnjFKURzucqh6raSB9mb1QEnYrCoJPV59ChsZq4x6M%2F37HmZIlD2ccMoADMRFb%2F72A0yloSiRH

[61] World Health Organization (April 20, 2020). Coronavirus disease (COVID-19) advice for the public, https://www.who.int/emergencies/diseases/novel-coronavirus-2019/advice-for-public

[62] Human Rights Dimensions of COVID-19 Response، ۲۰.

[63] در افغانستان 70 درصد مردم به آب پاک آشامیدنی دسترسی ندارند (۳۰ اسد، ۱۳۹۴ ل). ازادی رادیو، https://da.azadiradio.com/a/27200817.html

ناورینونو لکه وسله والو شخړو، طبیعي افتونو، او د اقلیم د بدلون د ستونزو سره مخ دي.[64] په دغو هېوادونو کې ګڼ شمېر خلک د خپل ژوند د دوام لپاره بشردوستانه مرستو ته اړتیا لري.[65]

متاسفانه، افغانستان هم یو له هغو هېوادونو څخه دی چې له تېرو څه باندې څلور لسیزو جګړو د ژوند ټولې چارې ټيټې کچې ته راوستلې دي. د سره صلیب د نړیوالې کمېټې له نظره، په افغانستان کې لس میلیونه وګړي له لوږې سره مخ دي او بشري مرستو ته اړتیا لري.[66] څرنګه چې د کوویډ- ۱۹ ناروغۍ د مهار کولو لپاره د دولتي ادارو لخوا د ګرځبندیز، قرنطین، اجباري رخصتۍ او نورو محدودیتونو وضع شوي دي، دولت دې ته اړتیا لري تر څو د ملګرو ملتونو او نورو خیریه ادارو بشردوستانه مرستې او د هغو ترسیل ددغو محدودیتونو په واسطه متاثره نه شي. په دې حالت کې باید بشر دوستانه مرستې دوام پیدا کړي.

**10) د هغو خلکو سره مناسبې اقتصادي مرستې کول چې د کم عاید لرونکې دي او یا هم له عاید څخه محروم شوي دي**

د کورونا ویروس څخه د رامنځته شوې وضعیت له کبله، څرنګه چې په اکثرو ځایونو کې ګرځبندیز او قرنطین عملي کېږي، چې په دې سره هر څوک او په ځانګړي توګه هغه څوک ډېر متضرر کېږي چې په ورځني عاید یې د ژوند اړتیاوې پوره کولې، دغه خلک حق لري تر څو ورسره د دولت له خوا اړینې مرستې تر سره شي. همدا ډول، څرنګه چې د کورونا ویروس له کبله د خلکو اړتیاوې او مصارف زیاتیږي، ځکه خلک د خپل ځان او خپلې کورنۍ د ژغورلو لپاره طبي توکو (ماسک، د لاس وینځلو مایع، ضد عفوني مواد، او نور توکي اخلي) او داسې خوراکونو ته اړتیا لري چې د بدن مقاومت یې لوړ شي، هغه کسان چې عاید یې کم دی نه شي کولی دغه اړتیاوې پوره کړي. دوی پخوا کولی شول خپلې ورځنۍ اړتیاوې پوره کړي، خو څرنګه چې د کورونا ویروس څخه د رامنځته شوې حالت سره مبارزه ځانګړي تدابیرو، روغتیایي توکو، مناسبو غذاګانو او ... ته اړتیا لري، د کم عاید لرونکې خلک نه شي کولی ذکر شوي شیان تر لاسه کړي ځکه ددوی عاید له عادي ورځنو اړتیاوو څخه نه زیاتیږي. په همدې لحاظ، دولت باید ددغو خلکو لاسنیوی وکړي.

دولتونه باید داسې تګلارې غوره کړي تر څو د کوویډ- ۱۹ ناروغۍ د اقتصادي ناوړه اغیزو مخنیوی پکې شوی وي، ځکه دا حالت تر ټولو لوړنۍ او سختې ضربې د کم عاید لرونکو خلکو ته رسوي.[67] ټولنیز واټن،*

---

[64] Human Rights Dimensions of COVID-19 Response ، ۲۱.

[65] هماغه.

[66] ملګري ملتونه: د افغانستان په ګډون په نړۍ کې 113 میلینه خلک د خوراک له کمي سره مخ دي (اپریل ۰۲، ۲۰۱۹ م). وي او ای ډیوه راډیو، https://www.voadeewanews.com/a/4858352.html

[67] Human Rights Dimensions of COVID-19 Response ، ۲۱.

* ټولنیز واټن هغه تدبیر دی چې له مخې یې باید خلک له کورونا ویروس څخه د ځان ساتنې لپاره په عامو ځایونو کې یو تر بلهه په دوه متره فاصله کې لیرې واوسې او له دې څخه په کمه فاصله کې یو بل ته نږدې نه شي. Center for Diseases Control and Prevention (April 20, 2020). Social

قرنطین، او د کاربارونو بندښت ممکنه ده ډېر خطرناک او متعدد اقتصادي زیانونه او پایلې ولري. ددغو پایلو تر ټولو زیات اسیب پذیر قشرونه د کم عاید لرونکې کورنۍ او کارکوونکي دي. دولتونه مکلفیت لري تر څو داسې تګارې وکاروي تر څو هغه کسان چې د کووېډ- ۱۹ ناروغۍ د مخنیوي د تدابیرو له کبله اغېزمن شوي دي، باید خپل عاید له لاسه ورنکړي، ځکه دا کار کولی شي هغوی د کورونا ویروس د خپرېدو د مخنیوي لپاره د ځان تجریدولو له تدابیرو راوګرځوي.[68] دا حق د بشري حقونو د نړیوالي اعلامیې له پنځه ویشتمې مادې څخه "هر څوک حق لري چې د خپل او خپلې کورنۍ لپاره د خوراک، لباس، استوګنې، روغتیایي خدماتو، او اړینو ټولنیزو خدماتو په شمول د ژوندانه داسې مناسب شرایط برابر کړي، او همدا راز حق لري چې د بېکارۍ، ناروغۍ، معیوبیت، کونډتوب، زوړوالي او په داسې شرایطو کې چې د معیشت وسایل یې د هغه له ارادې او کنترول د باندې عواملو له کبله له لاسه وتلي وي، د عزتمند او ابرومندانه ژوندانه څخه برخمن شي."[69]

د ننګرهار ولایت مقام د مالوماتو له مخې، په جلال آباد ښار کې به له اووه زره کورنیو سره مرستې وشي، تر څو له ګرځېندیز څخه متاثره شوي خلک حمایه شي.[70] دغه مرستې د دولت له بودیجې او د ولایت په نوښت له رامنځته شوي کورونا فنډ (چې د خلکو د مرستو په واسطه یې ملاتړ کېږي) تمویلېږي.[71] په پیل کې هغه خلک په نظر کې نیول شوي وو چې د ښار د نسبي بندښت له کبله یې عاید له لاسه ورکړی وو، مګر وروسته یو شمېر عام بېوزله خلک هم ددغو مرستو لپاره په نظر کې ونیول شول.[72] مګر، په جلال آباد ښار کې دغه ډول مرستو ته د اړو خلکو شمېر ښایي څو چنده لوړه وي.[73]

## پایله اخیستنه

د کووېډ- ۱۹ ناروغي په لومړي ځل د چین د ووهان په ښار کې د ۲۰۱۹ کال په اواخرو کې رامنځته شوه، چې ډېر ژر یې افغانستان ته هم سرایت وکړ. ددې مقالې د لیکلو تر وخته د افغانستان په مختلفو ولایتونو کې په

---

Distancing, Quarantine, and Isolation. https://www.cdc.gov/coronavirus/2019-ncov/prevent-getting-sick/social-distancing.html

د روغتیا نړیوال سازمان د لارښوونو له مخې، د هغه چا سره چې ټوخېږي یا پرنجېږي، لږ تر لږه یو متر ټولنیز واټن مراعتول مو د ناروغ له خولې او پزې څخه د راوتونکې ویروس څخه ژغوري. World Health Organization (April 20, 2020). Coronavirus disease (COVID-19) advice for the public, https://www.who.int/emergencies/diseases/novel-coronavirus-2019/advice-for-public

[68] Human Rights Dimensions of COVID-19 Response، ۲۱.

[69] د بشري حقونو نړیوال اعلامیه، ۲۵ ماده.

[70] اختیار، هجرت الله. (٦ ثور، ۱۳۹۹ ل). د تیلیفون له لارې مصاحبه.

[71] هماغه.

[72] هماغه؛ شیرزاد، عبدالحکیم. (٦ ثور، ۱۳۹۹ ل). د تیلیفون له لارې مصاحبه.

[73] که څه هم د خوراک نړیوال پروګرام په همکارۍ د ننګرهار په شپږو ولسوالیو کې ۲۲ زره کورنیو ته د خلورو میاشتو لپاره د خوراکي توکو د ویش او ۱۲۸۶ فامیلونو ته د روان کال تر پایه د کورنۍ پر سر د ۳۰۰۰ افغانیو د ویش برنامې شته، په ننګرهار کې خوراکي توکو ته د اړمنو کورنیو د شمېرد زیاتوالي له امله د نورو ادارو سره خبرې رواني دي تر څو د زیات شمېر اړمنو کورنیو سره مرستې وشي. شیرزاد، عبدالحکیم. (٦ ثور، ۱۳۹۹ ل). د تیلیفون له لارې مصاحبه.

دې ناروغۍ د اخته کسانو شمېر ۱۰۲۶ ته رسيږي. دولت که له يوې خوا ددې ناروغۍ د خپرېدو د مخنيوي لپاره روغتيايي تدابير ونيول، له بل پلوه يې د خلکو په تګ راتګ ځينې محدوديتونه او بنديزونه ولګول چې ددې کار سره د خلکو د ازادانه تګ او راتګ د حق په شمول ځينې نور حقوق هم محدود شول. دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان د اساسي قانون له نظره، دولت له يو پلوه د روغتيا د حق په اړه ځينې مکلفيتونه لري او له بل پلوه دولت بايد د افرادو د هغو بنسټيز حقوق احترام وکړي چې په اساسي قانون کې ذکر شوي دي او د دغو حقوقو څخه د استفادې لپاره اړين شرايط برابر کړي. که دولت وغواړي چې په دغو حقوقو محدوديتونه وضع کړي، دغه محدوديتونه بايد د يو سلسله شرايطو درلودونکي وي، چې دغه شرايط د مدني او سياسي حقوقو په نړۍوال ميثاق او د سيراکوزا په اصولو کې ذکر شوي دي. دې ته اړتيا ده تر څو د دولت له خوا وضع کېدونکې محدوديتونه ددغو اسنادو د شرايطو سره مطابقت ولري. که څه هم دغه محدوديتونه د عامې روغتيا د ژغورنې لپاره دي او ګڼ شمېر هغه شرايط يې پوره کړي دي چې په ملي او نړۍوالو اسنادو کې ترې يادونه شوې ده، يو سلسله شرايط يې لا هم نه دي پوره کړي چې بايد د دولت لخوا ورته توجو وشي.

## وړانديزونه

ددې لپاره چې د کوويډ- ۱۹ ناروغۍ له رامنځته کېدو وروسته افغانستان د روغتيا د حق په سمه توګه تامين کړی وي او د دغه ناروغۍ د مخنيوي لپاره د وضع شويو محدوديتونو په اړه يې د ملي او نړۍوالو اسنادو له خوا ذکر شوي شرايط رعايت کړي وي، دا مقاله لاندې وړانديزونه لري:

1. دولت بايد د کوويډ- ۱۹ ناروغۍ د مخنيوي لپاره روغتيايي وقايوي تدابير زيات کړي. په دې اړه بايد د عامې روغتيا وزارت او نور مسئول دولتي نهادونه په ليرې پرتو سيمو کې چېرته چې خلک برېښنا، تلويزيون او انټرنټ نه لري يا لږ خلک دغو خدماتو ته لاسرسی لري، اړين تبليغات د اړونده ادارو سره په همغږۍ سره سر ته ورسوي، تر څو خلک د امکان تر حده په کورونو کې پاتې شي، له تجمعاتو ډډه وکړي او روغتيايي لارښوونې رعايت کړي. همدا ډول، د ميکروب او ويروس ضدا دواګانې بايد په ټولو شکمنو ساحو او نورو هغو ساحو کې چې د ناروغۍ د خپرېدو ويره پکې شتون لري، وشيندې او بايد په دې ا ړه د ټولو ولايتونو سره مساوي چلند وشي.
2. د عامې روغتيا وزارت بايد ټولو خلکو، نارينه ؤ او ښځينه ؤ، په اقتصادي لحاظ کمزورو او شتمنو خلکو ته په مساوي توګه د کوويډ- ۱۹ ناروغۍ د معاينې زمينه برابره کړي.
3. د عامې روغتيا وزارت بايد د ټولو هغو کسانو د معالجې لپاره مساوي شرايط برابر کړي چې د کوويډ- ۱۹ ناروغۍ تر څنګ نورې ناروغې ګانې لکه د زړه، فشار، شکرې او نورې ناروغې ګانې لري، تر څو يې ژوند له خطر څخه وژغورل شي.
4. د عامې روغتيا وزارت بايد په کافي اندازه وسايل او صحي مراکز د خلکو د لاسرسۍ وړ وګرځوي.
5. د عامې روغتيا وزارت بايد دا يقيني کړي چې وضع شوي محدوديتونه او کوويډ- ۱۹ ناروغۍ ته ځانګړي پاملرنه د نورو ناروغانو د تداوۍ په اړه خنډ او ځنډ رامنځته نه کړي. د حامله ښځو او هغه ښځو چې له

ولادت وروسته روغتیایي خدماتو ته اړتیا لري لپاره اړین روغتیایي خدمات باید په نورمال شکل دوام پیدا کړي.

6. د کوویډ- ۱۹ ناروغۍ د مخنیوي لپاره وضع شوي محدودیتونه باید د کمې مودې لپاره وي، او هر وخت باید نیول کېدونکي تدابیر تر بیا کتنې لاندې ونیول شي تر څو د خلکو د ژوند اقتصادي او نور اړخونه بې موجبه متضرر نه شي.
7. دولت باید خلکو ته د دې ناروغۍ د مخنیوي، په دې اړه د رامنځته کېدونکو تغیراتو او پرمختګونو، او تر سره کېدونکو مصارفو په اړه کافي او پر وخت مالومات ورکړي.
8. ددې لپاره چې قرنطین او ګرځبندیز د هغو نړیوالو اسنادو له نظره مشروعیت ولري چې افغانستان یې پر رعایت مکلف دی، د عدلیې وزارت باید د عامې روغتیا او کورنیو چارو وزارتونو او نور اړونده ادارو په همکارۍ د ګرځبندیز او قرنطین په اړه یو قانون رامنځته او ملي شوراء ته دې یې د تصویب لپاره ولېږي.
9. دولت باید د ګرځبندیز پر وخت د هغو خلکو سره لازمې او کافي اقتصادي مرستې وکړي چې د کم عاید لرونکي دي او یا یې د وضع شویو محدودیتونو له کبله خپل کار او د عاید منبع له لاسه ورکړي او د ورځنیو اړتیاوو د پوره کېدو وس نه لري.
10. د اوبو او حفظ الصحې حقوق باید هر وخت او په دې ځانګړي وخت کې د ټولو لپآره په مساوي توګه تامین شي.
11. ګرځبندیز او وضع شوي محدودیتونه باید د ملګرو ملتونو او نورو خیریه ادارو د بشردوستانه مرستو مانع نه شي.
12. اړونده دولتي ادارې (د حج او اوقافو وزارت، د کورنیو چارو وزارت، د عدلیې وزارت، لویه ښارنوالي، د عامې روغتیا وزارت او نورې ادارې) باید په کوویډ- ۱۹ ناروغۍ د اخته او اخته کېدونکو کسانو سره د احتمالي ټولنیز تبعیض د مخنیوي لپاره هر اړخیز ګامونه واخلې، تر څو دغه کسان او کورنۍ یې د تحقیر او محرومیتونو سره مخ نه شي. په دې اړه باید له وړاندې عامه پوهاوی او تبلیغات وشي او نور اړین ګامونه واخیستل شي.
13. د عامې روغتیا وزارت باید د صحي کارکوونکو او روغتیا پالانو د ژغورنې لپاره ټول اړین حفاظتي وسایل تدارک کړي.
14. که څه د لوړو زده کړو وزارت د انلاین زده کړو نوی سیستم معرفي کړی دی، اړینه ده چې محصلان د حالت تر عادي کېدو پورې د زده کړو له حق څخه محروم نه شي. د ښوونې او روزنې وزارت هم باید په دې اړه اړین ګامونه پورته کړي.
15. د آزادۍ د سلب په مراکزو (محابسو، توقیف خونو، دارالتادیب او نورو مراکزو کې) کې باید د کوویډ- ۱۹ ناروغۍ د خپرېدو د مخنیوي لپاره اړین ګامونه واخیستل شي.

**ماخذونه (References)**


1. د افغانستان اساسي قانون (۱۳۸۲ ل). ۸۱۸ رسمي جریده.
2. د عامې روغتیا قانون (۱۳۸۵ ل). ۹۱۶ رسمي جریده.

3. فرمان اختصاصی رئیس جمهوری اسلامی افغانستان در مورد عفو مجازات، تعویق تحقیق و تاجیل تنفیذ حکم محجوزین و محبوسین، مصوبه شماره ۱، (۱۳۹۸ ل).
4. د مدني او سیاسي حقوقو نړیوال میثاق (۱۹٦٦ م).
5. د اجتماعي، اقتصادي، او کلتوري حقوقو نړیوال میثاق (۱۹٦٦ م).
6. د بشري حقونو نړیواله اعلامیه (۱۹۴۸ م).
7. The Siracusa Principles on the Limitation and Derogation Provisions in the International Covenant on Civil and Political Rights (1984). UN Economic and Social Council.
8. Human Rights Dimensions of COVID-19 Response (2020). Human Rights Watch. https://www.hrw.org/news/2020/03/19/human-rights-dimensions-covid-19-response
9. UN Committee on Economic, Social and Cultural Rights (2010). Statement on the Right to Sanitation. http://docstore.ohchr.org/SelfServices/FilesHandler.ashx?enc=4slQ6QSmlBEDzFEovLCuW1AVC1NkPsgUedPlF1vfPMJr6aTpTWKPb0tnjFKURzucqh6raSB9mb1QEnYrCoJPV59ChsZq4x6M%2F37HmZIlD2ccMoADMRFb%2F72A0yloSiRH
10. World Health Organization (April 20, 2020). Coronavirus disease (COVID-19) advice for the public, https://www.who.int/emergencies/diseases/novel-coronavirus-2019/advice-for-public
11. Center for Diseases Control and Prevention (April 20, 2020). Social Distancing, Quarantine, and Isolation. https://www.cdc.gov/coronavirus/2019-ncov/prevent-getting-sick/social-distancing.html

پوهنیار ډاکتر شاه اغا صالحي .
طب پوهنځی، د بیوشیمي او مایکرو بیولوژي څانگه

# کورونا ویروس Covid-19 ( نوعه ) ناروغي د مایکروبیولوژۍ له نظره

**لنډیز**

Covid-19 ناروغي د کورونا ویروس نوي ټایپ (SARS-Cov-2 نوعې) په واسطه رامنځته کېږي، چې نوموړی ویروس یو غیر سگمنټل یو RNA جینوم لري. دا ویروس د یو لایپو پروټیني پوخ (Envelope) په واسطه پوښل شوی دی، چې ابتدایي ډولونه یې په ۱۹۶۰ کال کې وپېژندل شول. د نوموړي ویروس زیات سیروټایپه پېژندل شوي دي، مگر ۷ سیروټایپونه یې په انسانانو کې د ناروغی سبب گرځي. لومړنی شدید انساني ډول یې ۲۰۰۳ کال په چین کې د شدید سینه بغل سبب شو او SARS-Cov-1 ونومول شو، چې د اخته شویو کسانو لس فیصدو خپل ژوند له لاسه ورکړ. بل شدید ډول یې په ۲۰۱۲کال کې په منځني ختیځ کې کشف شو، چې ناروغان یې د شدید وژونکي سینه بغل له کبله په شفاخانو کې بستر شول او د اخته شوو کسانو ۳۴ فیصدو خپل ژوند له لاسه ورکړ.

د ۲۰۱۹ کال دسمبر میاشت د چین په ووهان ښار کې نوی ټایپ د تنفسي ناروغۍ (نمونیا) سبب شو، چې د SARS-1 سره د ارثي خواصو له نظره ۷۰ فیصده شباهت لري او SARS-Cov-2 ونومول شو. د SARS-Cov-2 له کبله په انسانانو کې منځ ته راغلې ناروغۍ ته د Covid 19 نوم ورکړل شو. Covid19 ناروغي د څلورو میاشتو په ترڅ کې د نړۍ ۲۱۰ هېوادونو ته خپره شوه، چې تر دې دمه نږدې دوه نیم میلیونه انسانان یې اخته کړي او ۱۷۵۰۰۰ څخه زیاتو خپل ژوند له لاسه ورکړی دی. په افغانستان کې تر دې دمه ۱۱۰۰ تنو څخه زیات پرې اخته شوي او ۳۶ تنو خپل ژوند له لاسه ورکړی دی. نو ځکه نړیوال روغتیایي سازمان کووید نولس ناروغي نړیواله وبا اعلان کړه. په ټولیزه توگه ددې وبا له کبله اخته کسانو کې د مړینې کچه ٪۶ ده، مگر د مړینې کچه په هغو ناروغانو کې زیاته ده، چې عمرونه یې ډېر او نورې مزمنې ناروغۍ لري.

تبه، وچ ټوخی، پرنجی، د ستوني ناراحتي، ساه لنډی او د بدن درد ددې ناروغۍ لویې گیلې او نښې دي. ناروغي د اخته شخص څخه نورو روغو کسانو ته د ټوخي او پرنجي له کبله د تنفسي قطیراتو په وسیله انتقالېږي. د ناروغۍ احتمالي تشخیص په اعراضو او علایمو او د سفر په تاریخچه باندې کېږي، چې لابراتواري تائید یې د PCR معاینې په واسطه ترسره کیږي. د Covid19 ناروغي درمل نه لري او تر اوسه یې واکسین هم نه دی تهیه شوی، نو اړینه ده، چې د ناروغۍ د کنټرول لپاره باید د ویروس د خپرېدو مخنیوی وشي.

**کلیدي کلمې:** Cov-SARS-2, Covid19 ، کورونا، ویرولوژي، اپیدیمولوژي.

## سریزه

د الکتران مایکروسکوپ پـه واسـطه لیـدل شـوي، چې د ویـروس لـه لایپـو پروټینـي پـوښ څخـه راوتـلي ساختمانونه د شپول (د رڼا حلقې په شان) منظره ورکوي، دا چې شپول ته په انګلیسي ژبه کې Corona وایي، نو ځکه نوموړی نوم یې کسب کړ. (۱)

له بله پلوه د کورونا کلمه له Crown یا تاج څخه مشتق شوې بولي، ځکه د ویروس د لایپـو پروټینـي پـوخ څخه راوتلي ګلایکو پروټیني ساختمانونه د تاج منظره ورکوي. نومـوړی ویـروس ۲۰۰-۵۰ نـانومتره سـایز لـري، چې د عادي مایکروسکوپ په واسطه یې لیدل مشکل دي.(٦)

د کورونا ویروس ابتدایي ډولونه په ۱۹۶۰ کال کې کشف شوي دي، چې په چرګانو او انسانانو کې د زکـام سبب شوي وو. د ۲۰۰۲ کال نومبر میاشت په چین کې د کورونا ویروس نوي ټایپ د شدید سـینه بغـل پـه شـان ناروغي رامنځ ته کړه او د WHO په واسطه په ۲۰۰۳ کال کې د SARS-CoV-1 (Sever Acute Respiratory Syndrome) په نوم ونومول شو. وروسته انتان د نړۍ ۲۸ نورو هېوادونـو تـه هـم خپـور شـو، چې د ۲۰۰۳ کـال جولای ۳۱ نېټې پورې په ټولیزه توګه ۸۰۰۰ تنه اخته کړل او لس فیصدو اخته کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړ.(۳)

په ۲۰۱۲ کال کې په سعودي عربستان او قطر کـې د MERS (Middle East Respiratory Syndrome) په نوم ټایپ یې شدید سینه بغل ناروغي رامنځ ته کړه، چې د ۲۰۱۲ کال سپتمبر راهیسې ۲۷ هېوادونـو تـه خپـور شو او ۲۴۹۴ تنه په ناروغۍ اخته شول او ۸۵۸ تنو خپل ژوند له لاسه ورکړ.(۱ ، ۴)

د ویروس د MERS نوعې منبع هم زونوتیک وه، چې فکر کېږي د منـتن اوښ لـه غوښـې څخـه انسـان تـه انتقال شوې وه.( ۵)

اوس په ۲۰۱۹ کال دسمبر میاشت کې اووم نوی ټایپ یې د چین د هوبي ولایـت پـه Wuhan ښـار کـې د شدید سینه بغل ناروغي رامنځ ته کړه. دې نوي ویروس تـه د WHO لـه خـوا لـومړی د novel Corona virus 2019 نوم ورکړل شو، مګر د ۲۰۲۰ کال په فبروري کې SARS-Cov- 2 ونومول شواو منځ ته راغلې ناروغۍ یـې د Covid 19 (Corona virus disease 2019) په نوم یاده کړه . تر اوسه د ویروس د خپرېدو اصلي منبع معلومه نه ده، مګر داسې فکر کېږي، چې ویروس له خفاش یا ښاپیرک څخـه بـه انسـان تـه انتقـال شـوی وي. نومـوړې ویروسي ناروغۍ تر اوسه له دوه نیم میلیونو زیات کسان اخته کړي دي او له ۱۷۵۰۰۰ څخه زیاتو انسانانو خپـل ژوند له لاسه ورکړی دی او د چین سربېره ۲۱۰ نورو هیوادونو ته خپره شوې ده.(۱۴)

دا چې ناروغي په چټکۍ سره خپرېږي، د افغانستان په شمول د نـړۍ زیـاتره هېوادونـو کـې یـې ګـڼ شـمېر ټولنیزې او اقتصادي ستونزې راولاړې کړي دي. تر دې دمه د مخنیوي لپاره واکسین او تداوۍ لپاره خاص درمل نه لري او د لابراتواري تشخیص لپاره PCR اجرا کېږي، کومه چې وخت نیوونکې او قیمتي معاینه ده، نـو لازمـه مې وګڼله، چې د ویروس د نوي ټایپ او ناروغۍ په هکله د معتبرو علمي سرچینو څخه تـازه او اړیـن معلومـات راټول او د کتابتوني مقالې په شکل یې وړاندې کړم، تر څو د ناروغۍ په پېژندنه او کنترول کې مؤثره واقع شي.

**موخې**

۱. دا یوه نړۍواله ستونزه ده او په چټکۍ سره خپرېږي، د واقعاتو زیاتوالي د افغانانو ټولنیز ژوند او اقتصادي اړیکې خرابولای شي.

۲.نوموړي ویروسونه لوړو زده کړو وزارت په MD کریکولم کې نه تدریس کېږي، چې په هکله یې اړین معلومات په ملي ژبو ډېر کم دي .

۳.د ناروغۍ په هکله د معلوماتو لړوالی، د افغانانو د اګاهۍ سطحې کموالی او روغتیایي لارښوونو ته پاملرنه نه کول.

**تېرو لیکنو ته کتنه**

نوموړی ویروس یو غیر سګمنټیل واحد RNA جینوم لري، چې جینوم یې مثبت قطبیت لري. ( Non segmented, Single Strand RNA +ive genome). نوموړی ویروس یو پروټیني پوښ (Capsid) لري، چې بیاکپسید یې د یوه بل لایپو پروټیني پوښ (Envelope) په واسطه پوښل شوی دی.(۱)




۱-انځور : د الکتران مایکروسکوپ په واسطه د کورونا ویروس ظاهري بڼې انځور ښودل شوی دی.

نوموړی ویروس تي لرونکي (Mammals) او مرغان منتنوي. کورونا ویروسونه زیات سیروټایپونه لري، مګر ۷ سیروټایپونه یې په انسانانو کې د ناروغۍ سبب ګرځي او درې نوعه یې انسان شدیداً اخته کوي، چې په لاندې توګه ذکر شوي دي.(۷)

۱ جدول: د کورونا ویروس د انساني انواعو نومونه، د پېژندنې کال او منځ ته راوړونکې ناروغۍ شدت ښودل شوی دی، څلور ټایپونه یې، چې خفیفه ناروغي منځ ته راوړي، د نړۍ په هر ګوټ کې او په هر موسم کې (خصوصاً ژمي کې) یې واقعات لیدل کیږي، مګر سارس-یو، مرس او سارس-دوه ډولونه یې د حیواناتو څخه انسانانو ته سرایت کړی دی، چې ډېری واقعات یې خفیف شکل لري، مګر پنځمه برخه اخته ناروغان یې شدیداً اخته کیږي.

| ګڼه | د ویروس نوم | د ویروس د کشف کال | د ناروغۍ شدت |
|---|---|---|---|
| ۱ | Human corona virus 229E | 1960s | خفیفه |
| ۲ | Human corona virus OC 43 | 1960s | خفیفه |
| ۳ | SARS Corona virus (SARS-Cov- 1) | 2003 | شدیده |
| ۴ | Human corona virus NL63 | 2004 | خفیفه |
| ۵ | Human corona –v HKU1 | 2005 | خفیفه |
| ٦ | MERS co-v | 2012 | شدیده |
| ۷ | 2019 novel Co-v (SARS-Cov- 2) | 2019 | شدیده |

**د ویروس منبع او د انتقال لار**

د SARS-Cov-1 (Sever acute Respiratory syndrome یا بېړنی شدید تنفسي ـ سندروم) ویروس لومړنۍ پېښه د چین د Guanddong ولایت د شوندي فوشان ساحې څخه راپور شوه، چې یوه دهقان کې د نمونیا اعراض او علایم ولیدل شول او بیا یې ژر خپل ژوند د لاسه ورکړ.(۷)

نوموړی ویروس د ۲۰۰۲ کال نومبر لومړۍ څخه د ۲۰۰۳ کال جولای تر ۳۱ نېټې پورې د چین څخه علاوه د نړۍ ۲۸ نورو هېوادونو ته هم خپور شو او نږدې ۸۰۰۰ کسان پرې اخته شول او ۸۰۰ کسانو خپل ژوند د لاسه ورکړ.(۳)

ددې ناروغۍ لپاره کوم ځانګړی واکسین جوړ نه شو او خاص ویروسي ضد دوا هم پرې موثره ثابته نه شوه، سره ددې، چې یو تعداد ناروغانو ته ریباورین په نوم ویروس ضد دوا او سټروید ورکړل شوي وو، مګر تاثیرات یې جوت نه شول.(۱)

د کورونا ویروس دویم شدید ډول د ۲۰۱۲ کال په سپتمبر میاشت کې د منځني ختیځ څخه سر راښکاره کړ، چې لومړنۍ واقعه یې په سعودي عربستان کې ثبت شوه. د ویروس دا سیروټایپ د MERS-Cov ( Middle east Respiratory syndrome- Corona Virus) په نوم سره یاد شو. د MERS اصلي منبع ناروغ اوښ په ګوته شو او فکر کېږي، چې اوښ ته هم له ښاپیرک څخه انتقال شوی و، ځکه ښاپیرک ددې ویروسونو اصلي مخزن دی. MERS-Cov په چټکۍ سره ۲۷ هېوادونو ته خپور شو، ۲۴۹۴ کسان یې اخته کړل او ۸۵۸ تنو خپل ژوند د لاسه ورکړ.(۵،۴)

د کورونا ویروس درېیم شدید سیروټایپ د ۲۰۱۹ کال په دسمبر میاشت کې د چین په ووهان ښار کې تثبیت شو. SARS-Cov-2 د ارثي خواصو له نظره د خفاش یا ښاپیرک له کورونا ویروس سره ٪۹٦ شباهت لري، نو فکر کېږي، چې د اوسني ویروس اصلي منبع خفاش ده او د خفاش د غوښې خوراک له کبله انسان ته انتقال شوی دی. همدارنګه د pangolin په نامه وحشي حیوان کورونا ویروس د SARS-2 کورونا ویروس سره ٪۹۲

ارثي شباهت لري.( ۱٦،۸،۲).

د سارس۱-، مرس او سارس۲- سرچینه په لومړیو کې حیوان وي، مګر د ناروغۍ په سریع خپرېدنه کې خپله انسانان رول لري . په Covid 19 کې د سارس۲- ویروسونه د اخته شخص لـه ټوخي او پرنجي سره بیرون تـه ووځي او د ۲ مترو څخه په کمه فاصله کې مقابل شخص ته انتقالیږي. د اخته شخص وینه، تشې متیازې، ډکې متیازې او د بدن نور مایعات هم ویروس لري، چې د کوټې په حرارت کې تـر ۳ ورځـو پـورې ویـروس پـه کـې موجود وي او د نورو د ککړتیا قابلیت لري. د اندېښنې خبره دا ده، چې ککړ اشخاص د ناروغۍ د ظهور تر مخه کولای شي، نورو ته په چټکۍ سره ویروس انتقال کړي. د ویروس د ککړتیا قابلیت په یخه هـوا او لنـده سـطحه کې زیات وخت دوام کوي.(۸،۱)

**د سارس۲- ویروس مقاومت**

دا چې ویروس Envelope لري، نو د بدن څخه تر خارجېدو وروسته په محیطي شرایطو کې ډېر وخـت نـه پاتې کیږي، چې د صابون او انتي سپټیکو په واسطه په اسانه له منځه ځي. ویروس تر ۷۲ ساعتونو لپاره د سـطحو له پاسه ژوندی پاتې کېدای شي.

په ٥٦ درجې حرارت د سانتي ګرید کې ۱٥ دقیقو کې د ویروسونو زیات مقدار له منځـه ځـي. د کـوټې پـه حرارت کې د غایطه موادو او ادرار سره خارج شوی ویروس تر دوه ورځو پورې ژوندی پاتې کیږي، مګـر هغـه ناروغان، چې اسهال لري او د غایطه موادو PH یې نظر نارمل ته لوړ وي، نو تر څلورو ورځو پورې ژوندی پاتې کیږي. (۱۲،۱۳)

هغــه کېمیــاوي محلــولات، چــې ویــروس وژني عبــارت دي لــه: ٪۷۱-٦۲ ایتــانول، 0.1% ســودیم هایپوکلورایت، 0.5%هایدروجن پر اکساید او 0.2-7.5% پـایودین. پـه عـمـومي توګـه ټـول envelope لرونکـي ویروسـونه پـه پورتـه محلولاتـو کـې پـه لـس دقیقـو کـې لـه منځـه ځـي، مګـر Benzalkonium chlorid او Chlorohexidine gluconate پرې کم تاثیر لري. (۱۲،۱۳)

**ویروس پېژندنه او د ناروغۍ د منځ ته راتګ میکانیزم**

سارس۱- ویروس په تنفسي لاره کې د اپیتیلوم له پاسه د ACE2 Enzyme ( Angiotensin converting enzyme II) سره نښلي، چې پایله کې د سږو پړسوب او Hypoxia تاسس کوي.

مګر مرس بیا په تنفسي سیستم کې د مخاطي غشاء په سطحه له CD26 پروټیني اخـذو سره نښـلي. شـدید سینه بغل منځ ته راځي، چې د مرګ کچه په کې سارس څخه ۴-۳ چنده لوړه ده.

سارس۲- ویروس د چین په ووهان ښار کې له درې اشخاصو څخه، چې د نمونیا په لوحه کې مراجعه کـړې وه، تجرید شو. دا ویروسونه د Coronaviridae فامیل پورې تړاو لـري، چـې جینـس یـې Beta corona virus دی او نوعه یې SARS related Corona ویروس څخه عبارت دی.(۱٥)

د SARS-Cov-2 ویـروس سـایز لـه ۲۰۰-۵۰ نـانومترو پـورې رسـېږي. نومـوړی ویـروس د نـورو کورونـا ویروسـونو پـه شـان څلـور سـاختماني پروتینونـه لـري، چـې عبـارت دي لـه: S (Spike), E(Envelope), M(membrane) او N(Nucleocapside). د نیوکلیوکپسید پروتین RNA احاطه کوي او دا نور درې پروتینونه د Envelope په جوړېدو کې رول لري.(۱۸،۱)

د Spike پروتینونه د میزبان له حجراتو سره د ویروس د نښلېدو سبب کېږي. هغه څېړنې، چې پـه چـین او USA کې ترسره شوي، ښیي چې SARS-Cov-2 ویروس لپـاره د انسـان پـه بـدن کـې ACE2 (Angiotensin Converting Enzyme 2) د اخذو په حیث رول اجرا کوي.( ۲، ۱۸)

سربېره پر دې نوې څېړنې د Basigin یا CD147 پروتین د رول ښودنه کوي، نوموړی پروتین د اکثره حجـرو خصوصاً اپیتیلیل، اندوتیلیل او د وینې سپینو حجراتو په سطحه موجود دي. داسې فکر کېږي، چې Basigin هم د SARS-Cov-2 لپاره د اخذې په حیث رول ادا کوي، مگر تائید یې نـورو څېړنـو تـه ضرورت لـري( ۱۹). کلـه چې ویروس د میزبان حجراتو ته داخل شو، نو د حجرې په داخل کې د ویروس په تعداد کـې زیـاتوالی راځـي (Replication) بالاخره اخته شوې حجره له منځه ځي او نوي تولید شوي ویروسـونه نـور سـالم حجـرات اختـه کوي. سربېره پر دې د وینې د سپینو حجراتو غبرگون ددې سبب کېږي، چې سږو کې التهـاب مـنځ تـه راشي، د سږو التهاب او د التهابي میدیاتورونو افراز د تبې، ځان درد او هایپوکسیمیا سبب کېږي، چې شدیده هایپوکسیمیا د بدن د حیاتي اعضاوو د وظایفو دخرابوالی سبب کېږي. د Basigin پروتین د RBC په سطحه هم لیدل کېـږي، چې د PF پرازیت د نښلېدو لپاره هم د رسپتور په حیث دنده اجرا کوي. ( ۱۹)

کله چې یو شخص په ناروغۍ مشکوک اوسي، نـو د ویـروس د تجریـد لپـاره د شـخص لـه تنفسي۔افرازاتـو (پوزې یا بلعوم) څخه نمونه اخستل کېـږي او بیـا د Reverse transcription Polymerase chain reaction (RT-PCR) په میتود سره په نمونه کې د ویروس RNA لټول کېږي، چې نتیجه یې څو ساعته وخت نیسي، مگر ځینې واقعاتو کې ممکن څو ورځې د دقیقې نتیجې لاسته راوړلـو لپـاره انتظـار وباسـو. د RT-PCR مېتـود دقیـق تشخیص وضعه کوي، مگر قیمتي معاینه ده او نتیجه یې وخت نیسي. (۱۷)

د نړۍ په مختلفو هېوادونو کې لابراتوارونو او دوایي کمپنیو سریع تشخیص لپاره سیرولوژیکي ټسـټونه تهیـه کړي دي، چې مثبت واقعات په لږ وخت کې او په کم مصرف سره تشخیصوي. په دې سیرولوژیک ټسټ کې د ویروس په مقابل کې وصفي انتي باډي د شخص په پلازما کې لټول کېږي، مگر تر اوسه ددې ټسټونو څخـه پـه نړۍواله کچه استفاده پیل شوې نه ده.(۱۷)

### د Covid 19 کلینیکي لوحه

کله چې شخص منتن شي ٦-۵ ورځې وروسته د ناروغۍ نښې او نښـانې مـنځ تـه راځـي (ممکـن ۱۴ ورځـې وروسته منځ ته راشي). منتن خلک ممکن غیر عرضي وي او ویروس نورو ته د تنفس پـه واسـطه انتقـال کـړي،

مگر دوه عمده اعراض په اکثره عرضي ناروغانو کې ليدل کېږي، چې عبارت دي له تبه (٪۸۸) او وچ ټوخی (٪۶۸). غیر معمول اعراض او علایم یې عبارت دي له ستړتیا، ساه لنډي، د عضلاتو او بندونو درد، سر دردي، ستوني درد، د یخنۍ احساس، کانګې، اسهالات او د بوی او ذایقې د حس خرابوالی (۱۴).

۲۰-۱۸ فیصده ناروغان په شدید سینه بغل اخته کېږي، چې عاجل تنفسي اهتماماتو ته ضرورت پیدا کوي. که ویروس د شخص هضمي تیوب اخته کړی وي، نو ناروغان به کانګې او اسهالات ولري. په شدیدو حالاتو کې لاندې اختلاطات تاسس کوي: د پښتورګو عدم کفایه، د ځیګر عدم کفایه، د سږو پړسوب ، هایپوکسیا او هایپوټنشن.

**اپیدیمولوژي**

د سارس۲- ویروس لومړی پېښه د ۲۰۱۹ کال دسمبر میاشت د چین په ووهان کې منځ ته راغله. د ۲۰۲۰ کال د جنوري په ۳۰ نېټه د نړۍوال روغتیایي سازمان له خوا د Public health emergency په توګه قبوله شوه او د مارچ په یوولسمه نېټه د WHO له خوا د وبا یا pandemic disease په توګه وپېژندل شوه. (۱۰،۹)

تر دې دمه سارس۲- ویروس د نړۍ ټولو برخو ته خپور شوی (۲۱۰ هیوادونو ته)، دوه نیم میلیونه انسانان پرې اخته شوي دي، ۱۷۵۰۰۰ تنه یې وژلي او ۶۳۷۰۰۰ تنه ېبرته رغېدلي، مګر د دوباره ګرځېدنې (Relaps) او بیا اخته کېدنې (Re infection) امکان په خپل ځای پاتې دی. (۱۱،۱۰)

زمونږ خوږ هېواد کې هم ددې ناروغۍ لومړنۍ واقعه د هرات په ولایت کې ثبت شوه، چې د ایران هېواد ته یې د سفر تاریخچه درلوده. تر دې دمه د ۱۱۰۰ څخه زیات افغانان په Covid 19 اخته شوي، ۳۶ تنو خپل ژوند د لاسه ورکړی او ۱۵۰ تنه رغېدلي دي.

**پایله**

ددې وبا له کبله د نړۍ د نفوس دریمه برخه قرنطین شوه، مکتبونه، پوهنتونونه، مذهبي اجتماع ځایونه، پارکونه، هوټلونه، هوايي میدانونه او د هېوادونو سرحدونه وتړل شول، چې ناوړه ټولنیز اقتصادي وضعیت یې رامنځ ته کړ، په میلیونونو انسانانو خپلې وظیفې د لاسه ورکړې، د وګړو تر منځ یې کرکې راوپارولې او د ویروس په خپرېدو کې یو او بل ګرم وګڼل. په ټولیزه توګه د اخته شویو کسانو ٪۶ د ویروس په واسطه ووژل شول. هغه کسان، چې عمرونه یې زیات وو (۶۵ کلونو څخه پورته) او یا یې نورې مزمنې ناروغۍ درلودې (لکه شکر، سرطان، د زړه ناروغي او نور) د مړینې کچه یې پورته وه (٪۱۵). دا چې ددې ویروسي ناروغۍ لپاره تر اوسه خاص درمل نه دي جوړ شوي او واکسین هم نه لري، نو یوازینۍ لاره د ناروغۍ د کنترول لپاره د ازدحام او تماس کموالی دی. د نړۍ په زیاتره هېوادونو کې خلکو ته توصیه کېږي، چې په کورونو کې پاتې شي، تر څو د ناروغۍ د وخامت کچه کنترول شي او روغتیا پالان اخته کسانو ته باکیفیته خدمات وړاندې کړای شي او د نورو وګړو د اخته کېدو مخنیوی وشي. ددې ترڅنګ روغتیاپالان باید مناسب محافظوي لباسونه ولري، تر څو په

جرئت او ټينګ عزم د ناروغانو چوپړ وکړي، چې دا به د ناروغۍ کنترول لپاره مؤثر اقدام وي. په ځينې هېوادونو کې د ملاريا پرازيت ضد درمل کلوروکين او په ځينې نورو کې د ايبولا ويروس ضد درمل Remdesivir ناروغانو ته په تجربوي شکل ورکړل شوي دي، مګر د روغتيا نړيوال سازمان تر دې دمه د هيڅ ډول درملو د تجويز سپارښتنه نه ده کړې. (۹،۱۰،۱۳،۱۵)

**وړانديزونه (سپارښتنې)**

تر اوسه د Covid 19 مخنيوي لپاره هيڅ ډول واکسين نه دی جوړ شوی، نو په ملي سطحه بايد لاندې نقاطو ته جدي پاملرنه وشي:

روغتيايي پرسونل ته بايد مورال او جرئت ورکړل شي، تر څو د ناروغۍ په مخنيوي او تداوۍ کې خپلې هڅې جاري وساتي او د ناروغانو سره سالم، مګر له احتياطه ډک چلند وکړي.

د ناروغۍ د کنترول لپاره په افغانستان کې موجوده امکانات ډېر کم دي، چې د حکومت خاصه توجه، بين سکتوري همغږۍ او د نړۍوالو همکارۍ ته جدي اړتيا ليدل کېږي.

لاندې ذکر شوې سپارښتنې د نړۍوال روغتيايي سازمان، ساري ناروغيو د کنترول مرکز او د افغانستان د عامې روغتيا وزارت له خوا وړاندې شوي، تر څو افغانان خپله لاس په کار شي او ناروغي کنترول کړای شي.

**څه بايد وکړو تر څو د کورونا په سارس۲- ويروس اخته نه شو:**

1. لاسونه مو په تکراري ډول د اوبو او صابون په واسطه د ۲۰ ثانيو لپاره و مينځئ !
2. که اوبو او صابون ته لاسرسی نه لرئ، نو د ضد عفوني الکول لرونکي محلول څخه د لاسونو د پاکولو لپاره استفاده وکړئ.
3. د هغو کسانو سره، چې زکام ته ورته اعراض او علايم لري، د تماس څخه ډډه وکړئ!
4. د وحشي او اهلي حيواناتو سره د تماس څخه ځان وساتئ!
5. په ګڼه ګوڼه او بازار کې حتماً له ماسک څخه استفاده وکړئ او د خلکو سره د لاس ورکولو او روغبړ څخه ډډه وکړئ.
6. د هغو کسانو څخه، چې د ناروغۍ علايم لري، حد اقل د يو متر په فاصله کې ځان ليرې وساتئ.
7. د ټوخي او پرنجي په وخت کې مو مخ ته دسمال ونيسئ او بيا دسمال په کثافت دانۍ کې وغورځوئ.
8. هغه وسايل او سطحې، چې زيات تماس ورسره لرئ، ضد عفوني کړئ ( په ډيټول يا کلورين مايع يې پاک کړئ).
9. په عامه ځايونو او حمل و نقل وسايلو کې د اشياوو او سطحې د تماس څخه ډډه وکړئ!
10. په ناپاکه لاسونو باندې د مخ او سترګو د تماس څخه ډډه وکړئ!
11. د مريضانو سره د نږدې تماس څخه ډډه وکړئ!
12. خپل شخصي لوښي او وسايل مو پاک او د نورو څخه جلا کړئ!
13. همېشه د غذا خوړلو څخه مخکې مو لاسونه پاک پرېمنځئ!

14. غوږونه او د چرګانو هګۍ په مکمل ډول پخې کړئ!
15. د ناروغۍ په وخت کې په کور کې پاتې شئ او جلا خونه کې و اوسېږئ!

**په کورونا ویروس د اخته کېدو په صورت کې باید څه وکړو:**

1. د کور څخه بهر فعالیتونه محدود کړئ!
2. مخکې د صحي مراقبت څخه کار ځای، مکتب او عامه ځایونو ته لاړ نه شئ!
3. د عامه حمل و نقل وسایلو څخه استفاده مه کوئ!
4. د کور د نورو افرادو څخه مو ځان جدا کړئ!
5. د امکان په صورت کې د یوه جدا حمام څخه استفاده وکړئ!
6. د کورنۍ د نورو غړو څخه په جدا اطاق کې واوسېږئ!
7. د ټوخي او پرنجي په وخت کې مو مخ ته دسمال ونیسئ!
8. د ټوخي او پرنجي څخه وروسته مو لاسونه حد اقل د ۲۰ ثانیو لپاره پرېمینځئ!
9. همېشه مو مخ په ماسک سره پټ کړئ!
10. لاسونه مو په تکراري ډول په اوبو او صابون ومینځئ!
11. په کور کې د مشترکه وسایلو لکه لوښي، جان پاک، روجایي او نورو د کارولو څخه ډډه وکړئ!
12. د ناروغۍ علایم په خاص ډول تبه مو کنترول کړئ!
13. که د ناروغۍ وخامت مو په زیاتېدو وي، نو ژر تر ژره ځانګړو روغتیایي مراکزو ته مراجعه وکړئ!

**که مو کورنۍ کې څوک په کورونا وایروس اخته شو باید څه وکړو:**

1. یوازې هغه کسان دې کور کې پاتې شي، چې اوسېدل یې په کور کې د ناروغ د مراقبت لپاره ضرور وي.
2. د کورنۍ نور غړي دې په بل کور یا ځای کې پاتې شي.
3. که کور جدا کول امکان ونه لري، نو په بېله خونه کې پاتې شئ.
4. مریض ته نږدې کېدونکي کسان باید محدود کړای شي.
5. زاړه کسان او هغه کسان، چې د زړه ، سږو، پښتورګو او شکرې ناروغۍ لري، باید د ناروغ څخه لیرې وساتل شي.
6. ځان مطمئین کړئ، چې د کور فضا ته مو په کافي اندازه تازه هوا داخل شي او د کور کړکۍ خلاصې وساتئ او یا د هوا د تهویې ماشین څخه استفاده وکړئ.
7. لاسونه مو په تکراري ډول حد اقل د ۲۰ ثانیو لپاره په اوبو او صابون پرېمینځئ!
8. د ناروغ وینې او د بدن افرازاتو لکه خولې، لاړو، بلغمو، استفراق ، ادرار، غایطه موادو سره د تماس په وخت کې د دسمال او دستکشو څخه استفاده وکړئ!
9. یو ځل استعمالېدونکي شیان د استعمال وروسته لیرې وغورځوئ!
10. هره ورځ د دسترخوان، کار مېز ، د حمام او ارایش وسایل، تلیفون ، تابلیت، کمپیوتر او نورو وسایلو سطحې پاکې کړئ!
11. لباس او نورې سطحې، چې ممکن د ناروغ وینه او د بدن نور افرازات پرې توی شوي وي، ضد عفوني

کړئ!(ډیتول یا 0.5% کلورین څخه کار واخلئ)

12. د کالیو مینځلو ماشین او وسایل په مکمل ډول ضد عفوني کړئ!
13. د ملوثو موادو سره د تماس په وخت کې یو بار مصرفه دستکشو څخه استفاده وکړئ!
14. لاسونه مو د دسکشو د لیرې کولو څخه وروسته سمدستي پرېمینځئ!

**د کورونا په ناروغۍ اخته کس سره د مخامخ کېدو په صورت کې باید څه وکړئ:**

ناروغ کس سره د اخري تماس څخه وروسته تر ۱۴ ورځو پورې لاندې علایمو ته پاملرنه وکړئ:

- تبه: د ورځې دوه ځلې مو د بدن حرارت معاینه کړئ.
- ټوخی
- ساه تنګی او یا تنفس کې مشکلات
- نور لومړني علایم لکه لړزه، د وجود درد، د ستوني درد، سر درد، اسهال، زړه بدوالی، کانګې، د پوزې بهېدل.

که چېرته تبه او یا هر یو د پورته علایمو څخه درته پیدا شو، په عاجل ډول ځانګړو روغتیایي مراکزو ته مراجعه وکړئ!

## References


1. Livenson Warren, Review of Medical Microbiology and Immunology, 2014, thirteenth edition, LANGE Mc Graw Hill education.
2. Mark Gladwin, William Trattler, C. scott Mahan, 2017, Clinical Microbiology made ridiculously simple TM, 6th edition, Med Master, Inc., Miami.
3. "Summary of probable SARS cases with onset of illness from 1 November 2002 to 31 July 2003". *World Health Organization, 21 April 2004*
4. *MERS-CoV global summery and assessment of risk, WHO Nov 2019*
5. *Zumla A, Hui DS, Perlman S (September 2015).* "Middle East respiratory syndrome". *Lancet.* ***386*** *(9997): 995–1007.* doi:10.1016/S0140-6736(15)60454-8. PMC 4721578. PMID 26049252.
6. COVID-19/Coronavirus Real Time Updates With Credible Sources in US and Canada | 1Point3Acres". coronavirus.1point3acres.com
7. Rui-Heng Xu,* Jian-Feng He,* Meirion R. Evans,†‡ Guo-Wen Peng,* Hume E Field,§ De-WenYu,*Chin-Kei Lee,¶ Hui-Min Luo,* Wei-Sheng Lin,* Peng Lin,* Ling-Hui Li,* Wen-Jia Liang,* Jin-Yan Lin,* and Alan Schnur#1. Epidemiologic Clues to SARS Origin in China.Emerging Infectious Diseases • www.cdc.gov/eid • Vol. 10, No. 6, June 2004.
8. *Wang C, Horby PW, Hayden FG, Gao GF (February 2020).* "A novel coronavirus outbreak of global health concern". *Lancet. 395 (10223): 470–473.* doi:10.1016/S0140-6736(20)30185-9. PMC 7135038. PMID 31986257.
9. WHO Director-General's opening remarks at the media briefing on COVID-19—11 March 2020". World Health Organization. 11 March 2020. Retrieved 11 March 2020.

**10.** Politi D (11 April 2020). "WHO Investigating Reports of Coronavirus Patients Testing Positive Again After Recovery". Slate. Retrieved 11 April 2020.

**11.** *Feng E (27 March 2020).* "Mystery in Wuhan: Recovered Coronavirus Patients Test Negative ... Then Positive". *NPR. Retrieved 11 April 2020*

**12.** Kampf G, Todt D, Pfaender S, Steinmann E (March 2020). "Persistence of coronaviruses on inanimate surfaces and their inactivation with biocidal agents". *The Journal of Hospital Infection*. 104 (3): 246–251. doi:10.1016/j.jhin.2020.01.022. PMC 7132493. PMID 32035997

**13.** Interim Recommendations for US Community Facilities with Suspected/Confirmed Coronavirus Disease 2019". Cdc.gov. Retrieved 4 April 2020.

**14.** Pan X, Chen D, Xia Y, Wu X, Li T, Ou X, et al. (April 2020). "Asymptomatic cases in a family cluster with SARS-CoV-2 infection". The Lancet. Infectious Diseases. 20 (4): 410–411. doi:10.1016/S1473-3099(20)30114-6. PMC 7158985. PMID 32087116

**15.** Wölfel R, Corman VM, Guggemos W, Seilmaier M, Zange S, Müller MA, et al. (April 2020). "Virological assessment of hospitalized patients with COVID-2019". Nature: 110. doi:10.1038/s41586-020-2196-x. PMID 32235945.

**16.** Gorbalenya AE, Baker SC, Baric RS, de Groot RJ, Drosten C, Gulyaeva AA, et al. (March 2020). "The species Severe acute respiratory syndrome-related coronavirus: classifying 2019-nCoV and naming it SARS-CoV-2". Nature Microbiology. 5 (4): 536–544. doi:10.1038/s41564-020-0695-z. PMC 7095448. PMID 32123347.

**17.** "Coronavirus disease (COVID-19) technical guidance: Laboratory testing for 2019-nCoV in humans". World Health Organization. Archived *from the original on 15 March 2020*. Retrieved

**18.** *Wrapp D, Wang N, Corbett KS, Goldsmith JA, Hsieh CL, Abiona O, et al. (February 2020). "Cryo-EM structure of the 2019-nCoV spike in the prefusion conformation".* Science. *367 (6483): 1260–1263.* Bibcode*:*2020Sci...367.1260W. doi*:*10.1126/science.abb2507. PMID 32075877

***19.*** Yurchenko V, Constant S, Bukrinsky M (2006). "Dealing with the family: CD147 interactions with cyclophilins". Immunology. 117 (3): 301–9. doi:10.1111/j.1365-2567.2005.02316.x. PMC 1782239. PMID 16476049.

پوهنیار احمد سعید
ژورنالیزم او عامه اړیکو پوهنځی، راډیو تلویزیون څانگه

# په افغانستان کې د کوېډ نولس (COVID-19) ناروغۍ بشري ناورین او رسنیز عامه پوهاوی

**لنډیز**

د طبعي حوادثو او افتونو په مهارولو کې د رسنیو رول او اغېز ډېر د پام وړ دی. ځکه چې د خبر رسونې تر ټولو چټکه وسیله بلل کېږي. له همدې امله له کله چې د کوېډ نولس ساري ناروغي په هېواد کې خپره شوې، خلک د خبرونو او اړوندو لازمو سپارښتنو ضرورت احساسوي. که څه هم رسنۍ په داسې حالاتو کې خپل رسالت تر سره کوي او د اطلاعاتو سربېره عامه پوهاوی هم ترسره کوي، خو اوس هم د ستونزې په شکل دا پوښتنه مطرح کېږي، چې ایا رسنیو د کوېډ نولس بشري ناورین په اړه عامه پوهاوی؛ لکه څنگه چې لازمه ده اړین گڼلی او د ولس له غوښتنو سره سمې، داسې خپرونې یې چمتو کړي، چې د وېرې او هیله‌مندۍ تعادل پکې ساتل شوی وي؟ د ډیالوگونو او متونو د تحلیل په دې کیفي څېړنه کې د کورونا په اړه د ملي راډیو تلویزیون درې مهمې خپرونې تر څېړنې لاندې نیول شوې دي، څو د افتونو او حوادثو په جریان کې د رسنیو د اهمیت تر څنگ څرگنده شي، چې د کوېډ نولس ناروغي د ملي راډیو تلویزیون له لورې څومره اړینه او جدي گڼل شوې ده. ورسره دغه ځانگړې خپرونې د ټولنې له غوښتنو سره برابرې دي او که نه؟ د څېړنې موندنې ښیي چې د حوادثو په مهارولو کې د رسنیو ونډه ډېره مهمه ده. همدا راز، د ملي راډیو تلویزیون له خوا د دې ناروغۍ په اړه عامه پوهاوي او پوښښ ته پوره وخت ځانگړی شوی دی او وروستۍ موندنه دا چې د ملي تلویزیون د اړوندو خپرونو او خبرتیاوو ماهیت داسې برابر شوی، چې په نشرېدو سره یې که لیدونکې له یوې خوا له دې ساري ناروغۍ څخه نه بې پروا کېږي، له بلې خوا د وېرې او تشویش هغه حالت ته هم نه ځي، چې روحیه او د بدن معافیتي سیستم یې کمزوری شي. څېړونکی د افغان رسنیو په نورو خپرونو کې د تعادل ساتنې موضوع د مزیدو تحقیقاتو لپاره تجویزوي.

**کلیدي کلمې:** رسنۍ، عامه پوهاوی، کورونا، ملي رادیو تلویزیون.

**سریزه**

د تنې له کېکاږلو سره د تلوېزیون پر توره پرده دا بې‌تصویره متن راښکاره شو: «که کورونا جدي ونه نیسئ؛ نو ...!» سمدستي د تلوېزیون پر ښیښه د چینایي وگړو گڼه گونه راپیدا شوه یو تن په گڼ بازار کې بې‌هوښه شو او پر ځمکه ولوېد. بل یې ویلچیر کې روغتون ته په منډو کړی و. څو تنو وینه قی کړه، د پولیسو سره په اخ‌وډب کې یو تن د نورو پر اوږو ورټوپ کړ او...، دا د هغه چینایي فلم صحنې دي، چې د ساري ناروغیو په اړه جوړ شوی دی او ملي تلوېزیون یې د خلکو د عامه پوهاوي په موخه نشروي. څه فکر کوئ، چې په افغانستان کې د دا ډول عامه پوهاوي خپرول به څنگه وي؟ په لومړیو کې داسې پوهاوی راته نامناسب ښکاره شو او داسې مې انگېرله، چې گوندې دا ډول له مبالغې ډکې خبرتیاوې یواځې روحیه کمزورې کوي او هېڅ گټه نه لري. خو کله

چې د دې ځېړنې په جریان کې مې د کورونا په هکله د ملي راډیو تلوېزیون د ځانګړو خپرونو ازمایشي- مطالعه پیل کړه او د کویډ نولس ناروغۍ پر خطراتو او بدو عواقبو پوه شوم؛ نو د یوې فرضیې په توګه راته لازمه ښکاره شوه، چې د دې ناروغۍ په اړه د خلکو د غفلت ختمولو او د رواني تعادل ساتلو لپاره پکار ده رسنۍ د مهمو مسائلو په اړه د خبرتیاوو تعادل په پام کې وساتي. د خبرتیاوو تعادل په دې معنی چې د کویډ نولس ساري ناروغۍ د عامه پوهاوي په جریان کې، که له یوې خوا سپارښتنې په نورمال ډول خپرېږي له بلې خوا پکار ده چې د ټولنیز غفلت له منځه وړو لپاره ځینې جدي خبرتیاوې هم نشر شي. هغه هم په داسې یوه هېواد کې چې وګړي یې آن له خپل ژوند سره بې‌تفاوته دي.

دغه څېړنه چې د طبعي افتونو په مهارولو کې د رسنیو پر ونډه راڅرښې په افغانستان کې د کویډ نولس یا کورونا ناروغۍ بشري ناورین د کېس سټډي څېړنیز ډېزان په شکل تر مطالعې لاندې نیسي، څو معلومه شي چې په اړه یې رسنیز عامه پوهاوي ته اړینه پاملرنه شوې او که نه. همدارنګه په ورته بحراني حالاتو کې رسنۍ څه رول او اهمیت لري. که څه هم له تېرو څلورو لسیزو راهیسې، د کورنیو او تپل شویو جګړو له امله په افغانستان کې رسنۍ د نورې نړۍ په پرتله فعالې نه وې او د ځایي خلکو هم دومره تمه ترې نه کېده چې ګوندې د طبعي افتونو او حوادثو په مهارولو کې دې فعاله رول ولوبوي، خو له تېرو څه باندې اتلسو کالو راهیسې رسنیز فعالیتونه په هېواد کې ورځ تر بلې مخ په ښه کېدو دي، چې هم یې په کور دننه د سیاسیونو او چارواکو پام راړولی او هم له هېواده بهر بې‌شمېره دولتي او غیردولتي ارګانونو افغان رسنیو ته د مرستې لاس ورغځولی دی، څو له دې لارې عامه پوهاوی او د خیر ښېګڼې چارې پر مخ ولاړې شي.

د طلوع تلوېزیون د یوه راپور له مخې چې په کال ۲۰۱۹ کې خپور شوی، په هېواد کې ۲۰۳ تلوېزیوني چینلونه فعال دي، چې له دې جملې یې ۹۶ په کابل او پاتې ۱۰۷ هغه یې په ولایاتو کې خپرونې لري. په همدې ډول ۲۸۴ راډیوګانې فعالې دي، چې تر ډېره یې خپرونې په پښتو او دري ژبو خپرېږي. په دغه شمېر کې یو شمېر هغه بهرنۍ راډیوګانې هم شاملې دي، چې اصلاً له هېواده بهر د افغانانو لپاره خپرونې لري. د یاد راپور له مخې په هېواد کې د چاپي رسنیو شمېر له ۱۳۲۰ اوښتی او ورځ تر بلې یې تعداد ډېرېږي. (Tolo News, 2019).

ملي راډیو تلویزیون چې د هېواد له پیاوړو رسنیو شمېرل کېږي د نسبتا پوره امکاناتو او عصري وسایلو په درلودو سره کولای شي په کور دننه بېلابېلو طبعي حوادثو او ورځنیو پېښو ته پوښښ ورکړي. ملي راډیو تلویزیون چې د راډیو او تلویزیون جلا فعالې برخې لري، راډیویي وسایل یې له جرمني راوړل شوي او په کال ۱۹۲۵ میلادي د شاه امان الله خان د واکمنۍ پر مهال تاسیس شوه. خو ملي تلویزیون چې وسایل یې بیا د جاپان هېواد مرسته وه، په کال ۱۹۷۶ میلادي کې د سردار محمد داود خان د واکمنۍ پر مهال تاسیس او پر نشراتو پیل وکړ. (Japan International Cooperation Agency, 2013) .

د نشراتو د کیفیت په اړه ملي راډیو تلویزیون(RTA) له پیله ډېرې په زړه پورې خپرونې کابل ښاریانو ته نشرولې، چې بیا وروسته یې د ولایاتو د اوسېدونکو هنري، سیاسي او ټولنیزه تنده هم خړوبوله. ملي تلویزیون چې څلورویشت ساعته پرله‌پسې خپرونې لري په دې وروستیو کې یې لاسته راوړنې ډېرې تر سترګو کېږي، چې تر ټولو زړه راښکونکې ژوندۍ خپرونه یې د ولسمشر محمد اشرف غني د ۱۳۹۸ ل کال د لوړې مراسمو خپرول وو. دغه ژوندۍ خپرونه چې په فلمبردارۍ کې یې له عصري متحرکو کمرو ګټه اخیستل شوې وه، د هېواد په لر و بر کې د لیدونکو د پام وړ وګرځېده. سربېره پر دې ملي راډیو تلویزیون وکولای شول د دارالامان قصر د

بیارغونې پرانیست‌غونډې شانداره مراسم ژوندي خپاره کړي. په دې ژوندۍ خپرونه کې یې د خپرونې ټولې چارې؛ لکه پرمختللی تخنیک، معیاري لایتینګ او په زړه پورې ګرافیک د مسلک د مینه‌والو او عامو خلکو پام ځانته راوګرځاوه. نن سبا چې د کوېډ نولس ناروغۍ په اړه رسنیز عامه پوهاوی ترسره کېږي، ملي تلویزیون په دې برخه کې په تخنیکي لحاظ او هم د محتوی له اړخه متنوعې خپرونې جوړې کړې دي، چې د څېړونکي پام یې راګرځولی او ملي تلویزیون د څېړنیزې موضوع د نمونې په حیث ټاکل شوی دی.

کویډ نولس ناروغي چې په ۲۰۱۹ میلادی کال کې د چین هېواد په ووهان(Wuhan) ښار کې پېدا شوې وه پوره یو کال وروسته د ۲۰۲۰ په فبروری کې له همدې ښاره خپره شوه. په پیل کې دغه ناروغي یوازې د ووهان ښار پورې محدوده وه، چې وروسته د چین د بېلابېلو ښارونو وګړي پرې اخته شول. ډېره موده لا نه وه تېره چې یاد ویروس د چین له پولو واوښت او نورو هېوادونو ته په سرایت سره یې په ډېره کمه موده کې د نړۍ په لر و بر کې غزونې وکړې. اوس‌مهال د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې د یادې ناروغۍ مثبتې پېښې ثبت شوي دي، چې د همدغه چټک سرایت له امله یاده ناروغي د روغتیا نړۍوال سازمان له خوا د نړۍوالې ناروغۍ په نامه پېژندل شوې ده. په افغانستان کې تر دې دمه وروستي ارقام ښیي چې پر دغې ناروغۍ د اخته کسانو شمېر له زرو تښتو اوښتی دی د عامې روغتیا وزارت په وینا لا هم دغه ویروس د چټک خپرېدا په حال کې دی (Tolonews, 2020).

**د مسئلې بیان:** په افغانستان کې د کویډ نولس ناروغۍ له چټک خپراوي او لومړۍ مثبتې پېښې وروسته چې تر دې دمه د مثبتو پېښو شمېر له زرو لوړ شوی، هیڅوک په دې نه پوهېږي چې تلفات به یې څومره وي او کله به دغه ناروغي د ځمکې له مخې ورټولېږي. له کله راهیسې چې مرګونې پېښې رامنځته شوې د خلکو وېره نوره هم زیاته شوه او د رسنیزو اطلاعاتو تعقیبت ته یې لا پام شو. رسنۍ د کویډ نولس ساري ویروس د مخنیوي او مهارېدنې په موخه د اطلاعاتو سربېره د عامه پوهاوي په موخه لازمې سپارښتنې نشروي، چې په ټوله کې دغه چاره مثبته ارزیابي کېږي. په دې څېړنه کې د رسنیو د اړتیا او ارزښت سربېره دا پوښتنه مطرح کېږي، چې د کویډ نولس ناروغۍ په اړه عامه پوهاوی په افغان رسنیو کې څومره جدي او اړین ګڼل شوی دی. همدارنګه د کورونا ناروغۍ په اړه رسنیزې تصویري خپرونې څومره د خلکو له غوښتنو او باورونو سره سمې خپرېږي.

## د څېړنې موخې

- د طبعي افتونو او حوادثو په مهارولو کې د رسنیو ونډه معلومول؛
- په افغانستان کې د ملي تلویزیون له خوا د کورونا ساري ناروغۍ د ځانګړو خپرونو تحلیل؛
- د کویډ نولس ناروغۍ په اړه د ملي تلویزیون د خپرونو او د ولس د غوښتنو ارزونه.

## د څېړنې اهمیت

د دې څېړنې اهمیت په دوو برخو کې را لنډولای شو؛ لومړی دا چې دا څېړنه د انساني ناورینونو په ختمولو کې د رسنیو ونډې ته د چارواکو او ځایي خلکو پام راګرځوي، څو چارواکي په دغسې بحراني او سختو شرایطو کې د عامه پوهاوي په موخه د رسنیزو پیغامونو خپراوي ته لومړیتوب ورکړي او خلک د ټولیزو اړیکو د وسایلو له خوا له نشرېدونکو پیغامونو څخه اعظمي ګټه واخلي. دویم دا چې دا د خبرو اترو او متونو د تحلیل څېړنه خبریالانو او د رسنیو کارکوونکو ته د ځانګړو خپرونو په جوړولو کې د اغېزمنو نقاطو پام کې نیول روښانه کوي

چې ورسره به په تمامه معنی د پیغام د نفوذ ساحه پراخه او خپرونه د ځواکمنېدو پر لور درومي. سربېره پـر دې د رسنیو او اړیکو په برخه کې د ځانګړې څېړنیزې طریقې کارېدنه به یې لوستونکو او د مسلک مینه‌والو ته پـه زړه پورې وي.

## تېرو لیکنو ته کتنه

د طالبانو حکومت له سقوط وروسته، کله چې نوې موقتې ادارې په کار پیل وکړ، افغان رسنۍ په ډېر ابتدایي حالت کې وې. د راډیو او تلویزیون نشرات په ټپه ولاړ وو. ځکه خو داخلي او بهرنیو مرسته کوونکـو ادارو پـه دې برخه کې د پانګه اچونې او بلاعوضه مرستو ډېره علاقه‌مندي او خواخوږي درلوده. مـلي تلویزیـون لـومړی تلویزیون و، چې د نوي حکومت په راتلو سره د لومړي ځل لپاره یو سلو پنځوس تنو ( ۱۵۰ ) ژورنالستانو تـه پـه مسلکي برخه کې د ټرېننګ کوربه و. دغه ټرېننګ چې د انټرنیوز له خوا دایر شوی و، تر ډېره یې ګډونوالو ته د برنامو د محتوی جوړونې او په تخنیکي برخه کـې زدکـړې ورکـولې (Cary, 2012) . د مـلي تلویزیـون پخـوانۍ کاري سابقې ته په کتو نن سبا د کوېډ نولس نړۍوال بحران په رامنځته کېدو سره د خلکو ډېر پام دغه تلویزیـون ته ورګرځي. ځکه دوی داسې انګېري چې ګویا په ملي مسایلو کې به یې دقت او صحت تر نورو رسنیو غښـتلی وي.

د خوړو نړۍوال سازمان (WHO) د ۲۰۲۰ کال په لومړۍ میاشت کې د کورونـا ویـروس نـاروغۍ انتشـار د چین په هوبي (Hubi) ایالت کې اعلان کړ. د خوړو نړۍوال سازمان دا په ډاګه کړه، چې دغه ناروغي د چین په ښارونو کې پاتې کېدونکې نه ده او ټوله نړۍ له ګواښ سره مخامخ کولای شي. هماغه و چې دا نـاروغي د نـړۍ ډېرو هېوادونو ته ورسېده. نړۍوال روغتیایي سازمان او نورو نړۍوالو روغتیایي بنسټونو د دې ناروغۍ د مخنیوي په موخه لازمې سپارښتنې مخکې له مخکې تجویز کړې وې، څو د کوېډ نولس ناروغۍ د راتګ له مخه یـې د خپراوي مخنیوی شوی وي. د بېلګې په توګه ټولې هغه ساده لارې چارې چې د کوېډ نولس ناروغۍ د خپراوي مخنیوی کوي، څنګه کولای شو په غونډو او نورو رسمي پروګرامونو کې یې د خپراوي مخه ونیسو. پـه همـدې ډول د سفر پر مهال کومې لازمه سپارښتنې پکار ده عملي شي او تر ټولو مهمـه یـې دا چـې د ادارو رسـمي کـار کوونکي خپلو دفترونو ته له تګ مخکې او د کار په جریان کې کومې سپارښتنې په پـام کـې ونیـسي (WHO, 2020).

د ملګرو ملتونو د خوړو او کرنې نړۍوال سازمان (FAO) د کوېډ نولس ( COVID-19) ناروغۍ په جریـان کې د روغتیا او ښه صحت پام کې نیولو په اړه اړینې سپارښتنې خپرې کړې دي، چې په دې سپارښتنو کې یـې د ښه غذايي سیستم برابرولو دمخه د روغتیا نړۍوال سازمان او د دولتونو پر سپارښتنو ټینګار کړی، تر څو خلک د دغو ادارو اړینو مشورو ته غوږ شي او د دوی په سپارښتنو کې یې تر ټولو د وګړو تر منځ د فاصلې مراعتـول یـا (Physical Distancing) او د حفظ‌الصحت یا (Good Hygiene) مسایل تر ټولو مهم بللي. د خوړو او کرنـې نړۍوال سازمان ځینې د خوراک اړوند سپارښتنې هم په دغه بحراني حالات کې مهمې ګـڼلي دي، د بېلګـې پـه توګه د سبزي‌جاتو او تازه میوو خوړل، مایعات او ډېرې اوبه څښل او په ټوله کې حفظ‌الصحه مراعـت کـول. پـه همدې ډول د دخانیاتو نه کارونه تر ټولو مهمه ګڼلې، ورسره ورزش او له هر ډول رواني فشارونو ځان سـاتنه یـې

هغه سپارښتنې دي، چې پکار ده د ټولنې د وګړو له خوا په پام کې ونیول شي (Maintaining a healty diet during the COVID-19 Pandemic, 2020).

شانان په خپله مقاله کې د انفلوینزا ساري ناروغۍ ( Influenza epidemic ) په جریان کې د رسنیو رول تر څېړنې لاندې نیولی. نوموړي چې د یوې سروې له لارې یې دغه چاره پر مخ وړې، موندنې یې روښانه کوي، چې د انفلوینزا ساري ناروغۍ تلفات او نتیجه د رسنیو سره نیغ په نیغه تړاو لري. په دې معنی په هغو سیمو کې چې عامه پوهاوی ډېر رامنځته شوی وي هلته د یادې ساري ناروغۍ تلفات نسبت هغو سیمو ته په مراتبو کم دي چېرته چې د رسنیو له لارې عامه پوهاوی نه وي رامنځته شوی. خو د ټولیزو رسنیو په اړه بیا دغه نظر د مخکنیو مطالعو په نظر کې نیولو سره کاملا مخالف دی. په دې معنی چې د ساري ناروغیو په اړه د ټولیزو رسنیو د اطلاعاتو وحشت په مراتبو د ساري ناروغیو له وحشت څخه ډېر دی. ډاکتر مارتن او ملګرو یې په خپلې یوې تازه خپره شوې مقاله کې د ټولیزو رسنیو چټکو خپرونو ته کتنه کړې او ویلي یې دي، چې د ټولیزو رسنیو وحشت له کورونا ناروغۍ ډېر چټک خپرېږي. نوموړی په دې اند دیو چې په ټولیزو رسنیو کې چې څومره وېره خپرېږي دا به د خلکو په اذهانو منفي تاثیر وکړي او پکار نه ده، چې دومره وېره خپره شي. مارتن په خپله مقاله کې د روغتیا نړیوال سازمان (WHO) عمومي ډایرکټر (Director-General) ډاکتر ټېډروس (Dr. Tedros) له قوله ویلي، چې غلط معلومات او افواهات چې د وېرې او سرګردانۍ باعث کېږي د کورونا ناروغۍ په نسبت ډېر خطرناک او وحشت خپرونکي دي (Martin & Karafillakis, 2020) .

## د څېړنې پوښتنې

۱. د طبعي افتونو او حوادثو په جریان کې د رسنیو اهمیت او په مهارولو کې یې ونډه څه ده؟

۲. د ملي راډیو تلویزیون له خوا د کوېډ نولس ناروغي څومره اړینه او جدي ګڼل شوې ده؟

۳. د کوېډ نولس ناروغۍ په اړه د ملي تلویزیون خپرونې څومره د خلکو له غوښتنو سره برابرې دي؟

## په څېړنه کې کارېدونکې تیوري

د کښت تیوري (Cultivation Theory) ، په رسنیز ډګر کې هغه مهمه او د تطبیق وړ تیوري ده، چې له کلونو راهیسې له دغې تیورۍ د تلویزیوني خپرونو په جوړولو کې کار اخیستل کېږي. دغه تیوري په کال ۱۹۶۰ کې د اړیکو او رسنیو د مشهور عالم (George Gerbner) له خوا ایجاد شوه. د کښت تیوري په دې خبره تاکید کوي، چې د تلویزیون مسلسله او مکرره لیدنه د وخت په تېرېدو سره په اعتیاد بدلېږي او لیدونکي په مرور د زمان سره معتادېږي. هغه څه چې بیا بیا د تلویزیون په پرده ښکاري د لیدونکو په ذهن کې ځای نیسي- غوښتنې یې د کښت په څېر په انساني اذهانو کې راشنې کېږي. د دې تیورۍ پر اساس رسنۍ هغه څه خپروي، چې د لیدونکو له غوښتنو سره برابر وي، چې د وخت په تېرېدو سره دغه لیوالتیا په مستحکمه اړیکه بدلېږي (McQuail & Windahl, 1993). دا تیوري د Hypodermic Needle Theory سره په لږ څه تفاوت د تلویزیوني خپرونو په اړه څرګندونې لري او هغه دا چې H N T پر دې خبره ټینګار کوي، چې د تصویري رسنیو هغه موارد چې لیدونکي ورسره مخالف هم وي د وخت په تېرېدو او ډېر تکرار سره د لیدونکو مخالفت په رضایت بدلوي په داسې حال کې چې د کښت تیوري بیا د هغو خپرونو په نشر تمرکز کوي، چې د لیدونکو له

بارونو سره په مخالفت کې نه وي، خو پکار ده چې د هغوی په باور بدلې شي (Communication Theory, 2020).

## د څېړنې کړنلاره

د ډیالوګونو او متونو د تحلیل په دې کیفي څېړنه کې څېړونکی د طبعي افتونو او حوادثو د مهارولو په جریان کې د رسنیو د رول او اهمیت د اثبات لپاره له (Case Study) څېړنیز ډیزاین څخه په استفادې ملي تلویزیون انتخاب کړی دی. معلومه ده چې د ملي تلویزیون په خپرونو کې به بیا هغه خپرونې تر تحلیل لاندې نیول کېږي کومې چې د کوید نولس په اړه عامه پوهاوی خپروي. د دې څېړنې په رسنیز جمعیت کې چې ملي تلویزیون یې ټاکل شوی جمعیت دی د کورونا ویروس خپرېدلو د مخنیوي په موخه د عامه پوهاوي لپاره درې خپرونې د نمونې په ډول د تحلیل لاندې نیول شوي دي.

لومړی: سلام سهار مو نیکمرغه؛ دغه خپرونه چې هره ورځ د ملي تلویزیون له څپو د سهار له ۷ بجو تر نهو بجو خپرېږي یوه لویه برخه یې د کوید نولس ویروس په اړه عامه پوهاوي ته ځانګړې شوې ده. په دې خپرونه کې د هېواد بېلابېلو جغرافیایي موقعیتونو او حالاتو ته په کتو سره تر درې پورې عامفهمه مرکې خپرېږي، چې د کوید نولس اړوند ټول موارد رانغاړي.

دویم: خبري سروېس؛ د ملي تلویزیون د خبري سروېس له جملې څخه په دې څېړنه کې دغه څلور مهم وختونه په پام کې نیول شوي دي. د ورځې له خوا د لسو او دولسو بجو خبرونه او د شپې له خوا د اوو او اتو بجو خبرونه. په دې برخه کې د کوید نولس ناروغۍ په اړه د دولتي ذیربطو ارګانونو مطبوعاتي کنفرانسونه، اعلامیې، تولیدي راپورونه او نور اړونده مطالب شامل دي.

دریم: د کورونا په اړه ځانګړې خپرونه؛ دغه خپرونه چې د کورونا په نوم نومول شوې یوه معلوماتي خپرونه ده او له هغه مهاله چې د کورنا ویروس په افغانستان کې غزونې کړي، هره ورځ په دوه نیمو بجو یې پښتو او په څلور بجو یې دري خپرونه په ژوندۍ بڼه خپرېږي. له دغو درې خپرونو سربېره بېلابېلې خبرتیاوې هم له هغې راهیسې خپرېږي، چې دې ویروس په افغانستان کې پښې خښې کړي دي. د دقیقو ارقامو او د کوید نولس ناروغۍ په هکله د ځانګړو نشراتو لپاره د جوړې شوې کمېټې د کړنو په اړه د ملي تلویزیون د خبر برخې مسؤل بشیر صمیم سره مرکه شوې، چې دا مهال د یادې کمېټې مشري هم ور تر غاړې ده.

## موندنې یا پایله

دغه څېړنه چې درې پوښتنې یې تعقیب کړې دي، د هرې پوښتنې لپاره جلا موندنه لري او هرې موندنې ته یې د څېړنیزې پوښتنې په تعقیب سره په دې برخه وضاحت ورکړل شوی دی.

د څېړنې لومړۍ پوښتنې ( د طبعي افتونو او حوادثو په جریان کې د رسنیو اهمیت او په مهارولو کې یې رول څه دی؟) په نتیجه کې ویلای شو؛ د ملي تلویزیون له درې خپرونو (سلام سهار مو نیکمرغه، خبري سروېس او کورونا ځانګړې خپرونه) له مسلسل تعقیب وروسته دا نتیجه په لاس راځي، چې د حوادثو او طبعي افتونو په پیل او جریان کې یواځینۍ مرجع چې عام وګړي پرې باور کولای شي هغه سمعي، بصري او چاپي رسنۍ دي؛ نو ځکه د ټولنې ټول وګړي د رسنیو تازه معلوماتو او لارښوونو ته په تمه وي، کومې چې له همدې لارې د چارواکو او مسؤلینو له خوا وړاندې کېږي. د ټولیزو رسنیو په موجودیت کې د بصري رسنیو اهمیت او اعتماد نور هم

زیاتېږي ولې چې ټولیزې رسنۍ په اکثرو مواردو کې د خلکو د اعتماد وړ نه دي؛ نو له دې امله په دا شان اضطراري حالاتو کې رسنیو ته ډېر پام ورگرځي. دا چې د یوویشتمې پېړۍ انسانان په یوې داسې نړۍ کې ژوند کوي، چې د هرې ټولنې د وگړو نفوس ډېر زیات او ممکنه نه ده، چې د ټولیزو اړیکو له وسایلو پرته پکې، په یوه وخت عامه پوهاوی رامنځته شي؛ نو ځکه سمعي، بصري او چاپي رسنیو ته زیاته اړتیا لیدل کېږي. د طبعي افتونو په مهارولو کې د رسنیو د اغېز په اړه ویلای شو، چې د ملي راډیو تلویزیون د درې گونو ټاکل شویو خپرونو د سپارښتنو تحلیل روښانه کوي، چې همدغو سپارښتنو او وقایوي تدابیرو وکولای شو په هېواد کې ددې انساني ناورین په مهارولو کې پوره مرسته وکړي او که چېرته د رسنیو له لارې د ټولنې وگړو ته عامه پوهاوی نه وای ورکړل شوای؛ نو د تلفاتو او زیانونو شمېر به، په مراتبو لوړ وای. همدارنگه هغه وخت چې کوید نولس ویروس لا د چین په ووهان ښار پورې محدود و، د رسنیو د سریعو او دقیقو اطلاعاتو له امله دلته په هېواد کې عامه ذهنیتونه د دې ناروغۍ د وقایې او لازمو سپارښتنو په برخه کې نسبتا روښانه و، چې همدې اگاهي د ښارونو په قرنطینولو او د لویو لارو په تړلو کې د حکومت کار مخکې له مخکې اسانه کړی و.

د څېړنې د دویمې پوښتنې (د ملي راډیو تلویزیون له خوا د کوید نولس ناروغي څومره اړینه او جدي گڼل شوې ده؟) پایله چې د ملي راډیو تلوېزیون د درې گونو خپرونو د تحلیل په نتیجه کې رامنځته شوې، روښانه کوي چې د کوید نولس ناروغۍ په اړه عامه پوهاوي ته د لاندې جدول مطابق د خپرولو ټاکلي اوقات ځانگړي شوي دي.

| گڼه | د کورونا په اړه خپرونې | د پیل وخت | د پای وخت | د کورونا اړوند مطالب | مجموعي وخت |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | سلام سهار مو نېکمرغه | 07:00 AM | 9:00AM | تر درېوو مرکو | 60 min |
| ۲ | خبري سروېس | 10:00 AM | د اړتیا مطابق | د اړتیا مطابق | د اړتیا مطابق |
| ۳ | خبري سروېس | 12:00 PM | د اړتیا مطابق | د اړتیا مطابق | د اړتیا مطابق |
| ۴ | خبري سروېس | 07:00 AM | د اړتیا مطابق | د اړتیا مطابق | د اړتیا مطابق |
| ۵ | خبري سروېس | 07:00 AM | د اړتیا مطابق | د اړتیا مطابق | د اړتیا مطابق |
| ٦ | کورونا ( ځانگړې خپرونه) | 02:00 PM | 02: 30 PM | ټوله خپرونه | 30 min |
| ۷ | کورونا ( ځانگړې خپرونه ) | 04:00 PM | 04: 30 PM | ټوله خپرونه | 30 min |

د ملي رادیو تلویزیون له خوا د کوید نولس ناروغي د بېلابېلو خپرونو په خپرولو او د عامه پوهاوي په لوړولو سره د لیدونکو اړتیا پوره کړې ده او ټولې لازمې سپارښتنې د دې تلویزیون له لارې خپرېږي. په دې څېړنه کې چې کومې خپرونې د تحلیل په موخه ټاکل شوې دي، یوه یې د کورونا تر نامه لاندې معلوماتي خپرونه ده، چې هره ورځ یې دري خپرونه د ماسپښین په دوه بجو د نیم ساعت لپاره خپرېږي. په دغه خپرونه کې د کورونا ساري ناروغۍ د انتشار او سرایت د مخنیوي په موخه هره ورځ د هېواد په کچه د ناروغۍ اړوند خبرونه او راپورونه خپرېږي، چې پکې د نویو اخته شویو کسانو تازه ارقام او په بېلابېلو ولایاتو کې د چارواکو فعالیتونه او په مقابل کې یې د خلکو اندېښنې رابرسېره کېږي. په دې خپرونه کې د کورونا اړوند نړیوالو خبرونو سربېره ځایي مسؤل چارواکي یا د ساري امراضو متخصصینو ته بلنه ورکول کېږي. د بېلگې په توگه هغه خپرونه چې د ۱۳۹۹ل کال د حمل پر یودېرشمه نشر شوه د دوه بجو په خپرونه کې د افغانستان د روغتیا وزیر ډاکتر

فیروز الدین فیروز او د غور والي غلام ناصر خاضع میلمانه وو. همدارنگه په همدې نېټه د څلورو بجو په پښتو خپرونه کې يې بیا د داخله امراضو متخصص ډاکتر احمد فضل احمدزی د عامه پوهاوي لپاره ستوډیو ته ورغوښتی و. همدارنګه د ناروغی په اړه د حکومت د امکاناتو او اسانتیاوو ارزونه، د خلکو اندېښنې او د کاروبارونو په ټپه درېدل او داسې نورو ستونزو ته پاملرنه او له اړونده مسؤلینو سره شریکول د دې ساري ناروغۍ په اړه د ملي راډیو تلویزیون جدي موقف څرګندوي.

د څېړنې دریمه پوښتنې (د کوېډ نولس ناروغۍ په اړه د ملي تلویزیون خپرونې څومره د ټولنې له غوښتنو سره برابرې دي ؟) په نتیجه کې که څه هم د کورونا اړوند د ولس غوښتنې په پام کې نیول شوي او د هغوی د اړتیا اړوند ټولې لازمې سپارښتنې وخت په وخت نشرېږي ( د مثال په ډول په خبري سروېس کې اړونده خبرونو او راپورونو ته اولویت ورکول او د مسؤلینو او چارواکو مطبوعاتي کنفرانسونه تر پوښښ لاندې راوستل ) خو بیا هم یوه ډېره مهمه مسئله چې هغه د خوف او رجا تعادل ساتل دي څو د لیدونکو داخلي معافیتي سیستم هم د تعادل په حالت کې پاتې شي. دغه برخه په ملي تلویزیون کې په ښه معیار په پام کې نیول شوې وه. په دې معنی چې د خپرونو ماهیت يې د نشر لپاره داسې چمتو شوی، چې لیدونکې که له یوې خوا له کویډ نولس ناروغۍ څخه نه بې پروا کېږي له بلې خوا د وېرې او تشویش هغه حالت ته هم نه ځي، چې روحیه او د بدن معافیتي سیستم( Immune System) يې کمزوری شي. د خپرونو دغه تعادل ساتل څه اسانه خبره نه ده. ځکه چې انسانان د یوه داسې مغلق او پېچلي معافیتي سیستم درلودونکی دی، چې هر یو يې د جلا خصوصیاتو درلودونکی دی د کښت تیورۍ Cultivation theory پر اساس تلویزیون پر لیدونکو هرو مرو داسې تاثیر لري چې هغه د اعتیاد او میلان تر کچې رسولای شي، خو په عین وخت کې بیا همزمان په ټولنه کې لوی، واړه، ناروغان او کمزوي افراد ټول د تلویزیون خپرونې ګوري. د څېړونکي د مسلسل تعقیب وروسته، په ملي تلویزیون کې د څېړنې لپاره په ټاکل شویو خپرونو کې هغه خبرتیاوې ډېرې نشرېدې، چې سپارښتنې پکې ډېرې وې او د ګرافیک یا تمثیل په بڼه جوړې شوې وې. بالمقابل هغه خبرتیاوې چې وېرونکې وې ( لکه د کورونا په اړه د هغه چینایي فلم صحنې چې وګړي پکې پر ویروس د اخته کېدو له امله کړېږي) د پوهاوي ورکوونکو خبرتیاوو په نسبت کمې نشرېدلې.

**مناقشه**

څېړونکي د درې مهمو موخو په تکل یو شمېر اثار له مطالعې لاندې نیولي وو، چې له نېکه‌مرغه په دې څېړنه کې د انتخاب شوې نمونې خپرونې د رسنیزو علومو د ماهرینو له نظریاتو سره اړخ لګوي. د څېړنې د لومړۍ پوښتنې پایله او موندنې ښيي، چې د حوادثو او طبعي افتونو په پیل او جریان کې یواځېنۍ مرجع چې عام وګړي پرې باور کولای شي هغه سمعي، بصري او چاپي رسنۍ دي، چې له دې سره که له یوې خوا د رسنیو اهمیت روښانه کېږي له بلې خوا په طبعي افتونو او حوادثو کې رسنۍ د عامه پوهاوي تر ټولو غوره وسیلې بلل کېږي. د دې خبرې تائید د ډاکټر Dr. Roop Dave له خوا هم په خپله مقاله Role of Media in Disaster Managementکې په دې ډول شوی، چې رسنۍ د خلکو او ایمرجنسي ادارو تر منځ یو مستقیم تړاو ایجادوي، چې په سختو او بحراني شرایطو کې د دواړو تر منځ تړاو رامنځته کوي. په همدې ډول Shannon Collinson د خلکو په روغتیا او صحت د رسنیزو راپورونو د اغېز په هکله چې د خپرېدونکو یا ساري ناروغیو په وخت کې

رامنځته کېږي د رسنيو د اهميت په اړه څېړنه کړې ده. (Collinson & Khan, 2015) د خلکو په روغتيا او صحت کې د رسنيزو راپوروونو اغېز او رول ډېر مهم ګڼي؛ لکه هغه عامه پوهاوی چې په ۲۰۰۹ کال د افلوينزا په اړه خپور شوی و، چې په حقيقت کې همدې عامه پوهاوي د تلفاتو کچه ټيټه کړې وه ( H1N1 influenza 2009 swine flu pandemic/virus).

د څېړنې د دويمې پوښتنې موندنې روښانه کوي چې ملي راديو تلويزيون د کويډ نولس ناروغي په اړه د بېلابېلو خپرونو په خپرولو او د عامه پوهاوي په لوړولو سره د ليدونکو اړتيا ته ځواب وايي. همدارنګه ټولې هغه لازمې سپارښتنې چې د يوه بحراني حالت لپاره پکار دي، د دې تلويزيون له لارې خپرېږي. د (Cary, 2012 ) راپور له مخې هم دا خبره په ډاګه کېږي، چې ملي راديو تلويزيون د نورو رسنيو په پرتله مالي ملاتړ ډېر لري او دولتي حمايت يې هم پر نشراتو اغېز لرلای شي. همدا لامل دی، چې په ملي مسائلو کې پکار ده تر نورو هغو ډېره ونډه واخلي او په دې برخه کې رغنده رول ولوبوي.

د څېړنې د درېيمې پوښتنې موندنې روښانه کوي، چې د کورونا اړوند ټولې اړينې سپارښتنې چې د ټولنې غوښتنه ده، د معافيتي تعادل په پام کې نيولو سره د ملي تلويزيون له لارې خپرې شوې دي. په دې معنی چې د خپرونو ماهيت يې د نشر لپاره داسې چمتو شوی، چې ليدونکي که له يوې خوا له کويډ نولس ناروغۍ څخه نه بې پروا کېږي له بلې خوا د وېرې او تشويش هغه حالت ته هم نه ځي، چې روحيه او د بدن معافيتي سيستم( Immune System) يې کمزوری شي. دغه ډول سپارښتنې د روغتيا نړۍوال سازمان ( HWO ) او نورو صحي سازمانونو اساسي غوښتنه ده او پکار ده، چې رسنيز عامه پوهاوی په داسې شکل تر سره شي څو د بدن معافيتي سيستم ورسره قوي شي او د ناروغۍ پر وړاندې يې مقاومت زيات شي (CDC, 2020). دا چې د بدن عضوي سيستم د خوراک په ذريعه تقويه کېدلای، چې دغه تقويه پخپله د معافيتي سيستم تقويه کوونکې ده؛ نو پکار ده چې د روحي او رواني پياوړتيا په ذريعه هم د بدن معافيتي سيستم پياوړی شي. دغه مسائل د دې غوښتونکې دي، چې عامه پوهاوی دې هم نسبي وي په دې معنی چې دومره وېره دې هم نه خپروي، چې د انسانانو په روان بد تاثير وکړي او يوه بحران ته دې په دومره عادي نظر هم نه ګوري، چې په انسانانو کې غفلت رامنځته شي. همدا علت دی، چې په دې وروستيو کې د روغتيا نړۍوال سازمان له هنرمندانو، ممثلينو او مدني فعالانو غوښتي څو دغې موضوع ته داسې پوښښ ورکړي، چې د خلکو لپاره ډېره وېرونکې تمامه نه شي (World Health Organization , 2020).

**پايله اخيستنه**

د ډيالوګونو او متونو د تحليل دغه کيفي څېړنه چې د طبعي آفتونو او حوادثو په مهارولو کې د رسنيو پر ونډه راڅرښي په افغانستان کې يې د کويډ نولس ناروغۍ بشري ناورين ته کتنه کړې ده. په دې کېس سټډي څېړنيز ډيزاين کې د ملي راډيو تلويزيون درې مهمې خپرونې راخيستل شوې دي. د سلام سهار مو نېکمرغه خپرونه؛ دغه خپرونه چې هره ورځ له ملي تلويزيون څخه د سهار له ۷ بجو څخه تر نهو بجو خپرېږي يوه لويه برخه يې کويډ نولس ويروس په اړه عامه پوهاوي ته ځانګړې شوې ده. په دې خپرونه کې د هېواد په بېلابېلو جغرافيايي موقعيتونو او حالاتو ته په کتو سره تر درې مرکو پورې عامفهمه مرکې خپرېږي. دويم کورني او بهرني خبرونه؛ د ملي تلويزيون د خبري سروېس له جملې څخه په دې څېړنه کې دغه څلور مهم وختونه په پام

کې نیول شوي دي. د ورځې له خوا د لسو او دولسو بجو خپرونه او د شپې له خوا د اوو ۷ او اتو بجو خبرونه. په دې برخه کې د کوېډ نولس ناروغۍ په اړه د دولتي ذیربطو ارګانونو مطبوعاتي کنفرانسونه، اعلامیې، تولیدي راپورونه او نور اړونده مطالب شامل دي. د کورونا په اړه ځانګړې خپرونه؛ دغه خپرونه چې د کورونا په نوم نومول شوې، یوه معلوماتي خپرونه ده او له هغه مهاله چې د کورنا ویروس په افغانستان کې غځونې کړې، د ورځې له خوا پښتو خپرونه یې په دوه نیمو او دري خپرونه یې پر څلور نیمو بجو ژوندۍ خپرېږي. له دغو درې خپرونو سربېره په بېلابېلو ډولونو سره د عامه پوهاوي نورې خبرتیاوې هم له هغه راهیسې خپرېږي، چې دې ساري ویروس په افغانستان کې پښې خښې کړې دي. د څېړنې موندنې روښانه کوي، چې د ورته بحراني حالاتو په مهارولو کې د عامه پوهاوي په خپرولو سره د رسنیو ونډه ډېره ده. همدارنګه د موضوع په اړه د ملي تلویزیون جدیت له هغو خپرونو ښکاري، چې د عامه پوهاوي او تازه اطلاعاتو په موخه یې ځانګړي کړي دي. د موضوع اړوند عامه پوهاوي په خپرولو کې د وېرې او هیله‌مندۍ تعادل ساتنه هم د خپرونو له څېړلو وروسته جوته شوه.

**وړاندیزونه**

- د رسنیو په بېلابېلو خپرونو کې د تعادل ساتنې موضوع د نورو څېړنو لپاره اړینه ده.
- د رسنیزو عامه پوهاوي خپرونې پکار ده مذهبي او کولتوري ارزښتونه په پام کې ونیسي. دغه موضوع په سنتي ټولنو کې ډېره د پام وړ او د خپرونو د نفوذ ساحه پراخه کولای شي.
- رسنیز عامه پوهاوی پکار ده د ښار د اوسېدونکو سربېره د بانډو او لرې پرتو سیمو اوسېدونکي لپاره د هغوی د ژوند د امکاناتو په پام کې نیولو سره ترسره شي.

# References


Cary, P. (2012). *An Explosion of News: The State of Media in Afghanistan.* Kabul : CIMA;Center for International Media Assistance& NED; National Endowment for Democracy.

CDC. (2020, 4 21). *cdc.gov*. Retrieved from Centers for Disease Control and Prevention: https://www.cdc.gov/coronavirus/2019-ncov/daily-life-coping/managing-stress-anxiety.html#everyone

Collinson, S., & Khan, K. (2015). The Effects of Media Reports on Disease Spread and Important Public Health Measurements. *Global Public Health Intelligence Network (GPHIN)*, 1-21.

Communication Theory. (2020, 4 21). *All About Theories for Communication*. Retrieved from https://www.communicationtheory.org: https://www.communicationtheory.org/magic-bullet-or-hypodermic-needle-theory-of-communication/

Depoux, & martin. (2020). *The Pandemic of Social Media Panic Travels Faster Than the COVID-19 Outbreak.* Paris: Center Virchow-Villerme, France .

Japan International Cooperation Agency. (2013). *The Project for Improvement of TV Broadcasting Equipment in Kabul and The Project for Improvement of TV Broadcasting Facilities in Kabul.* Kabul: Japan International Cooperation System.

*Maintaining a healty diet during the COVID-19 Pandemic*. (2020, March 27). Retrieved from Food and Agriculture Organization fo the United Nations: www.fao.org/yunga/resources/challenge-badges/nutrition/en/

Martin, S., & Karafillakis, E. (2020). The pandemic of social media panic travels faster than the COVID-19 outbreak. *Travel Medicine*.

McQuail, D., & Windahl, S. (1993). *Communication Models for the Study of Mass Communication.* London: Longman. Retrieved from https://masscommtheory.com/theory-overviews/cultivation-theory/

Tolo News. (2019, April 16). *Tolonews.com*. Retrieved from https://tolonews.com/afghanistan/suspects-sentenced-death-killing-journalist-kandahar

Tolonews. (2020, April Monday 20). *Health*. Retrieved from tolonews.com: https://tolonews.com/health/30%C2%A0new-covid-19-confirmed-cases-afghanistan-total-1026

WHO. (2020, March 3). *World Health Organazation* . Retrieved from www.who.int: https://www.who.int/emergencies/diseases/novel-coronavirus-2019

World Health Organization . (2020, April 17). *WHO*. Retrieved from https://www.who.int/dg/speeches/detail/who-director-general-s-opening-remarks-at-the-media-briefing-on-covid-19---17-april-2020

پوهنیار یوسف مومند
کمپیوټر ساینس پوهنځی

# پر معلوماتي ټکنالوجۍ د کورونا (کووېډ-۱۹) اغېزې

**لنډیز**

د کورونا ناروغي، چې په لومړي ځل د ۲۰۱۹ کال د دسمبر په میاشت کې د چین په ووهان ښار کې راښکاره شوه او میلیونونه انسانان پرې اخته شول. دغه ویروس له معمولي زکام نیولې تر جدي میکروبونو، تنفسي ناروغیو، ځان درد، ستوني درد او نورو سندرومونو لامل کېدای شي. د کورونا ناروغۍ د ټولې نړۍ د خلکو د ژوند چارې متاثره کړي، کارونه په ټپه ولاړ دي، ښوونځي، پوهنتونونه، لوی مارکېټونه او تفریحي ځایونه بند دي. د کورونا ناروغۍ د لا زیات خپرېدو او مخنیوي لپاره په زیاتو ښارونو کې قرنطین او بېړنۍ حالت اعلان شوی. کورونا ناروغي د ټولې نړۍ لپاره یوه ستره ازموینه ده؛ له دې سره سره د ډېرو هېوادونو لپاره یو چانس دی، چې له دغه ستونزمنې ازموینې څخه د راتلونکي لپاره یو بنیادي سیستم جوړولو باندې کار وکړي او د ټکنالوجۍ پر مټ یو ښه جوړښت رامنځته کړي، تر څو په راتلونکي کې هم له دغه جوړښت څخه دایمي ګټه پورته شي.

**کلیدي کلمې:** معلوماتي ټکنالوجي، کورونا ویروس، برېښنایي زده‌کړې، کووېډ- ۱۹، وبا

**سریزه**

پر معلوماتي ټکنالوجي د کورونا اغېزو تر څېړلو وړاندې اړینه ده، چې د کورونا په مفهوم پوه شو او په اړه یې اړین پوهاوی رامنځ ته شي.

کورونا ویروسونه د ویروسونو ستره کورنۍ ده، دغه ویروسونه له معمولي زکام نیولې تر جدي میکروبونو، تنفسي ناروغیو، ځان درد، د ستوني درد، سندروم ... او د ډېرو نورو ناروغیو لامل کېدای شي.

د کورونا تازه رامنځته شوی ویروس، چې د چین په ووهان ښار کې یې ظهور وکړ، وژونکی ویروس دی؛ لومړنۍ نښې نښانې یې زکام، ځان درد او انفلونزا دي، کله چې په وجود کې ځان قوي کړي، د تنفسي سیستم د میکروبي کېدو لامل کېږي، هغه څه چې د کورونا ویروس په نویو ناروغانو کې لیدل شوي، د سږو میکروبي کېدل او د تنفسي سیستم مشکلات دي.

د کورونا دغه نوی ویروس SARS-CoV-2 او هغه نوې بیماري، چې له همدې ویروس را پیدا کېږي، د COVID-19 په نوم یادېږي (WHO, 2020).

د کورونا ناروغۍ تر ټولو لویه اغېزه د روغتیا په برخه کې لیدل کېږي. تر دې دمه د نړۍ درې میلیونه وګړي په دغې وبا اخته شوي. کورونا ناروغۍ تر دې دمه شاوخوا دوه سوه زره تنه وژلي دي. ( WorldoMeters, 2020)

ددغې ناروغۍ د خپرېدو د مخنیوي په پار ډېری ښارونه قرنطین شوي او د ژوند چارې په ټپه ولاړې دي. د ښارونو قرنطین شاید د کورونا ناروغۍ د خپرېدو مخه تر یوې اندازې ونیسي، خو بلې خوا ته یې په اقتصاد ډېره منفي اغېزه کړې ده.

د ټکنالوجۍ ډګر هم ددغې وبا څخه په امان کې پاتې نه دی؛ د نړیوالې معلوماتي ادارې (IDC) د وړاندوینې پر بنسټ ۲۰۲۰ کال کې به د معلوماتي ټکنالوجۍ بازار ۳ څخه تر ۴ په سلو کې کمښت سره مخ شي (2020). د معلوماتي ټکنالوجۍ د هارډویر برخه تر ټولو ډېره متاثره شوې، په ځانګړې توګه د خامه موادو تولید په ډېرو هېوادونو کې په ټپه ولاړ دی، چې اوږد مهاله اغېزې به له ځان سره ولري. یوه بېلګه یې د ایپل کمپنې ده، چې اټکل کېږي د آی فون مارکېټونه به د تولیداتو لس سلنه کموالي سره مخ شي. ( Regulating in (Pandemic: Evaluating Economic and Financial, 2020

د کورونا ناروغۍ له خپرېدو سره یو ځای د زیرک تیلیفونونو (سمارټ فون) بازار هم اغېزمن شوی دی، د بېلګې په توګه پلورونکو د ۲۰۲۰ کال فبروري میاشت کې د تېر کال فبروري په پرتله ۳۷،۴ میلیونه کم مبایلونه او ټابلیټونه لېږلي. دلته له لېږلو څخه موخه له تولیدوونکي شرکت څخه پېرل او انتقالول دي، چې له دې څخه د کورونا ناروغۍ لومړنۍ اغېزې د ټکنالوجۍ پر مارکېټ په ډاګه کېږي(2020) .

بل خوا د سافټ ویر په برخه کې معلوماتي ټکنالوجي ډېره پرمخ تللې، چې په دې برخه کې پر لیکه پلورلو، زده کړې، اداري ناستې او عامه پوهاوي لپاره کارېدونکي سافټ ویرونو تر ټولو لوی بازارونه پیدا کړي دي.

## د موضوع ارزښت

څرنګه چې په ګران هېواد افغانستان کې اوس مهال ځوانان د ساینس او ټکنالوجۍ سره ډېره علاقه لري او ورځ تر بلې د ټکنالوجۍ مینه وال مخ په زیاتېدو دي او همدارنګه زمونږ ګران هېواد کې لکه د نورو هېوادونو په څېر کورونا ناروغي خپره شوې ده او د معلوماتي ټکنالوجۍ،تعلیمي ادارې او تجارت یې په هېواد او نړۍ کې زیانمن کړی، نو مونږ هم ښه وګڼله، چې د کورونا ( کوویډ-۱۹) اغېزې پر معلوماتي ټکنالوجۍ تر سرلیک لاندې یوه مقاله ولیکو.

## د څېړنې پوښتنه

معلوماتي ټکنالوجي د کورونا له ویروس څخه څنګه متاثره شوې ده؟

## د څېړنې موخې

کورونا ناروغي د ټولې نړۍ لپاره یوه ستره ازموینه ده، د دې سره سره د ډېرو هیوادونو لپاره یو فرصت دی، چې له دغه ستونزمنې ازموینې څخه د راتلونکي لپاره یو بنیادي سیستم جوړولو باندې کار وکړي. د ټکنالوجۍ پر مټ یو ښه جوړښت رامنځته کړي، تر څو په راتلونکې کې هم له دغه جوړښت څخه دایمي ګټه پورته شي.

## د څېړنې مواد او کړنلاره

دا څېړنه کتابتوني ده، چې په اړه یې ګټور معلومات له کره سرچینو او انټرنیټي پاڼو څخه راټول او د مقالې په مناسبو ځایونو او بېلابېلو پراګرافونو کې په منظم ډول سره ځای پر ځای شوي دي. د لیکنې ژبه روانه، ساده او د معلوماتي ټکنالوجۍ مینه وال کولی شي، چې په اسانۍ سره ترې ګټه واخلي.

**د کورونا (کوویډ۱۹-) اغېزې**

د کورونا له وېرې په ډېرو ښارونو کې په ازاد گرځېدلو او د ډېرو خلکو په یوه ځای کې راټولیدلو هم بندیزونه لگېدلي. د دغو بندیزونو له وجې ښوونځي او پوهنتونونه او د زده کړو ټول مرکزونه بند دي. دغه بندیزونه او قرنطینونو کلک ساتل د کورونا ناروغۍ د لا زیاتې خپرېدو د مخنیوي لپاره ډېره اړینه بلل شوې ده، چې معلوماتي ټکنالوجي په دغه برخه کې ډېر لوی رول لوبوي.

ددغه ویروس د خپرېدلو مخه باید ونیول شي، ددې لپاره باید قرنطین ټینگ وساتل شي، د اړتیا په وخت کې ښوونځي وتړل شي، دولتي او شخصي ادارات باید وتړل شي او یا یې کارونه محدود شي او د لوی صحي ناورین تر څنگ لوی اقتصادي تاوان لپاره هم امادگي ونیول شي.

د ښوونځیو تړلو سره زده کوونکي په کورونو کې پاتېشي، خو زده کړه باید ادامه ولري. معلوماتي ټکنالوجي ددغسې ناورینونو په وخت کې خپله اغېزمنتیا ښکاره کوي. د معلوماتي ټکنالوجۍ پر مټ د نړۍ ډېرو هېوادونو کې پر لیکه زده کړه روانه ده. د ویډیو کانفرانسونو لپاره کاریدونکي مشهور اپلیکیشنونه اوسمهال د پر لیکه زده کړو لپاره کارول کېږي؛ د بېلگې په توگه د گوگل میټ اپلیکیشن، د زووم اپلیکیشن، گوگل کلاس روم، وټس اپ گروپونه او د مایکروسافټ ټیم اپلیکیشن په دې خاطر کارول کېږي. له دې سربېره زیاتره لویو تعلیمي ادارو خپل ځانگړي سافټویرونه د پر لیکه زده کړې لپاره کاروي (2020) .

دا چې معلومه نه ده، د کورونا ناروغي به ښوونځي او پوهنتونونه تر کومې نېټې تړلي وساتي، دلته د اکاډمیک نقطې نظر څخه دا پوښتنه مطرح کېږي، چې زده کوونکي به په دې موده کې څه کوي. په ټولو اروپایي هېوادونو کې معلوماتي ټکنالوجي د حل لارې په توگه وړاندیز کېږي. دا چې دا تگلاره به څومره اغېزمنه وي، یوازې د کورونا وژونکي وبا د ختمېدو څخه وروسته پوهېږو، اوس همدا یوازینۍ لاره ښکاري.

د معلوماتي ټکنالوجۍ پر مټ وسایلو ته لاسرسی په ټولو هیوادونو کې، چې د کورونا ناروغۍ له وجهې اغېزمن شوي، یو ډول نه دی، په دې لیکه کې داسې هېوادونه هم شته، چې پر لیکه زده کړې لپاره د اړتیا په اندازه انټرنیټ نه لري. په ځینو هېوادونو کې زده کوونکي ځیرک تلیفونونه، کمپیوټر او یا نور داسې وسایل نه لري، چې پر لیکه زده کړو موادو څخه په کې گټه واخلي؛ حتی داسې هېوداونه هم شته، چې د زده کوونکو لپاره په محلي ژبو باندې د زده کړې مواد په کې نه شته.

**په افغانستان کې معلوماتي ټکنالوجي**

بدبختانه افغانستان هم یو له هغه هېوادونو څخه دی، چې معلوماتي ټکنالوجي ته لاسرسی پکې ستونزمن دی. زده کوونکي د وسایلو نه شتون سره مخ دي، ډېری زده کوونکي او یا نور خلک ځیرک تلیفونونه او یا کمپیوټر نه لري. انټرنیټ ته لاسرسی یوه عمومي ستونزه ده. د انټرنیټ لوړ قیمت او ټیټ کیفیت په کې لویه ستونزه ده. سربېره پر دې په افغانستان کې پر لیکه زده کړې لپاره په پښتو او دري ژبو د زده کړې زېرمې هم نه لرو، تر څو زده کوونکي ورڅخه گټه پورته کړي. دا چې پورته مو یادونه وکړه، په دغو حالاتو کې د زده کړو یوازینۍ لاره له لیرې واټن څخه پر لیکه زده کړه ده. ټولو هېوادونو ته یوه موقع ده، چې پر لیکه زده کړو لپاره د زده کړو زېرمې او د اړتیا وړ وسایل برابر کړي. د افغانستان دولت او تعلیمي ادارو ته هم یوه ښه موقع ده، چې پر لیکه زده کړو لپاره د زده کړو مواد برابر کړي. همدارنگه دولت ته هم ښه موقع ده، چې د انټرنیټ ستونزه، چې په

دغه سخت حالت کې تر پخوا ډېره اړتیا ورته لیدل کېږي، حل کړي او انټرنیټ ته د خلکو لاسرسی اسان او د انټرنیټ کیفیت ته ډېره پاملرنه وکړي.

د نړۍ په ډېرو ښارونو کې د قرنطین سره کاروبار په ډېرو برخو کې په ټپه ولاړ دی، یوازې د خوراکي توکو مارکېټونه خلاص دي. خوراکي توکو نه پرته نور مارکېټونه یوازې پر لیکه پلورلو اسانتیاوې وړاندې کوي، چې دغه اسانتیاوې هم د معلوماتي ټکنالوجۍ له برکته ممکنې دي.

د کورونا ویروس د مخنیوي لپاره تر ټولو اړین عامه پوهاوی دی، خلک د دې ویروس له ځانګړتیاوو خبرول، چې څنګه دغه ویروس خپرېږي؛ کوم ابتدایي تدابیر باید هر شخص او کورنۍ په نظر کې ونیسي، تر څو په دغه ویروس اخته نه شي، کومو ځایونو ته باید لاړ نه شي او کومو حالاتو کې باید روغتون ته مراجعه وکړي. په دغه برخه کې معلوماتي ټکنالوجي او خواله رسنیو ډېر مهم رول لوبولی او لا هم جریان لري. په مشهورو خواله رسنیو لکه ټویټر، فیسبوک، انسټاګرام او ټیک ټاک باندې خلک او ادارات په عامه پوهاوي بوخت دي.

په قرنطین کې تر ټولو لویه ستونزه د زړه تنګ والی دی، دا چې له ملګرو سره ناسته ولاړه نه شته، د خپلو خپلوانو او دوستانو تګ راتګ هم نه وي. معلوماتي ټکنالوجي په دغه وخت کې ډېر لوی رول لوبوي. له خپلوانو او دوستانو سره کولای شو، چې پر لیکه خبرې وکړو، هغوی وګورو او د زړه خواله ورسره وکړو. له دې سره کولای شو، چې د خپلې خوښې مضامینو کې مطالعه او زده کړه وکړو.

دا چې کورونا ناروغي به کله مهار شي، معلومه نه ده، خو یوه خبره معلومه ده، چې ملتونه به له یوې ستونزمنې او لویې ازموینې څخه تېر شي؛ ستونزې او ازموینې له ځان سره تجربې راوړي، چې د دغې ازموینې په لړ کې باید دولت د خلکو د ساتنې او د هېواد ورځنیو چارو پر مخ وړلو لپاره یو لړ کارونه وکړي. دولتونه مسؤلیت لري، چې د هېواد د وګړو د روغتیایي اسانتیاوو سربېره د ورځني ژوند لکه زده کړې، د اولیه موادو پېر او پلور، عامه پوهاوی او د خلکو سره په اړیکه کې اوسېدلو لپاره د پر لیکه اسانتیاوو په برخه کې کوټلي ګامونه پورته کړي. یوه بېلګه یې د زده کوونکو لپاره د پر لیکه زده کړو د اسانتیاوو برابرول دي. که د پرمختللو هېوادونو پر لیکه زده کړو سیستمونو ته وګورو نو دغه سیستمونه افغانستان او افغانستان ته ورته وروسته پاتې هېوادونو ته ښه بېلګه کېدلی شي.

لومړی باید په محلي ژبو د زده کړو مواد برابر شي، تر څو زده کوونکي ورباندې پوه شي. دغه مواد باید په ویډیویي، غږیز او لیکنۍ بڼه برابر شي؛ له دې سره سره باید ښوونکي د پر لیکه زده کړې ورکولو لپاره یو مېکانېزم جوړ کړي. پر لیکه او یا ویډیو کانفرانس له لارې تدریس کولو لپاره باید اماده ګي ونیسي. زده کوونکو ته د کورنۍ دندو برابرول، پروژې ورکول او د اړتیا په وخت کې پر لیکه ازموینې اخیستلو لپاره هم تیاری ونیول شي.

دویم زده‌کوونکو ته ددغه موادو د رسولو لپاره داسې یو اپلیکېشن جوړ شي، چې کارول یې اسانه وي او که ددغسې اپلیکیشنونو جوړول ستونزمن کار وي، نو د نړۍ‌والو پېژندل شویو اپلیکېشنونو سره دې تړون لاسلیک کړي. د بېلګې په توګه د مایکروسافټ ټیم اپلیکېشن د پر لیکه زده کړو لپاره ډېر ښه سیستم لري او یا هم د زوم اپلیکېشن او یا هم د ګوګل میټ له لارې او یا دې ته ورته نور پېژندل شوي سیستمونو څخه کار واخیستل شي.

درېیم د انټرنیټ اسانتیاوې برابرول دي. په ۲۰۲۰ کال کې د کمزوري انټرنیټ بهانې هیڅ د منلو وړ نه دي، ځکه ډېرى نړېوال شرکتونه انټرنیټ پلوري او که دولت وغواړي، نو ښه انټرنیټ هم پېرلى شي. دولت باید د زده کړې لپاره کارېدونکي اپلیکېشن لپاره وړیا انټرنیټ برابر کړي. دا په دې معنى ده، چې باید د انټرنیټي اسانتیاوو برابرونکي شرکت سره دولت تړون وکړي او د پورته یاد شوي اپلیکېشن لپاره د زده کوونکو او ښوونکو لپاره نامحدود انټرنیټ وپېري.

## پایله

دغه پورته یاد شوي کارونه یوازې د کورونا ناروغۍ او قرنطین په لړ کې ګټور نه تمامېږي، بلکې دا به یو دایمي جوړښت او د زده کړې لپاره یو بې سارى خدمت وي. د کورونا ناورین باید په فرصت واړوو او د کورونا لپاره د ځانګړې شوې بودجې څخه د هېواد اکاډمیکې کورنۍ لپاره دغه خدمت وکړو. همدارنګه د پر لیکه پېر او پلور لپاره زمینه برابره شي او د نغدو پیسو په ځای د برېښنایي پیسو او یا د بانکي حسابونو دود عام شي.

## مناقشه

د ښوونځیو تړلو سره زده‌کوونکي په کورونو کې کېني، خو زده کړه باید ادامه ولري. معلوماتي ټکنالوجي د دغسې ناورینونو په وخت کې خپله اغېزمنتیا ښکاره کوي. د معلوماتي ټکنالوجۍ په مټ د نړۍ ډېرو هېوادونو کې پر لیکه زده کړه روانه ده او د ویډیو کانفرانسونو له لارې د پر لیکه زده کړه کېږي، چې په دې سربېره ډېرې لویې ښوونیزې ادارې خپل ځانګړي سافټویرونه د پرلیکه زده کړې لپاره کاروي (2020) .

د کورونا ناروغۍ له خپرېدو سره یو ځای د زیرک تیلیفونونو (سمارټ فون) بازار هم اغېزمن شوی دی، د بېلګې په توګه پلورونکو د ۲۰۲۰ کال فبروري میاشت کې د تېر کال فبروري په پرتله ۳۷،۴ میلیونه کم مبایلونه او ټابلیټونه لېږلي، چې له دې څخه د کورونا ناروغۍ لومړنۍ اغېزې د ټکنالوجۍ پر مارکېټ په ډاګه کېږي .(2020)

کورونا ویروس زمونږ ګران هېواد کې هم تعلیمي ادارې او د معلوماتي ټکنالوجۍ بازار زیانمن کړی، زمونږ دولتي او غیر دولتي تعلیمي ادارې هم لکه د نورو هېوادونو په څېر پرلیکه خپل محصلینو ته زده کړې ورکوي.

## پایله اخیستنه

د کورونا ویروس د مخنیوي لپاره تر ټولو اړین عامه پوهاوی دی، خلک ددې ویروس له ځانګړتیاوو خبرول، چې څنګه دغه ویروس خپرېږي، کوم ابتدایي تدابیر باید هر شخص او هره کورنۍ په نظر کې ونیسي، تر څو په دغه ویروس اخته نه شي. په دغه برخه کې معلوماتي ټکنالوجي او خواله رسنیو ډېر مهم رول لوبولی او لوبوي یې. په مشهورو خواله رسنیو لکه ټویټر، فیسبوک، انسټاګرام، او ټیک ټاک باندې خلک او ادارات په عامه پوهاوي بوخت دي.

په آخره کې باید یادونه وکړو، چې خپل ځان او کورنۍ له کورونا څخه خوندي وساتو، پر کور پاتې شو او د معلوماتي ټکنالوجۍ پر مټ، چې نړۍ یې په یوه کوچني کلي بدله کړې ده، ګټه پورته کړو او ورځنۍ چارې له لیرې واټن څخه پرلیکه په معقوله او مؤثره بڼه واړوو.

## References


**2020.** IDC. [Online] 04 20, 2020. [Cited: 04 20, 2020.] https://www.idc.com/getdoc.jsp?containerId=prUS46123520.

*Regulating in Pandemic: Evaluating Economic and Financial.* **Hiba Hafiz, Shu-Yi Oei , Diane M. Ring, Natalya Shnitser . 2020.** 2020, Boston College Law School Faculty Papers.

**2020.** statista.com. [Online] 04 20, 2020. [Cited: 04 20, 2020.] https://www.statista.com/statistics/269049/global-pc-shipment-forecast-since-2009/.

**2020.** towardsdatascience. [Online] 04 20, 2020. [Cited: 04 20, 2020.] https://towardsdatascience.com/how-china-nailed-the-coronavirus-using-technology-77703dc94a37.

**WHO. 2020.** WHO Official website. [Online] April 20, 2020. [Cited: 04 20, 2020.] https://www.who.int/emergencies/diseases/novel-coronavirus-2019.

**WorldoMeters. 2020.** WorldoMeters. [Online] 04 20, 2020. [Cited: 02 20, 2020.] https://www.worldometers.info/coronavirus/.

پوهنیار هجرت الله اختیار
د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی

# د نړۍوالو حقوقو له نظره بیولوژیکي او کېمیاوي جگړې او د کورونا ویروس قضیه

**لنډیز**

بیولوژیکي او کېمیاوي جگړې د بیولوژیکي او کېمیاوي وسلو په واسطه ترسره کېږي. بیالوژیکي او کېمیاوي وسلې په لابراتورونو کې جوړې شوې هغه پدیدې دي، چې انسان، حیوان او یا هم نبات ته د لنډمهالي و اوږدمهالي زیان او یا هم د هغو د له منځه تگ باعث کېږي. د شلمې پېړۍ د دوو نړۍوالو جگړو په ترڅ کې متخاصمو دولتونو یو د بل په مقابل کې له بیولوژیکي او کېمیاوي وسلو څخه کار واخیست، چې په نتیجه کې یې زرگونه کسان لنډمهاله او اوږدمهاله معلول او یا هم له منځه لاړل. په همدې خاطر له لومړۍ نړۍوالې جگړې وروسته د ملتونو ټولنې او له هغې وروسته د ملگرو ملتونو سازمان د بیولوژیکي او کېمیاوي جگړو د مخنیوي او د دولتونو ترمنځ د دې جگړو لپاره د وسلو جوړولو د سیالۍ د راکمولو یا له منځه وړلو په پار نړۍوال حقوقي سندونو (پروتوکول، پرېکړه لیکونه، کنوانسیونونه) رامنځته کړل.، چې دا هر سند یو د بل متمم دی او غړي دولتونه یې د بیولوژیکي او کېمیاوي وسلو له جوړولو، تر لاسه کولو، نورو ته لېږدولو او زېرمه کولو څخه منعه کړي دي. له دې ټولو سره سره بیا هم دولتونه یو پر بل باندې بې باوره دي. ښه بېلگه یې په دې وروستیو کې له چین څخه د کورونا ویروس خپرېدل دي، چې د چین او متحده ایالاتو په اړیکو کې یې د شک او توطیې یو نوی څپرکی پرانیست. متحده ایالات فکر کوي، چې چین دا ویروس په مصنوعي توگه په لابراتور کې جوړ کړی او بیا یې د دغه هېواد او نورو په مقابل کې خپور کړی. چین هم په ورته شک کې دی او فکر کوي، چې دا ویروس د متحده ایالاتو په لابراتور کې جوړ شوی او دغه هېواد ته راوړل شوی دی. خو له یو لوري څخه هم دغه ادعا لا ثابته شوې نه ده. که څه هم کورونا ویروس کابو ټولې هغه ځانگړنې په ځان کې لري، چې د یوې بیالوژیکي وسلې لپاره مشخصې شوي دي، خو بیا هم د روغتیا نړۍوال سازمان له خوا دا ویروس د یوې ټول خپرېدونکې ناروغۍ ویروس گڼل شوی دی. که کورونا یو بیولوژیکي وسله نه هم وي، چین بیا هم د نړۍوالو روغتیایي اصولو له مخې د پر وخت او دقیقو معلوماتو نه خپرولو له امله مسوول گڼل کېدای شي. دا چې چین د ملگرو ملتونو سازمان د امنیت شورا د وېټو حق لرونکو هېوادونو څخه دی؛ نو محاکمه کول او پړ گڼل به یې ساده او اسانه نه وي.

**کلیدي کلمې:** بیولوژیکي جگړه، کېمیاوي جگړه، بیولوژیکي وسلې، کېمیاوي وسلې، کورونا ویروس، نړۍوال حقوق

## سریزه

جگړه د دوو متخاصمو لوریو له هغې ښکېلتیا څخه عبارت ده، چې یو بل ته زیان رسوي. دا ښکېلتیا شونې ده وسله واله وي، په دې معنی، چې په کې له اورنیو او نااورنیو وسلو څخه کار واخیستل شي یا هم شونې ده، چې له وسلو پرته تر سره شي.

بیولوژیکي او کېمیاوي جګړه د بیولوژیکي او کېمیاوي وسلو په ذریعه ترسره کېږي، چې په مصنوعي ډول په لابراتوارونو کې جوړېږي. د اوسني پرمختللي نړۍ زیاتره هېوادونه له خپل ټول پرمختګ سره سره د انسانانو د له منځه وړلو او ناروغولو په پار د بیولوژیکي او کېمیاوي وسلو لابراتورونه لري او په دې برخه کې متخصصین روزي او ګوماري. دا مقاله لوستونکیو سره مرسته کوي، چې بیولوژیکي او کېمیاوي جګړې وپېژني، په مخینه یې ځان اګاه کړي او دا چې په نړۍواله سطحه د بیولوژیکي او کېمیاوي جګړو د مخنیوي په پار حقوقي میکانېزمونه څه دي؟ پر دې سربېره مقاله د کورونا وایروس قضیې ته هم تم کېږي، چې آیا دغه ویروس د چین له خوا د یوې بیولوژیکي وسلې په توګه کارېدلی دی او کنه؟ د مقالې موندنې ښیي، چې کورونا ویروس کابو ټولې هغه ځانګړنې په ځان کې لري، چې د یوې بیولوژیکي وسلې لپاره ښودل کېږي، خو تر اوسه پورې دا نه ده ثابته شوې، چې چین دې دغه ویروس په ارادي ډول د یوې بیولوژیکي وسلې په توګه خپور کړی وي. خو بیا هم مقاله په پای کې د روغتیا نړۍوال سازمان او د نړۍوالو روغتیایي اصولو په رڼا کې پر هغو مسوولیتونو بحث کوي، چې د دې ویروس د خپرېدو له امله د چین دولت ته راجع دي.

د مقالې د لیکلو پر مهال د څېړنې له تشریحي میتود (Explanatory Method) څخه استفاده شوې ده او په عملیاتي لحاظ دا یوه کتابتوني څېړنه ده.

## د څېړنې اهمیت

بیولوژیکي او کېمیاوي جګړې که څه هم د شلمې پېړۍ په ترڅ کې زیاتې پېښې شوي دي، خو د ټیکنالوژۍ په پرمختګ او د ګلوبلایزیشن په غوړېدا سره د دې جګړو د پېښېدا امکان ورځ تر بلې زیاتېږي. په همدې خاطر دا جګړې په یوویشتمه پېړۍ کې د دولتونو د خپلمنځي اړیکو لپاره نسبتاً یوه نوې پدیده ده. له بلې خوا د تروریزم په څېر د دې جګړو قربانیان عام انسانان دي. نو په دې خاطر ځانګړی اهمیت لري، چې دغه جګړه وپېژنو او په تاریخي مخینې یې ځان اګاه کړو او د دې جګړو د مخنیوي نړۍوال حقوقي او سیاسي میکانېزمونه وپېژندل شي. د دې تر څنګ لکه څرنګه، چې په دې وروستیو کې د کورونا وایروس پر خپرېدا د توطیې د تیورۍ پلویان د یوې بیولوژیکي وسلې شک کوي، نو دا هم اړینه ده، چې معلومه شي، چې دا ویروس یوه بیولوژیکي وسله ده او کنه او د خپرېدو له امله یې چین ته کوم نړۍوال حقوقي مسوولیتونه راجع کېږي؟

## د څېړنې موخه

د دې څېړنې عمده هدف له بیولوژیکي او کېمیاوي جګړو، د دې جګړو له وسایلو سره د لوستونکو اشنایي ده. د دې تر څنګ لوستونکي به د دې جګړو پر مخینه پوه شي او په نړۍواله سطحه به هغه میکانېزمونه ورته روښانه شي، چې د دې جګړې د مخنیوي لپاره لا شته دي. پر دې سربېره به د کورونا ویروس د خپرېدو قضیه هم وڅېړل شي، چې آیا یو بیولوژیکي ویروس دی او کنه؟ او د دې ویروس د خپرېدو له امله چین ته کوم نړۍوال مسوولیتونه راجع کېدای شي؟

## د څېړنې پوښتنه

بیولوژیکي او کېمیاوي جګړه څه شی ده او په نړۍواله سطحه یې د مخنیوي لپاره کوم میکانېزم شته او که نه؟

**فرضیه**

بیولوژیکي جګړه د دولتونو ترمنځ د قدرت د یوې وسیلې په توګه کارېږي او د مخنیوي لپاره یې نړیوال میکانېزمونه کارنده نه دي.

## د څېړنې تګلاره

په دې څېړنه کې د څېړنې له کتابتوني تګلارې څخه کار اخیستل کېږي. د څېړنې نوعه تشریحي ده ځکه ده چې بیولوژیکي او کېمیاوي جګړه تشریح کوي، پر مخینې یې لنډه رڼا اچوي او پر هغو نړیوالو میکانېزمونو بحث کوي، چې د دې جګړو د مخنیوي لپاره په نړیواله سطحه شته دي.

## 1. بیولوژیکي و کېمیاوي جګړه څه شی دی؟

بیولوژیکي جګړه د انسان د بیولوژیکي زیانمنولو یا وژلو له هغې هڅې څخه عبارت ده، چې بیولوژیکي وسلې په کې کارېږي. بیولوژیکي وسلې د ډېرو کوچنیو موجوداتو لکه ویروس، باکتریاوې، فنجي او نورو زهري موادو څخه عبارت دي، چې په لابراتوارونو کې رامنځته کېږي او بیا په ارادي ډول د انسانانو، ژویو او حتا ونو-بوټو د ناروغولو او وژلو لپاره خپرېږي.74 په ورته توګه کېمیاوي جګړه هم د انسان د زیانمنولو او وژلو هڅه ده، چې په کې کېمیاوي وسلې کارېږي. کېمیاوي وسلې عبارت دي له: (الف) زهرجن کېمیاوي مواد او یا د دغو موادو جوړونکي مواد، البته له هغو موادو څخه په استثنی، چې د داسې موخو لپاره کارول کېږي، چې منعه شوي شوي نه وي؛ (ب) مهمات او اړونده وسایل یې، په ځانګړې توګه هغه مهمات، چې د خپلو زهري کېمیاوي موادو د زهري قابلیت له امله نورو ته د مړینې او زیان اړولو لپاره ډیزاین شوي وي او دغه زهري کېمیاوي مواد هغه مهال خوشې کېږي او خپرېږي، چې کله دغه مهمات یا یې وسایل وکارول شي؛ او (ج) ټولې هغه وسیلې، چې د پورته یادو شوو سلاحګانو د مستقیمې کارونې لپاره ډیزاین شوي وي.75

د بیولوژیکي جګړې یوه عمده وسیله بیولوژیکي استازي (Biological Agents) دي، لکه انتراکس (Anthrax)، بوتولینم زهري مواد (Botulinum Toxin)، او د طاعون ناروغۍ ویروس (Plague)، چې دا ټول د عامه روغتیا ګواښوونکي دي،76 داسې، چې له یوې خوا په کم وخت کې د زیات شمېر مړینو لامل کېدای شي او له بلې خوا یې کنټرول هم خورا ستونزمن دی.

د روغتیا نړیوال سازمان د بیالوژیکي او کېمیاوي وسلو پر وړاندې د عامه روغتیا غبرګون تر سرلیک لاندې خپل لارښود کتاب په ۲۰۰۴ز کال کې خپور کړی. د دې لارښود کتاب له مخې بیولوژیکي وسلې له هغو وسلو څخه عبارت دي، چې د ناروغۍ رامنځته کولو له لارې خپلې هغه موخې تر سره کوي د کوم لپاره، چې جوړې شوې وي. دا وسلې د مایکرو ارګانیزمونو او د نورو دغسې ذروي موجوداتو لکه ویروسونه، ککړونکي نوکلیک اسیدونو او زهرونو په رامنځته کولو کې مرسته کوي. دا وسلې د انسان، حیوان او نبات په مقابل کې کارېدای شي. همدارنګه په یاد لارښود کتاب کې کېمیاوي وسلې هم تعریف شوي دي، چې له هغو وسلو څخه عبارت دي، چې د ژوند پر عملیو د خپلو کېمیاوي فعالیت او زهري خاصیت له امله اغېز ښندي او د مړینې، دایمي

74 Gary D. Solis (2016). The Law of Armed Conflict: International Humanitarian Law in War, United States of America, Cambridge University Press, pp 770-771.

75 هماغه.

76 World Health Organization, (April 29, 2020), [https://www.who.int/].

معلولیت او لنډمهالي زیان باعث کېږي. کېمیاوي وسلې هم د بیولوژیکي هغو په څېر د انسان، حیوان و نبات په مقابل کې کارېدای شي.[78]

2. **د بیولوژیکي او کېمیاوي وسلو ځانګړنې**

**الف: د بیولوژیکي وسلو ځانګړنې**

بیولوژیکي وسلې لاندې ځانګړنې لري:

i. بیولوژیکي وسلې بل خپل کوربه محیط ته د ننوتلو، په کې د ژوند د زیاتېدا قابلیت لري، په دې معنی، چې یو ځل خپل کوربه محیط ته داخل شو، نو شمېر او اندازه یې زیاتېدای شي. کوربه محیط (انسان، حیوان او نبات) ته د ناروغۍ د اړولو لامل له کوربه محیط سره په ځو فکتورېزه تعاملاتو د رامنځته کولو د قابلیت له امله دی.

ii. بیولوژیکي وسلې د لنډمهالو و اوږدمهالو ناروغیو، معلولیتونو او مړینې سبب کېږي.

iii. بیولوژیکي وسلې زهري او یا هم له خپل کوربه محیط سره تعامل په نتیجه کې د زهري کولو خاصیت لري،

iv. بیولوژیکي وسلې د دې تر څنګ، چې د نورو د ناروغولو او یا هم وژلو لپاره کارېږي، د روغتیایي موخو لپاره هم کارېدای شي،

v. زیاتره بیولوژیکي وسلې په خپل کوربه محیط کې Incubation[79] دوره یا (هغه مرحله، چې هګۍ په بچي په کې بدلېږي) تېروي.

vi. بیولوژیکي وسلې مستقیماً د هوا له لارې او نامستقیماً د بل عامل له لارې انتقالېدای شي.

vii. بیولوژیکي وسلې شونې ده، چې د هوا، لمر، اوبو، تودخې او سړښت په مقابل کې اوږدمهالې مقاومت وکړي او ځان وساتي.[80]

بیولوژیکي وسلې بېلابېل ډولونه لري، چې مهم یې عبارت دي له: (الف) باکتریاوې، (ب) ویروسونه، (ج) ریکیتسی Rickettsiae (دا هغه مایکرو ارګانېزم دی، چې د ویروس او باکتریا دواړو خصوصیات لري)، (د) چلمودیا Chlamydia، (هـ) فنجي او (و) فنجي.[81]

**ب: د کېمیاوي وسلو ځانګړنې**

کېمیاوي وسلې لاندې ځانګړنې لري

i. لنډمهاله ناروغونه: کېمیاوي وسلې خپل کوربه محیط ته لنډمهاله ناروغي راوړي، دا ناروغي تر هغې دوام کوي تر څو، چې د کوربه په وجود کې دغه کېمیاوي وسلې له منځه نه وي تللې. شونې ده، چې د لنډمهال

---

[78] (2004), Public Health Response to Biological and Chemical Weapons - WHO Guidance, Bruno Duret, France, World Health Organization, p 5-6, available at [http://helid.digicollection.org/pdf/s8248e/s8248e.pdf].

[79] Incubation هغه مرحلې ته وايي چې په کې هګۍ په بچي بدلېږي.

[80] (2004), Public Health Response to Biological and Chemical Weapons - WHO Guidance, Bruno Duret, France, World Health Organization, p 42, available at [http://helid.digicollection.org/pdf/s8248e/s8248e.pdf].

[81] Federation of American Societies, (April 29, 2020), Handbook, [https://fas.org/nuke/guide/usa/doctrine/dod/fm8-9/2ch1.htm].

ناروغ په تېوله معنی بېرته د درملنې په صورت کې ښه شي. د بېلګې په توګه اوښلن ګازونه د لنډمهاله ناروغۍ کېمیاوي وسله ده.

ii. اوږدمهاله ناروغونه: د کېمیاوي وسلو بله ځانګړنه خپل کوربه ته اوږدمهاله ناروغي اړول دي. دا اوږدمهاله ناروغي شوني ده معلولیت وي او یا هم کوم بل ډول. له دې ډول ناروغۍ څخه هم ښه کېدل شوني دي، خو اسانه نه دي.

iii. مړینه: کېمیاوي وسلې د خپل کوربه د مړینې سبب هم کېږي، په دې معنی، چې له کوربه نه ژوند اخلي.

د کېمیاوي وسلو اثرات د هغو په اندازې او د متاثره شخص په روغتیايي وضعیت پورې هم اړه لري، د بېلګې په توګه اوښلن ګاز لنډمهاله ناروغوونکې کېمیاوي وسله ده، خو که چېرې په زیاته پیمانه په یوې محدوده سیمه کې په یو شخص باندې وکارول شي، نو د مرګ سبب یې هم کېدای شي. یا هم عصبي وسلې Nerve Agents په عام ډول مرګوني وسلې دي، خو که چېرې په لږه اندازه په لږ وخت کې چا ته ورسېږي، نو شوني ده، چې د اوږدمهالي ناروغۍ باعث شي. د کېمیاوي وسلو اغېز په ژغورونکو تدابیرو پورې هم اړه لري، که چېرې ژغورونکي تدابیر محکم وي، نو د کېمیاوي وسلو اغېز به ډېر او مرګونی نه وي خو که ژغورونکي تدابیر کمزوري وي، نو بیا د عادي کېمیاوي وسلو اغېز هم مرګونی کېږي.

پر دې سربېره کېمیاوي وسلې د کوربه وجود ته د داخلېدو د لارو له امله هم کټګوري کولای شو. ځینې کېمیاوي وسلې د تنفس له لارې د کوربه وجود ته داخلېږي او سږو ته ځان رسوي، ځینې نورې بیا د پوستکي له لارې د کوربه وجود ته داخلېږي. همدارنګه ځینې کېمیاوي وسلې د اوږدې مودې لپاره (تر څو اوونیو پورې) د کوربه په بدن کې پاتې کېږي، چې دا ډول وسلې Persistent Agents ګڼل کېږي. د دې په مقابل کې Non-persistent Agents دي، چې د اوږدې مودې لپاره د کوربه په بدن کې نه پاتې کېږي او د لږ وخت په تېرېدو سره له منځه ځي.[82]

### 3. د بیولوژیکي و کېمیاوي وسلو د کارونې مخینه

د انساني روغتیا او انساني ژوند پر خلاف د انسانانو له خوا د بیولوژیکي و کېمیاوي وسلو کارونه کابو زرو کلونو پخوا ته رسېږي. د بېلګې په توګه په ۱۱۵۵ز کال کې باربروسه امپراتور د ایټالیا په تورټونا سیمه کې د اوبو تېولو ځاګانو کې زهر وشیندل.[83] خو په معاصر تاریخ کې د لومړۍ و دویمې نړېوالو جګړو پر مهال د بیولوژیکي و کېمیاوي وسلو کارونه د دغو جګړو مهمه برخه جوړوله. جرمني، جاپان، چین، شوروي اتحاد (اوسنی روسیې) او د امریکا متحد ایالاتونه هغه هېوادونه دي، چې د بیولوژیکي وسلو جوړولو ستر لابراتوارونه لري او یو د بل په مقابل کې یې له دې وسلو څخه کار اخیستی دی.[84]

د لومړۍ نړېوالې جګړې پر مهال د لومړي ځل لپاره جرمني ځواکونو بیولوژیکي او کېمیاوي وسلې وکارولې، که څه هم د دې ځواکونو دغه حملې په لویه پیمانه او بریالۍ نه وې، خو بیا هم دوی له انتراکس (Anthrax) او ګلنډرز (Glanders) نه کار واخیست، چې د خپلو رقیبو هېوادونو څاروي یا د څارویو خوراک

---

[82] (2004), Public Health Response to Biological and Chemical Weapons - WHO Guidance, Bruno Duret, France, World Health Organization, p 44, available at [http://helid.digicollection.org/pdf/s8248e/s8248e.pdf].
[83] Friedrich Frishknecht (June 2003 Special Issue). The History of Biological Warfare, Science and Society, pp 47-48, available at [https://www.ncbi.nlm.nih.gov/pmc/articles/PMC1326439/].
[84] هماغه.

میکروبي کړي.[85] په شمالي امریکا کې د لومړي ځل لپاره د Sir Frederick Banting په نوم یو شخص، چې وروسته یې د انسولین Insulin په کشفولو سره د نوبل نړیواله جایزه هم تر لاسه کړه، په ۱۹۴۰ز کال کې د بیولوژیکي وسلو د څېړنو پروګرام پیل کړ. وروسته متحده ایالاتو د خپلو متحدو برېتانیا و فرانسې په هڅونه د جرمني له بیولوژیکي یرغلونو څخه د ژغورنې په پار د بیولوژیکي وسلو څېړنې پیل کړې. د متفقو هېوادونو په مقابل کې متحد هېوادونه هم ارام نه و ناست. د دوی له جملې څخه جاپان هغه هېواد و، چې د دویمې نړیوالې جګړې په جریان کې یې د بیولوژیکي وسلو د جوړولو پراخه پروګرامونه پیل کړي وو او بالاخره یې دا ټولې وسلې د دوی له خوا د چین د اشغال پر مهال وکارولې. جاپانیانو همدا ډول په نیویارک کې د Rockefeller Institute څخه د ژېړې تبې ویروسونه په قانوني ډول تر لاسه کړل.[86]

پر دې سربېره د دویمې نړیوالې جګړې پر مهال جاپانیانو د Tokyo Army Medical School له لارې پینځه ویشت ډوله ناروغوونکي بیولوژیکي استازي په بندیانو باندې ټیسټ کړي وو. هماغه و، چې د جګړې په جریان کې جاپاني ځواکونو د چین په کلیو کې له زرو څخه زیات د اوبو څاه ګانې زهري کړې، چې د کولیرا او ټایپوس ناروغیو د خپرېدا عملي کتنه وکړي. همدارنګه جاپاني الوتکو د طاعون په میکروب لړلې پانې (Plague-infested fleas) په چینایي ښارونو او د سرک پر غاړه د وریژو په کروندو وشیندلې، چې له امله یې له ۳۰۰۰۰ څخه زیات کسان مړه شول او تر کلونو کلونو په هغو سیمو کې د ناروغیو اثارات پاتې وو.[87] په متحده ایالاتو کې د ویرجینیا او سن فرانسیسکو په ساحلونو کې په ازمایښتي ډول د لومړي ځل لپاره له یوې بحري بېړۍ څخه ځینې باکتریاوې خوشې شوې، چې د لکونو خلکو روغتیا یې وګواښله. یوازې په ساحلي سیمو کې یې تر اته لکو کسانو ناروغه کړل. سربېره پر دې تر ټولو پټه او نااعلان شوې ازموینه په ۱۹۶۶ز کال کې د نیویارک د ښار په میټرو سیستم باندې وشوه چ په کې Bacillus Globigii د انتراکس د خپرېدو د مخنیوي په پار و ازمایل شو.[88]

شوروي اتحاد هم د Biopreparat په نوم د بیولوژیکي وسلو د جوړولو لپاره یو ستر لابراتوار پرانیستی و، چې تر پنځوس زره کسانو پورې په کې کار کاوه. په دې لابراتور کې په ټنونو انتراکس او سمال پاکس ویروسونه جوړېدل. دا ویروسونه به یې په نړیوالو بالستیکي میزایلو کې هم کارول. د دې تر څنګ یې د Haemorrhagic تبې پر ویروس هم کار کوه، چې یو انسان وژونکې ناروغي ده. په ۱۹۷۱ز کال کې د لومړي ځل لپاره د Aralsk په Kazakh ښار کې کې سمال پاکس خوشې شو، چې پرې له ککړو هر لسو کسانو څخه درې یې ووژل. داسې ویل کېدل، چې دغه کسان د بیولوژیکي وسلو د یو څېړنیز مرکز نه، چې د Aral بحر په یوې جزیره کې واقع و، ککړ شوي دي. په همدې سیمه کې، په یوې بله پېښه کې، ګڼ ماهیګران او یو څېړونکی له Plague او Glanders نه ووژل شول.[89]

---

[85] هماغه.
[86] هماغه.
[87] هماغه.
[88] هماغه.
[89] Friedrich Frishknecht (June 2003 Special Issue). The History of Biological Warfare, Science and Society, pp 47-48, available at [https://www.ncbi.nlm.nih.gov/pmc/articles/PMC1326439/].

**4. هغه نړۍوال حقوقي اسناد، چې د بیولوژیکي او کېمیاوي وسلو کارونې ممانعت کوي**

په انساني جګړو کې د کېمیاوي او بیولوژیکي وسلو د کارونې د مخنیوي په پار له ډېرې پخوا زمانې راهیسې هڅې شوي دي. په ۱٦٧٥ز کال کې په سټرسبرګ کې د فرانسې-جرمني Franco-German ترمنځ په یو تړون کې یو د بل په مقابل کې د زهري مرمیو کارول منعه کړای شوي وو. د Lieber د ۱۸٦٣ز کال د قانون ۱٦مه ماده په دې ډول وه: ((په هېڅ لحاظ نظامي اړتیا Military Necessity دا نه مني، چې زهر دې وکارول شي.)) پر دې سربېره په ۱۹۰۱ز کال کې د هاګ د سولې کنفرانس په ترخ کې د Asphyxiating ګازونو[90] د نه کارونې په اړه اعلامیه تصویب کړه. په دغه اعلامیه کې راغلي و، چې ((د تړون لوري قدرتونه موافق دي، چې هغه سرګولولې (Projectiles) به نه کاروي، چې موخه یې یوازې او یوازې د Asphyxiating او زیانمنوونکي ګازونو لېږد وي. د ۱۹۰۷ز کال د هاګ د څلورمې اعلامیې د ۲۳مې مادې له مخې (الف) د زهرو او زهري وسلو کارونه په ځانګړې توګه منعه شوې ده. خو په ۱۹۱۴ز کال کې د لومړۍ نړۍوالې جګړې په پیښېدو سره په جګړه کې ښکېلو لوریو یو د بل په مقابل کې په زیاته پیمانه زهري کېمیاوي او بیولوژیکي وسلې وکارولې، چې د میلیونونو انسانانو د مرګ او معلولیت لامل شوې. د بېلګې په توګه د ۱۹۱۴ز کال د اپریل په ۲۲مه نېټه د یپریس Ypres په دویمه نښته کې له شپږ زرو زیات فرانسوي او د الجیریا سرتېرو د مرګوني ګاز له امله لومړی ړانده شول او بیا یې خپل ژوند له لاسه ورکړ. د جګړې په پای کې له دواړو لوریو څخه نهه ویشت بېلابېل ډوله مرګوني ګازونه یو د بل په مقابل کې کارېدلي وو، چې کابو له یو میلیون څخه زیاتو انسانانو ته یې مرګ –ژوبله اړولې وه.[91]

**الف: د ۱۹۲۵ز کال د جینوا د زهري ګازونو د منعې پروتوکول:** له لومړۍ نړۍوالې جګړې وروسته تر ټولو لومړنی نړۍوال حقوقي سند، چې په جګړو کې یې زهري ګازونه کارول منعه کړي دي، د ۱۹۲۵ز کال د جینوا پروتوکول دی. دغه پروتوکول، چې د ملتونو ټولنې له خوا رامنځته شو په جګړه کې د زهري او نورو ګازونو د کارونې او د جګړې د باکتریالوجیکي طریقې د منعې پروتوکول په نوم یادېږي.[92] که څه هم دا یو مخیز پروتوکول پر مادو نه دی وېشل شوی او په حقیقت کې د یوې اعلامیې (Declaration) بڼه لري، خو بیا هم په ډېرو واضحو الفاظو یې د Asphyxiating، زهري او نور ګازونه، زهري ګازونو ته ورته مایعات، مواد او وسایل غندلي او په جګړه کې یې ترې کار اخیستل منعه کړي دي او دا منعه یې د نړۍوالو حقوقو د یوې برخې په توګه منلې ده. د دې تر څنګ یې د جګړې له باکتریالوجیکي میتودونو څخه کار اخیستل هم منعه کړي دي.[93]

که څه هم یاد پروتوکل په جګړه کې د کېمیاوي او بیولوژیکي وسایلو د منعې لومړنی حقوقي هڅه وه، خو بیا هم دغه پروتوکول هېوادونه د کېمیاوي او بیولوژیکي وسلو له تر لاسه کولو، جوړولو، تولیدولو او ساتلو څخه نه منعه کول او ټول فوکس یې د یادو وسله پر نه کارولو و.[94] د دې تر څنګ یې د زهري ګازونو، زهري مایعاتو

---

[90] Asphyxiant Gases یو ډول نازهري او لږ زهري ګازونه دي چې په هوا کې د اکسیجن د کمولو باعث کېږي چې انسانانو ته د تنفس ستونزې پیدا کوي او بالاخره د انسانانو د مرګ باعث کېږي.

[91] Gary D. Solis (2016). The Law of Armed Conflict: International Humanitarian Law in War, United States of America, Cambridge University Press, p 757.

[92] Protocol for the Prohibition of the Use in War of Asphyxiating, Poisonous or Other Gases, and of Bacteriological Methods of Warfare, available at [https://unoda-web.s3-accelerate.amazonaws.com/wp-content/uploads/assets/WMD/Bio/pdf/Status_Protocol.pdf].

[93] هماغه.

[94] Gary D. Solis (2016). The Law of Armed Conflict: International Humanitarian Law in War, United States of America, Cambridge University Press, p 759.

او زهري موادو روښانه تعریفونه هم نه درلودل او نه یې هم د جګړې بیولوژیکي میتودونه تعریف کړي وو.[95] پر دې سربېره پروتوکول د یادو موادو د کاروني په اړه د پلټنې کوم میکانېزم باندې هم بحث نه دی کړی.[96] په همدې خاطر د دویمې نړۍوالي جګړې پر مهال او له هغې وروسته په یاد پروتوکول کې یاد شوي ممنوعه کېمیاوي او بیالوژیکي وسلې په زیاته پیمانه وکارېدې. نن ورځ یاد پروتوکول ۱۳۷دولتونو منلی دی او د نړۍوالو دودیزو حقوقو د یو معتبر سند په توګه په بین المللي او نابین المللي جګړو کې د زهري ګازونو او د جګړې له بیولوژیکي میتودونو څخه د نه کاروني په اړه پرې استناد کېږي.[97]

**ب: د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلې د ۱۹۶۹ز کال د ډیسمبر د ۱۶مې نېټې A۲۶۰۳ ګڼه پرېکړهلیک:**

د ۱۹۶۹ز کال د ډیسمبر په ۱۶مه نېټه د ملګرو ملتونو سازمان عمومي اسامبلې ۲۴مې غونډې ته د کېمیاوي او باکتریالوجیکي (بیولوژیکي) وسلو د کاروني پوښتنه وړاندې شوه، چې په اړه یې ځانګړی (**A۲۶۰۳ ګڼه** پرېکړه لیک صادر کړ. په دې پرېکړه لیک کې راغلي، چې د ملګرو ملتونو عمومي اسامبله د ۱۹۲۵ز کال په جګړه کې د زهري او نورو ګازونو د کاروني او د جګړې د باکتریالوجیکي طریقې د منعې پروتوکل د یو معتبر سند په توګه مني او د هماغه پر استناد د جګړو کېمیاوي او بیولوژیکي طریقې (Methods) غندي، خطرناکې یې ګڼي او دا ځکه، چې د جګړو دا طریقې د دایمي زیان (Inherently Reprehensible) باعث کېږي. او له دې امله هم د جګړو دا طریقې منعه کوي، چې د کېمیاوي او بیولوژیکي وسلو څخه راپیدا کېدونکي اثرات د کنټرول او وړاندوینې وړ نه دي او شونې ده، چې په جنګیالیو او ناجنګیالیو دواړو کې زیانمنوونکي اثرات پرېږدي او یا یې هم د مړینې باعث شي.[98]

پرېکړهلیک پر غړیو هېوادونو غږ کوي، چې په یاد پروتوکول کې د منعه شویو مواد او د جګړو طریقې ونه کاروي. مصوبه د ملګرو ملتونو د عمومي سرمنشي هغه ځانګړي ریپورټ[99] ته په اشارې سره، چې د همدې کال په اګست کې خپور شوی، وایي، چې په نړۍوالو او نانړۍوالو جګړو کې د کېمیاوي او بیالوژیکي وسلو کارونه او یا هم د جګړو له دې طریقو څخه استفاده په ریپورټ کې راغلو ممکنو منفي تاثیراتو ته په پام سره په حال و

---

[95] د ملګرو ملتونو سازمان د عمومي اسامبلې A۲۶۰۳ ګڼه مصوبې (Resolution) چې د ۱۹۶۹ز کال د ډسمبر په ۱۶مه نېټه یې صادره کړې ده، په خپله څلورویشتمه ماده (XXIV) کې یې یاد مواد په لاندې ډول تعریف کړي دي: (الف) د جګړې هر ډول کیمیاوي استازي (agents) چې عبارت دي له: کیمیاوي مواد هغه که ګازي وي، مایع وي او جامد وي، چې شونې ده پر انسان، څارویو او نباتاتو د مستقیمو زهري اغېزو په پار وکارول شي. (ب) د جګړې هر ډول بیولوژیکي استازي (Agents) چې عبارت دي له: ژوندي موجودات چې طبیعیت یې هر ډول وي، یا هغه ککړونکي (Infective) مواد چې له دغو ژوندیو موجوداتو څخه تر لاسه شوي وي په دې نیت کارول چې په انسان، څارویو او نباتاتو کې د ناروغیو او مړینې باعث شي او یا هم د دې توانایي ولري چې کله شخص، څاروي او نباتات تر حملې لاندې نیسي نو د شمېر په لحاظ څو چنده کېږي. وګورئ (http://www.worldlii.org/int/other/UNGA/1969/100.pdf).

[96] Protocol for the Prohibition of the Use in War of Asphyxiating, Poisonous or Other Gases, and of Bacteriological Methods of Warfare, available at [https://unoda-web.s3-accelerate.amazonaws.com/wp-content/uploads/assets/WMD/Bio/pdf/Status_Protocol.pdf].

[97] Gary D. Solis (2016). The Law of Armed Conflict: International Humanitarian Law in War, United States of America, Cambridge University Press, p 759 and p 763.

[98] Protocol for the Prohibition of the Use in War of Asphyxiating, Poisonous or Other Gases, and of Bacteriological Methods of Warfare, available at [https://unoda-web.s3-accelerate.amazonaws.com/wp-content/uploads/assets/WMD/Bio/pdf/Status_Protocol.pdf].

[99] د ۱۹۶۹ز کال په اګست میاشت کې د ملګرو ملتونو سازمان عمومي سرمنشي د کیمیاوي او باکتریالوجیکي وسلې او د هغوی د ممکنه کاروني اغېزې ( Chemical and bacteriological (biological) weapons and the effects of their possible use : report of the Secretary-General) تر سرلیک لاندې خپل یو مفصل راپور خپور کړ چې د یادو موادو د کاروني ممکنه اغېزې یې پر انسانانو، نباتاتو، حیواناتو، ټولنې، چاپېریال، اتوموسفیر او حتا د نړۍ پر اقتصاد و امنیت بحث کړې وي. د یاد راپور لپاره وګورئ: (https://digitallibrary.un.org/record/577282?ln=en).

راتلونکي کې ممنوع اعلاموي.[100] پر دې سربېره، یاده مصوبه کېمیاوي او بیولوژیکي استازي (Agents) تعریفوي[101] هم، چې اطلاق یې په کومو موادو کېږي.

**ج: د ملګرو ملتونو سازمان د ۱۹۷۲ز کال د باکتریولوژیکي (بیولوژیکي) او زهري وسلو پراختیا، جوړونې او ساتنې د منعې او د دې وسلو د له منځه وړلو په اړه کنوانسیون:** د ملګرو ملتونو د سرمنشي د ۱۹۶۹ز کال د راپور له خپرېدا وروسته په ملګرو ملتونو کې د عامه تخریب د وسلو د پراختیا، جوړونې، تر لاسه کونې یا نورو ته لېږدونې او ساتنې د منعې په اړه د یو حقوقي میکانېزم فکر پیدا او په چټکۍ سره خپور شو. د دې فکر عمده برخه د کېمیاوي او بیولوژیکي وسلو پر خوا راڅرخېده. د دې تر څنګ په همدې وخت کې متحده ایالاتو په یو اړخیزه توګه اعلان کړه، چې نه یوازې خپلې بیولوژیکي وسلې به له منځه یوسي، بلکې هغه زېرمې به هم له منځه یوسي، چې دغه وسلې په کې ساتل کېږي. دا دوه هغه هڅوونکي عوامل وو، چې د ملګرو ملتونو سازمان یې (د باکتریولوجیکي (بیولوژیکي) او زهري وسلو پراختیا، جوړونې او ساتنې د منعې او د دې وسلو د له منځه وړلو په اړه کنوانسیون) رامنځته کولو ته وهڅوو.[102]

د ۱۹۷۲ز کال کنوانسیون هم د جینوا د ۱۹۲۵ز کال پروتوکول په تایید سره د مایکروبیالوژیکي یا نورو بیولوژیکي او زهري استازو (Agents) پراختیا، جوړول، ساتل او تر لاسه کول منعه کړل او هم یې د دې استازو د لېږدونې پر سیستمونو (Delivery Systems) پابندي ولګوله. که څه هم دې کنوانسیون هم د جینوا د ۱۹۲۵ز کال د پروتوکول په څېر بیولوژیکي استازي نه دي تعریف کړي[103]، خو ټول طبیعي او مصنوعي جوړ شوي استازي په بر کې نیسي. د کنوانسیون دویمه ماده کېمیاوي وسلې داسې تعریفوي: کېمیاوي وسلې عبارت له هغو وسلو څخه دي، چې زهري وي. په دې معنی، چې کېمیاوي عملیه یې په ژوندي موجود (انسان یا حیوان) کې د مرګ یا هم لنډمهالي او اوږدمهالي زیان باعث کېږي.[104] د کنوانسیون درېیمه ماده غړیو دولتونو ته نهه میاشتې وخت ورکوي، چې ټول بیولوژیکي استازي، زهري مواد، سلاحګانې، وسایل او د دې ټولو د انتقال وسایل، چې په واک کې یې لري او یا یې هم تر کنټرول لاندې او د صلاحیت په محدوده کې دي، له منځه یوسي او یا یې هم د سوله ییزو موخو لپاره بڼه وربدله کړي.[105]

کنوانسیون ټول بیولوژیکي استازي نه منعه کوي، بلکې هغه، چې د روغتیایي او نورو سوله ییزو موخو لپاره تولیدېږي، ذخیره کېږي او یا هم نورو ته انتقالېږي د دې کنوانسیون د ممنوعیت له محدودې بهر دي. خو بیا هم

---

[100] Protocol for the Prohibition of the Use in War of Asphyxiating, Poisonous or Other Gases, and of Bacteriological Methods of Warfare, available at [https://unoda-web.s3-accelerate.amazonaws.com/wp-content/uploads/assets/WMD/Bio/pdf/Status_Protocol.pdf].

[101] پورته یاد شوي ۱۲مه ګڼه لمنلیک ته دې مراجعه وشي.

[102] Gary D. Solis (2016). The Law of Armed Conflict: International Humanitarian Law in War, United States of America, Cambridge University Press, pp 764-65.

[103] په ۱۹۷۰ز کال کې د روغتیا نړیوال سازمان د سلاکارانو یو ګروپ ((د کیمیاوي او بیولوژیکي وسلو روغتیایي اړخونه)) تر سرلیک لاندې خپل راپور خپور کړ. په دې راپور کې بیولوژیکي او کیمیاوي استازي (Agents) په دې ډول تعریف شوي دي: (الف) بیولوژیکي استازو کې ټول هغه ارګانیزمونه راځي د بل ژوندي موجود یا ارګانېزم په وجود کې د خو ګونې کېدا پر اغېز باندې تکیه وي، او په ارادي ډول په جګړه کې د دې لپاره کارېږي چې انسان، حیوان او یا هم نبات ته ناروغي یا مړینه راوړي. (ب) زهري مواد د ارګانیزمونو هغه مسموموونکي تولیدات دي چې د بیولوژیکي استازو پر خلاف دوی د دې توانایي نه لري چې خپل ځان څوګونی کړي. وګورئ ()

[104] Gary D. Solis (2016). The Law of Armed Conflict: International Humanitarian Law in War, United States of America, Cambridge University Press, p 759 and, p 765.

[105] Convention on the Prohibition of the Development, Production and Stockpiling of Bateriological (Biological) and Toxin Weapons and on Their Destruction, 1972, article III, available at [https://treaties.un.org/doc/Publication/UNTS/Volume%201015/volume-1015-I-14860-English.pdf].

کنوانسیون د روغتیایي او نورو سوله ییزو موخو لپاره د بیولوژیکي استازو تولید او ... لپاره کوم معلوم حد و اندازه نه ده ټاکلې او نه یې هم ځانګړی میکانېزم ورته ټاکلی دی.[106] په همدې خاطر زیاتره هېوادونه په ظاهره د روغتیایي موخو لپاره بیولوژیکي استازي جوړوي او ذخیره کوي یې، خو حالاتو ته په کتو ترې سیاسي او اقتصادي استفادې هم کوي. خو د کنوانسیون پینځمه ماده دولتونه مکلفوي، چې که چېرې د بیولوژیکي استازو جوړول او ذخیره کول د روغتیایي او نورو سوله ییزو موخو لپاره وي، نو دولتونه اړ دي، چې د کارونې لپاره یې له یو بل سره د وسایلو، موادو او ساینسي او ټیکنالوژیکي معلوماتو تبادله وکړي.[107]

که څه هم نسبت د ۱۹۲۵ز کال د جینوا پروتوکول ته دا کنوانسیون جامع ترتیب شوی دی او ټول ساینسي او ټیکنالوژیکي اړخونه یې رااخیستي دي،[108] خو بیا هم د هغه پروتوکول په څېر په کې د تطبیق میکانېزم نه دی واضحه شوی. که څه هم درېیمه ماده یې دولتونه منعه کوي، چې نورو دولتونو ته به د بیولوژیکي استازو په لېږد کې مرسته نه کوي، خو څلورمه ماده یې دولتونه مکلفوي، چې که هر دولت معلومات تر لاسه کړل، چې بل دولت د کنوانسیون احکام ماتوي، نو کنوانسیون به د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ته لیکلې شکایت سپاري او دا شکایت باید له ځان سره ټول ممکنه شواهد هم ولري. همدارنګه په شکایت کې به د امنیت شورا څخه غوښتل شوي وي، چې موضوع ته رسیده ګي وکړي. یوازې په دې سره د کنوانسیون پلي کېدل نه شي تضمینېدای، ځکه د اوسني نړۍ سیاسي و اقتصادي واقعیتونو ته په پام سره هر دولت د دې توانایي نه لري، چې د خپل حریف بل دولت د سرغړونو په اړه شواهد پیدا کړي، له بلې خوا د ملګرو ملتونو سازمان منشور امنیت شورا ته دا اجازه نه ورکوي، چې د وسلو د کنټرول تړونونو په رڼا کې پلټنې تر سره کړي.[109]

**د: د ۱۹۹۳ز کال د کېمیاوي وسلو د پراختیا، تولید، ساتنې او کارونې په اړه کنوانسیون:** که څه هم د کېمیاوي ګازونو او زهري وسلو په اړه په خواره واره ډول د ۱۸۹۹او ۱۹۰۷ز کلونو د هاګ د سولې کنفرانسونو کې هم یادونه شوې وه، او بیا د ۱۹۲۵ز کال د جینوا پروتوکول په دې اړه ځانګړي مواد لري، خو له ۱۹۷۱ز کال راهیسې نړیوالې ټولنې پر کېمیاوي او بیولوژیکي وسلو محدودیت ته ځانګړې پاملرنه کړې وه، چې په پایله کې یې په ۱۹۷۲ز کال کې د بیولوژیکي وسلو کنوانسیون رامنځته کړ او په ۱۹۹۳ز کال کې یې د کېمیاوي وسلو د منعې کنوانسیون.[110] د کېمیاوي وسلو د منعې کنوانسیون ټولې څلورویشت مادې او درې ضمیمې لري، چې د کېمیاوي جګړې اړوند ټول اړخونه لکه کېمیاوي استازي، د کېمیاوي استازو خپرول، تشخیص او په دې اړه د محرمو معلوماتو ساتلو په اړه مواد لري. دغه تړون په هر حالت کې غړي هېوادونه د کېمیاوي وسلو له کارونې، پراختیا، تولید، تر لاسه کولو، ساتلو او نورو ته لېږدولو څخه منعه کوي. همدارنګه غړي هېوادونه به نور هېوادونه هم د پورته اقداماتو لپاره نه هڅوي او ټولې هغه کېمیاوي وسلې به له منځه وړي، چې تر لاسه کړي یې دي او یا یې هم لري. د دې تړون له مخې په ارادي ډول د کېمیاوي وسلو کارونه هم منعه شوې ده.[111]

---

[106] Gary D. Solis (2016). The Law of Armed Conflict: International Humanitarian Law in War, United States of America, Cambridge University Press, p 559 and, p 766.

[107] هماغه.

[108] هماغه، ۷۶۸مخ.

[109] هماغه.

[110] هماغه، ۷۶۹مخ.

[111] Gary D. Solis (2016). The Law of Armed Conflict: International Humanitarian Law in War, United States of America, Cambridge University Press, p 559 and, p770.

د پخوانیو حقوقي اسنادو پر خلاف، دې کنوانسیون په خپله دویمه ماده کې کېمیاوي وسلې په ډېر واضح ډول تعریف کړې دي، لکه وايي: (الف) زهري کېمیاوي مواد او یا هغه مواد، چې دغه زهري کېمیاوي مواد ترې جوړېږي، البته د هغو موادو په استثنی، چې د داسې موخو لپاره جوړېږي، چې په دې کنوانسیون کې یې جوړول نه دي منعه شوي؛ (ب) مرمۍ او اړونده وسایل یې، په ځانګړې توګه هغه مرمۍ یا وسایل، چې داسې دیزاین شوي وي، چې د زهري کېمیاوي موادو له امله نورو ته مړینه یا زیان ورسوي، چې دغه مردکي او نور مواد به یې د کارونې وروسته خپرېږي؛ (ج) د پورته یادو شوو موخو لپاره د مرمیو د استعمال لپاره نور ټول هغه وسایل، چې ورته جوړ شوي وي.[112]

پرته دې سربېره د کنوانسیون درېیمه ماده غړي دولتونه په ځینو اعلامولو هم مکلفوي، لکه باید اعلام کړي، چې دوی کېمیاوي وسلې لري او کنه؟ که لري یې نو موقعیت یې چېرته دی؟ او د دغو وسلو د کمیت په اړه هم معلومات باید خپاره کړي او دا هم باید اعلام کړي، چې څومره کېمیاوي وسلې یې له ۱۹۴۶ز کال راهیسې تر لاسه کړې دي یا یې هم نورو ته ورکړې دي او دغه وسلې به هم مشخصوي. که کوم دولت د کېمیاوي وسلو د تولید اسانتیاوې لري هم باید په ورته ډول یې اعلام کړي او د دې وسلو د له منځه وړلو او یا هم د ناوسلوالو موخو لپاره کارونې ته اړونې په اړه یې هم باید معلومات خپاره کړي. سربېره پر دې غړي دولتونو منلې ده، چې د هغوی زېرمه شوې او یا هم له منځه وړل شوې وسلې باید د سیستماټیک Verification تابع اوسي. او دا Verification به ساحوي تفتیش او څارنې له لارې صورت نیسي او کلنۍ اعلامول به هم د له منځه وړلو له پلان سره سم صورت نیسي.[113]

د کېمیاوي وسلو تفتیش او څارنه په عمل کې دغه کنوانسیون له ستونزو سره مخ کوي، څکه له یوې خوا کنوانسیون دولتونه مکلفوي، چې کېمیاوي وسلې به نه جوړوي او نه به یې کاروي، له بلې خوا یې څلورمه ماده د نورو موخو لپاره جوړونې ته په استثنايي ډول اجازه ورکوي، نو په دې خاطر یو دولت کولای شي، چې خپل د کېمیاوي وسلو جوړول او زېرمه کول د نورو روغتیایي موخو لپاره توجیه کړي. کټ مټ لکه د یورانیمو د غني کېدا په برخه کې، چې دولتونه بېلابېل استدلال کوي، چې د انرژۍ لپاره یې زېرمه کوي. همدارنګه ډېر داسې کېمیاوي مواد شته، چې هم د روغتیایي موخو لپاره کارېدای شي او هم د کېمیاوي وسلو په توګه ترې کار اخیستل کېدای شي، د بېلګې په توګه Cyanide او Phosgene هغه کېمیاوي مواد دي، چې د دواړو موخو لپاره کارېدای شي. همدارنګه ملتین او پاراتین هم د کرنیزو موخو لپاره کارېدای شي او هم د کېمیاوي وسلو په توګه.[114]

د کنوانسیون اتمه ماده د کېمیاوي وسلو د مخنیوي لپاره د یوې اداري جوړېدل هم ذکر کړې دي. د دې ادارې مرکزي دفتر په هاګ کې دی او د غړیو هېوادونو له یو څلوېښت استازو څخه یې شورا جوړه ده. شورا په کال کې یو ځل ناسته کوي، چې د Verification په اړوند ستونزې واوري او د تفتیش پلان باندې بحث وکړي. د مالي محدودیت له امله د شورا ناستې ځنډېدلې دي، څکه متحده ایالاتو له څو کلونو راهیسې د دې شورا لګښتونه نه دي ورکړي.[115]

---

112 هماغه.
113 هماغه، ۷۷۱مخ.
114 هماغه.
115 هماغه، ۷۷۲مخ.

## .5 آیا کوید-۱۹ یوه بیولوژیکي وسله ده؟

تر اوسه (د اپرېل شپږویشتمه) پورې کابو د نړۍ ټولو دولتونو او همدارنګه د نړۍوال روغتیایي سازمان له خوا کوید۱۹- ویروس یوه عامه خپرېدونکې ویروسي ناروغي (Pandemic Epidemic Disease) ګڼل شوې ده.[116] تر دې دمخه د متحده ایالاتو د ولسمشر ډونالډ ټرمپ له خوا په ټویټر او خبري کنفرانسونو کې دغه ویروس د (چینايي ویروس) په نوم یاد شوی و[117]، همدارنګه د دغه هېواد د بهرنیو چارو وزیر مایک پمپیو هم دغه ویروس ته د (ووهان ویروس) نوم ورکړی.[118] که څه هم د روغتیا نړۍوال سازمان د کوید۱۹- ناروغی په اړه د دغسې تبعیض امیزه څرګندونو ممانعت کړی دی.[119] خو له دې څخه معلومېږي، چې امریکا چین ته د دغه ویروس د خپرېدو له امله په زړه کې څه لري. د اپرېل په څلورویشتمه نېټه د متحده ایالاتو جمهور رئیس او د دفاع وزارت خبر ورکړ، چې دوی به هغه څېړنې تر سره کړي، چې معلومه کړي دا ویروس د متحده ایالاتو د دښمنانو له خوا د دې هېواد پر وړاندې یوه بیولوژیکي وسله ده او که نه.[120] د متحده ایالاتو د استخباراتو ادارې ګڼ شمېر اسناد موندلي، چې دا ویروس د چین د ووهان په یو دولتي لابراتور کې جوړ شوی او له هغه ځایه خپور شوی دی.[121] له دې دمخه د مارچ پر ۱۲مه نېټه د چین د بهرنیو چارو وزارت ویاند لیژن ژاوو (Lijian Zhao) وویل، چې ((ښايي د امریکا متحده ایالاتو دغه ویروس ووهان ته راوړی وی.))[122] ژاوو همدارنګه د ګلوبل ریسرچ پو یو راپور حواله ورکړې وه، چې هغوی دغه څېړنیز مرکز نوې موندنې خپرې کړي دي، چې دا ویروس په امریکا کې جوړ شوی دی،[123] خو ګلوبل ریسرچ وروسته له خپلې پاڼې څخه دغه راپور لرې کړ.[124] خو تر اوسه پورې دا ټولې ادعاګانې د توطیې د تیورۍ له مخې یوازې توطیې ګڼل کېږي او هېڅ لوري هم داسې کره شواهد نه دي خپاره کړي، چې مقابل لوری يې مسوول وګڼل شي.

